کابل بالاحصار پر ۱۸۸۱ء کی

Copy 2
C 24 47
۱۹۳

(۱۷ کال)　　حمل ۱۳۲۶　　(۱) کڼه

کابل

ادبی، اجتماعی، تاریخی

میاشتنۍ مصور مجله

مهتمم : یار محمد « نظامی » د صحافت مدیر

پته : پښتو ټولنه ، دابن سینا واټ
تلگرافی پته : کابل ، پښتو ټولنه
د ټیلفون نمبر (۱۸۰)

ټول لیکونه ع ، عبدالرؤف «بینوا» دپښتو ټولنی عمومی مدیر ته کېږی

❀ ❀ ❀

دپښتو ټولنی له خوا نشریږی

اشتراک

کابل :	۲۴	افغانی
دننه مېنه :	۲۶	«
دباندی :	۱	سترلنگ پونډ
دښوونځیوزده کوونکوته :	۱۲	افغانی

دکابل عمومی مطبعه کښی چاپ شو

ددې ګڼې لیکونکی

ایك	لیکونکی	مخ
دکابل دمجلی ۱۷ کال	پښتو ټولنه	۱
- دډار مستتر پښتو څېړنی	پښتو کوونکی « بینوا »	۳
که استعدادونه ونه روزل شی		
خاوری کېږی	ښاغلی « مست »	۱۱
دا هم ژوند ؟ !	« « پرهیز »	۱۳
دخپلو قدر	« « فدائی »	۱٤
دځوانۍ بهار	« « زمریالی »	۱۵
یاران ماران دی	« « اخلاص »	«
دطمعی بدی	« «	۱٦
دکلی خان	« « بریان »	«
دا آواز دخوږ زړګی دی رباب ندی	« « تور »	۲۰
دخوشحال خان خټك پر غزل مخمس	« « فدائی »	«
شاعر په قوم کښې څه حیثیت لری ؟	دپښتون له مجلی څخه	۲۱
- دسید جمال الدین افغانی نظریه	« « ثابت »	۲٦
دفرانسې پخوانی لیکونکی	د ښاغلی « م حبیبی » ترجمه	۲۷
ژبنو پوهنې	« « « رشتیا » «	۳۱
- داردو ژبی مورخ نصیرالدین هاشمی	« « « سیفی » «	۳۳
دافغانستان پخوانی تاریخ	ښاغلی « کهزاد »	٤۰
- دیوه امریکائی عالم لیك	ښاغلی « بینوا »	٤٤
دمادام اوازل سوالی امیل	د « « نظامی » ترجمه	٤۵
- دافغانستان تاریخ	« « بینوا »	۵۲
- دآریانا دمجلی پنځم کال	« کابل »	«
قاهره په تېرو وختونو کښې	د ښاغلی « سیفی » ترجمه	۵۳
هیرو غلیف یا تصویری لیکنه	« « « حکیمی » «	۵۹
دپلاستیك صنعت	پښتو کونکی « عاصمی »	٦۲
سیرة النبی	د ښاغلی « کشککی » ترجمه	مقابل ٦٤
روهی ګلونه	ټولوونکی ښاغلی « خادم »	
ټوکې ټکالې	ښاغلی « الیزی »	
عکسونه (۱۵) قطعې		

2006204653

د متحده دولتو عمومی تولنه : وردزفیر گراوند (دنمایش میدان) دنیو راك د ښار ودانی پخوانی ځای کښې چه په هغه کښې دمتحده دولتوعمومی تولنه په ۱۹٤٦ دا کتوبر په ۲۳ جلسه کړیده ، (۵۰) بیرغه او (۵۱)دتولنی اعضا ملتو نه د ذ کر شوی باغ د عمارت په اطراف کښې په گرد (دایره وی) ډول نصب او د رپیدو (اهتزاز) په حالت کښې لیدل کیږی .

د کابل د مجلې ۱۷ کال

دلوی خدای په کومك د کابل دمجلې ۱۷ کال شروع کوو؛

دا مجله چه د افغانستان په ملي ژبه خپرېږي، البته غرض او مرام ئې هم لوستونکوته خرګند دی چه یوازې او یوازې دپښتو ژبې او پښتون قوم خدمت دی. دانه رایو چه په دې لاره کې تر کمه ځایه پورې کامیاب او بریالی شوی یو، خو که موږ د پر خدمت نه وی کړی نو هیله لرو چه محترم لوستونکی به زموږ محسوس او غیر محسوس مشکلات چه زموږ د آرزو ګانو مخه ئې بنده کړې ده او یائې بند وی هم په نظر کې ولری. پښتو ژبه هغه خواره او بې وزله ژبه ده چه دپخوانیو پښتنو دغفلت له کبله داسې له پښو لوېدلې ده چه دهغې پر پښو درول هم هومره زحمت او زیار غواړی لکه څوك چه یو غافل اوویده قوم را ویښوی نو لکه دویده قوم ویښول چه راز راز قربانیوته ضرورت لری همدا شان د پښتو ژوندۍ کول او په کامله توګه رواجول بې مشکلاتو نه دی، او دا مشکلات هم څه داسې معمولی مشکلات نه دی چه یو څو تنه د هغو په مقابل کې مقاومت وکولای شی بلکه دیوه اولس او ملت قوت غواړی چه داسې مشکلات له مینځه لیرې کړی مګر متأسفانه چه پښتانه لا دومره وېښ شوی نه دی؛ ځکه نو زموږ آرزو ګانې لا پر نیمه لاری پاته دی.

سره له دې تولو بیا هم پښتو تولنې دخپل وس سره سم په دې لاره کې غټ غټ قدمونه اخیستې دی، او خوشحاله ده چه په تېر کال کې ئې هم د پخوا پخیر (بلکه لاښه) د ملی

ادب د ذوقمندانو توجه ددې مجلې خواته را جلب کړې ده اود قلمی ملګرو په مرسته ئې خوازه خوازه ، ګټور او ضروری مضامین لوستونکو ته وړاندی کړی دی او سربېره دژبی پر خدمت ئې دتاریخی مفاخرو په ژوندی کولو اود وطن دوتلو او توریالیو او نامتو رجالو دکارنامو په را وړلو کی هم ښه برخه اخیستې ده ، دپښتو نوم ورکی اویانه هېرېدو نکی شاعران ئې معرفی کړی اود پښتو دادب پټی خواوی ئې را برسېره کړی دی . علاوه پردې کوم مهم کار چه دې مجلې په تېر کال کی شروع کړ د ځینو پښتو کتابو (تالیف یا ترجمه) دخپرولو کار دی چه هم په مجله کی خپاره شوی او هم دجلا کتاب په توګه چاپ شوی دی او چاپېږی ، دا ځکه چه د طباعتی مشکلاتو له کبله دپښتو دکتابو ځانته چاپول په تېر کال کی ډېر سخت و ، خو پښتو ټولنی په دې واسطه و کولای شوه چه دپښتو پنځه کتابونه (دغنمو وږی ـ دپیرمحمد کاکړ دیوان ـ پښتو سندری ـ میرویس نیکه ـ دژوندانه لاره) چاپ کړی ، اودا سلسله به په دې کال کی هم جاری وی ، چه دخدای په په فضل به تربل کاله پوری څلور پنځه کتابونه نور هم منځ ته را وباسی ؛ مګر څنګه چه له یوه لاسه ټک نه خېژی ، نو که پښتانه لیکوال او پښتانه دفکر خاوندان او پښتانه عالمان او پښتانه پوهان او غټان او بالاخر پښتانه آمران د پښتو ټولنی سره دزړه ملګری نشی او کومك ورسره ونکړی اود پښتو دې پاڅو لوته اوږه ور نکړی دایوه وړه مؤسسه او او ټولنه به چه ډېر لږ اقتدار او قوت لری هیڅکله ونشی کولای چه دا درو ند بار په ښه توګه تر منزله پوری ورسوی ، اقلاً که اوږه ور نکړای شی د پښو خاوری خو به ئې نه کاږی او یو د « یا الله » « یا خیر » ، « ښاباښ » او « آفرین » ږغونه خو به پرې باندی کوې چه ددې ټولنی په غړو کی دکار انرژی پیدا کړی . په هر صورت پښتو ټولنه له ټولو پښتنو څخه خصوصاً د پښتنو پوهانو او لیکوالونه هیله لری چه په دې ملی خدمت کی ور سره یو زړه او یو خوله او یو لاس شی چه د دوی په مرسته دا پاته شوې ژبه د نورو لوړو ژبو په لړ کی ژر تر ژره ودرېږی او زموږ دټولو ارواح راتلونکی نسل ته خجل او شرمنده نه وی او هم له هغو ملګرو څخه چه په تېر کال کی ئې قلمی کومکونه ددې مجلې سره کړی دزړه له کومی تشکر او کور ودانی وایی ـ په ډېره مینه.

(پښتو ټولنه)

ددار مستتر پښتو څېړنې

(۱۲)

مترجم جاغلی مرجتیا» پښتو کوونکی «پېنوا

۲ : اونی - او نسکی : اونی دمتوسط Moyen پارتی سبب څخه چه په « آنه » سره (فارسی ئې آن) منتهی وی نمایندگی کوی :

کړونی « کننده - شونده - فاعل - عامل » (سانسکریت کروانه) له کړل څخه .

ساتونی له ساتل څخه - گرزېدونی له گرزېدل څخه .

د « کی - اونکی » دتعلیقی او ستربیل سره لاس ته راځی : کړونکی - ساتونکی - اوسېدونکی

د « اونی » او ستربل پر صفتو هم علاوه کېږی (۱۰۷ لمبر ٦ دی و کتل شی) .

۳ : گړی - فارسی : گر - زند : گره « څوك چه کوی » :

اوگری « دروگر » (فارسی : درودگر) - مزد گری « آسیا بان » (دهغه یو نانی دی په اصل کتاب کی وایدل شی - مترجم)

ملگری - له مل څخه - ژرند گری (۱) له ژرندی څخه .

مینځگری - له منځ څخه - دمگری ، له دم (نفس) څخه .

له دې ځایه څخه دهغه مؤنث صورت د « گره » په شکل څرگند شوی دی : شولگره (هغه ښځه چه شولی کری) له شوله څخه - ښېگره (۲) له « ښه » څخه .

بایدچه ددې « گری » له هغه گری سره چه د کوچنیو حیواناتو په مورد کی اطلاقېږی، اشتباه ونشی، وز گری (۳) (۱۰۸ لمبر ۷ دی و کتل شی) .

٤ : چه - یا - چی : ددې کلمې منشأ ترکی ده اود « کسب » دنومونو په مورد کی اطلا قېږی اوپه فارسی کی هم دخیل او داخل شوې دی (باغچی = باغبان) :

جارچی - له جار څخه = عربی جهر داعلام - اشتهار په معنا .

مسخره چی - له مسخره څخه .

همداراز د « دم چی » کلمه له (دم) څخه .

٥ : ان : د کسب دنومونو مؤنث چه مبداء ئې هندوستانی ده :

موچن « چرمگر » له موچی څخه .

۱۰٦ - دنژدیوالی او ستربلونه :

---

۱ : اور : دمؤنث دنژدیوالی او ستربل چه دشکل دشباهت او همرنگی له مخی له « خور ، مور ، او یور » څخه اخیست شوی دی :

ترور - له تره څخه .

ندرور - چه درور - (دمېره خور) چه له یو هندی ساختمان څخه لکه دسانسکریت نندر څخه اخیست شوی دی اوله دې ځایه څخه ❁ نندرور ❁ نندرور - ندرور او په پای کی درور شوې ده .

نږور (د جنوب لهجه) نگور (د شمال لهجه) (دزوی ښځه) له ❁ نژ څخه - لاتینی ئې نرس (- ❁ نسس) یو نانی ئې ÓS (٥) UU - سانسکریت ئې سنوشا (یا سنشا) .

---

(۱) (۲) (۳) اصلاً : ژرند گری ، ښېگره ، وز گری دی (ب)

۲ : گنی - له دې اوستربل څخه کورنی جامد نومونه جوړیږی :
پلار گنی - مور گنی - .

۱۰۷ - دتسمیې او توصیف اوستربل : دا دوه اوستربلونه یو ځای کوو ، ځکه چه داوستربل ډېر شمېر دواړی وظیفی اجرا کوی اوله یوه څخه بل ته انتقال مومی :

۱ : الی - لی-اولی : تر دې دمخه مود « الی » داوستربل سره د پارتی سیپ پاس (اسم مفعول) په ساختمان کی تصادف وکړ (۹٤ دی و کتبل شی) له همغه ځای څخه ئې د خالص صفت په ارزښت وینوچه انتقال کوی :
ښاغلی (له ښاغل « ددوست دراوداو په معنا » څخه)
سېرلی - (= شیرلی (؟) فارسی : برهٔ شیر خور -
پشرلی - (دیوه کاله پسه)
پسرلی - بهار .
گاولی - دڅرمنی مخصوص بوټونه .
سترگه لی (سترغلی) له سترگی څخه .
سپلنی - (فارسی : سپند) .
روهیلی - له روهیله څخه
ختولی - له ختی څخه .

۲ : له - مؤنث اوستربل :
ترله - له تره څخه .
ښاخله = له ښاخ څخه .
ورله - حامله (ور = دفارسی بار) .

۳ : ان - انی : اشاری صفتونه له هغه څخه جوړیږی :
اوسن - اوسنی « فعلی » له اوس څخه .
پاسنی - له پاس څخه .
کښتنی - له کښته څخه .
بېگانی - له بېگا څخه .
برنی - له بر څخه .
سږنی - له سږ څخه .
کورنی - له کور څخه .
مورنی - له مور څخه .
نوغنی - (نشانی دار) له نوغی (علامت) څخه .
وروستنی - له وروسته څخه .
وړومبنی - له وړمبی څخه .
نننی - له نن څخه .
کلنی - له کال څخه .

له « ان » څخه دناروغتیا و دنومو صفتونه اود تصغیر صفتونه جوړیږی :

پمن - له پم څخه .

چخن - له چخی څخه .

ریخن - له ریخه څخه .

شپږن - له شپږی څخه .

ژاولن - له ژاولی څخه .

خیرن - له خیري څخه .

لیچن - له لیچ څخه .

اغزن - له اغزي څخه .

مغزن - له مغز څخه .

تورن - له تور څخه .

سپورن - له سپوری څخه .

٤ : لن چه له « لی » څخه جوړ شوی دی :

شګلن - له شګی څخه .

زوان - له زوی (ریم) څخه .

٥ : این : چه له دې څخه د کیفیت او مادې صفتونه جوړیږی؛ داهغه دزند « آئینه » اودفارسی «این» دی :

زند : زرن آئینه (طلائی) فارسی : زرین :

خاورین - له خاوری څخه .

مالګین - له مالګی څخه .

له دې لحاظه څخه دی چه « اینی - اینه - اینګه » پیداشوی دی چه د « آن » دمادې معنا له منځه تللې ده :

رښتینی - له رښتیا څخه .

وړاندینی - له وړاندی څخه .

خو ښینه -

خور ینګه - له خور څخه .

٦ : اونی : اهغه جامد سره برابردی چه په «اون» سره منتهی وی (١٠٢- لمبر ٢ دی و کتل شی)

رښتونی - برغونی - لرغونی (پخوانی) له لرغه څخه دمهلت په معنا -

حرامونی - لاستونی (نهی) .

داد «اونی اوستربل مادتا دزند د«آنك» اود فارسی د «آنه» سره (او=آ -٥٠ دی و کتل شی- ای - اك، ا(زور) -١٠٢ لمبر ١ دی و کتل شی) چه د لاندینیو غوندی کلماتو دساختمان دپاره اقتباس شوی دی :

جرمانه - دعربی دجرم کلمې څخه .

شرمانه - « دشرم « « .

شکرانه - « دشکر « « .

مرانه -

وړانه، پرانه - (وړل اوبایلل) .

٧ : اې (زیر) :د مؤنثو موضوع گانو اسمی اوستربل په‌مصدر کی پټ‌دی اویوازی په منحرف حالت کی څرگندېږی .

لار- لاری - (٦٧ دی وکتل‌شی) .

٨ : ای (الف‌په‌زور) فارسی اوستربل چه‌له‌هغه صفت‌جوړېږی :

خرڅی - له‌خرڅ څخه (عربی :خرج)

دفارسی مجرد اوستربلونه «ای» او «آی» موپورته وکتل (١٠٤ لمبر ٨ او٩ ته‌رجوع)

٩ : ای (دالف‌په‌زیر): دهغوموضوع گانو پخوانی مؤنث چه‌په «اې که» سره منتهی‌وی ، له « ا کی » څخه مشتق دی، لکه: اې که- له : ا که، څخه مشتق دی:

پېری - مؤنث ئې: پېرۍ .

نرمۍ - (دغوږنرمۍ) له‌نرم څخه، لکه لندۍ له‌لنده څخه .

پښتۍ -

په‌تصریف کی د«اې »مؤنث په(زیر) سره جوړېږی (٦٦ته رجوع) او « اې » (دالف په‌زور) ډېر وختونه په‌اقتباسی کلمو کی له هندوستانی «ای» (دالف‌په‌زیر) څخه نمایندگی کوی:

باتۍ - (فتیله) -امبالۍ -پگړۍ -تورۍ - له‌هندوستانی :

باتی، عماری، پگړی، توری څخه .

١٠ : ادز- یدز- آزه - یازه - اوځی- ایځ - ایزه- اځ یدځ مقابل‌دی دفارسی د«آز او دزند د« آ چ انچ » او ستربل سره .

پخوانۍ ژبه‌دوی مخصوصاً دربطیه (جر- اضافت) دتورو دتکامل د پاره استعما لوی: له فرا ، فراك، فرانك (فرانچ)«څوك چه‌پرمخ ځی»- مگردنماز (نمونځ) مثال ثابتوی چه‌د اسمی مو ضو عاتو دبشپړ والی (تکامل) دپاره هم‌استعمالېدل په‌فارسی کی‌د «آز- ایز» په‌شکلونو له‌دې لاری اصلی (ابتدائی) موضو ع چه‌په (زور) یاپه (زیر) سره منتهی‌وی، لیدل کېږی .

نماز - له‌نمه - کنیز - له کینن څخه)

ایزه (پهلوی ، ایچك -کاهیچك «بی‌قیمته‌شی - دپروړو لشه » - فارسی: پاکیزه په پښتو کی لا ندی کلمې اوصورتونه وینو :

نموځ - له● نمانچ څخه (پښتوچه‌ترفارسی ډېرپه پخوانۍ شېوې پابندی‌لری داوستر ل‌قوی دماغی توری ئې هم ساتلی دی) .

وریځ -بریځه -زند: اوره (١) (٥٥ دی‌وکتل‌شی) فارسی ابر .

تخځ -ترخځ - ترښځه «تیشه » - سانسکریت :تخش «نجار» زند :تش -تخشی) سپئیازه - «دجنین سقط نقصان » (زند: سسئیه -شاته غورځول -غورځول) متیازه -(میتل).

ایواځی - ایوازی (یوازی) (زند، ائیوه- پهلوی : ایواك - ایواچ) استازی-«پیشوا-قاصد» (آستول) کانېځ - له کانی څخه .

واریزه - «نوبتی تبه»

ستیزه -« دیوې غونډۍ پر سرمیدان » له‌ست‌څخه دهوار په‌معنا .

---

(١) په پښتو کی «اوره » هم‌وایی . (ب)

۱ : گه : دااوستربل په‌جامدو اسمونو پوری نښلی، بېله‌دې چه‌معنائې تبدیله کړی، له‌دې ځایه څخه هغه صفتونه چه‌په «گی» سره‌تمامېږی منځ‌ته راغلی دی‌په لاندی ډول :

ستر گه «ستاره» (اصطلاحا) دزند : ستار څخه .

گرگ (؟پښتو کونـکی)«غوړ»له‌فارسی: گر، اوزند: گرینه څخه-له‌دې ځایه‌څخه گرگی- ورما گه«دانهٔ‌دمل» له‌ورم څخه میدان ته‌راغلی .

گه- داسی په‌نظر راځی چه‌ترساکن وروسته د«که»سپك شوی صورت‌وی :

ستر گه دفارسی تیپ له‌مخی «مرگ» - زند مهتر گه -دی.

۱۲ : ات : د«اوچت» په کلمه کی .

۱۳ : تی - تو :

روژتی - له روژه څخه .

جرگه تو - « دجرگې غری » .

همداشان ده هندی بهاریتو «حامل- حمال» له‌بهار (وزن) څخه .

۱٤ : څه - څی :

غرڅه - له‌غره څخه .

لمڅی. لمسی - (کراسته = نمد) .

۱۵ : من : زند، منت- فارسی : مند- چه د«خوږمن» په کلمه کی من‌باقی پاته شوی دی.

نیازمن - گله من - یرمن (ترسنده) له‌ویری څخه - میرڅه‌من - له‌میر څی څخه .

۱٦ : ام - امی - امه : ام ، زندئې‌امه فارسی ئې‌اوم دشمېر دساختمان دپاره کارځنی اخیستل کېږی :

اتم - زند : اشتمه - فارسی : هشتم ام- امی : دجامدو اسمو اوصفتو دپاره کارځنی اخیستل کېږی:

اډم - اډمی « زبانچهٔ قفل» له‌آډول څخه - هندوستانی آډنا «متوقف کول» ارږمی -اگرمی-(فارسی آروغ) . (۱)

ترمی «منتشر - پرا گنده »

امه دیوه‌خاص استعمال دمورد دپاره ساتل‌شوی دی اوهغه دروت Rut ؟مؤنث دی :

سپیمه -

غوایمه -

وزېمه -

۱۷ : یی : صفتی مشتقات ځینی جوړېږی- دزند اوستربل «یه» :

غوایی - زند گویه -

خوریی -

مریی -

نیایه -

۱۸ : ور : د(تحت‌اللفظی ترجمی: څوك چه‌وړی) صفتی اوستربل په‌حقیقت کی دو همه کلمه یوتعینی مرکب تشکیلوی- زند: گده - وارو :

زړه‌ور، تحت‌اللفظ ترجمه‌ئې «دلدار» د فارسی کلمې مقابل « دلاور » .

۱۸/۲ : جن - زن - ژن : د (تحت‌اللفظی ترجمې: څوك چه وهی) صفتی اوستربل، د پورته په شان دوهمه

---

(۱) آروغ‌ته په‌پښتو «ټیغ »وایی- ارږمی دفاږې معنالری .(ب)

کلمه له مرکبو کلمو څخه‌ده :

تورزن- په‌مجازی صورت: غمجن -له‌غم څخه - درواغجن- له‌درواغ څخه.

۱۹ : ناك : فارسی اوستربل دصفتو دپاره :

سریښ ناك- خوند ناك - زیم ناك -

ښځه نوك- چه‌مشتق له‌ښځه+ ناك څخه .

۲۰ : وال:دا اوستربل په‌نژاداړه‌لری، اصل ئې هندوستانی دی (دیلی‌والا، دیلی‌وال) :

بنیروا ل -

له‌همدې ځایه‌څخه هغه‌جامد چه‌په«والی» سره تمامېږی راپاڅیدلی‌دی (۱۰٤ لمبر٤دی و کتل‌شی) .

۲۱: یا: هندوستانی اوستربل تعدیل (متغیر) شوی دی - دهندوستانی هغو پارتی سیپو سره مقابل دی چه په «آ» تمامېږی :

جلیا -	هندوستانی : جلا (جلنا)
گسیا- (سولیدلی)	« : گهسا(گسنا)
لگیا-	« : لگا(لگنا)
ملیا -	« : ملا (ملنا)

۲۲ : یالی : همهغه دهندوستانی (والا) وظیفه‌اجرا کوی (گاډی‌والا- توپی والا) :

جنگیالی -له‌جنگ څخه ننگیالی -له‌ننگ څخه.

توریالی -له‌توره. برگیالی «خالدار» -له برگی څخه .

یالی داسی معلومېږی چه دهمهغه «والا» یوتغیر خوړلی اومنحرف شوی شکل به‌وی. همداقسم‌دی چه په بنگالی ژبه کی توپی‌والا، توپیویالا کېږی (دهورنل Hoernle اثر ۱۳۵ مخ‌دی و کتل‌شی) .

۱۰۸ - مصغرات :

۱: ای : فارسی (زور)«ه»، دزند - سانسکریت د کلمې: ا که (سانسکریت‌راجکه «پاچاگی) څخه‌نمایندگی کوی. (۱۰۲- لمبرادی و کتل‌شی) .

۲: ك: له‌فارسی څخه، اقتباس :

پښتو - فارسی: مردك « کوچنی سړی » .

« : توپك «تحت‌اللفظ ترجمه: کوچنی توپ »

« : بڼکه - له بڼی څخه .

« : چرگك - له چرگ څخه .

۳: کی- گی- گی: چه‌له‌دې څخه‌جامد اسمونه‌اودصفت اسمونه‌جوړېږی :

جامد اسمونه :

راشگی- (کوچنی راشه) له راشی څخه .

شپونکی - له شپون څخه. مؤنث شپونکی .

پلانکی -

اورکی- له‌اورڅخه (اورورکی چنجی)

جینکی - له جنی څخه .

ورورکی - له ورور څخه .

کټکی - له کټ څخه .
کمکی - له کم څخه .
ختکی - له ختی څخه .
خرکی - له خرخر څخه .
دستکی - له دسنك څخه .
زومکی - له زوم څخه .
زړکی - له زړه څخه .
خرکی - له خره څخه .
خولکی - له خولې څخه .
سپېرکی - له سپېره څخه .
شینکی - له شین څخه .
لحنکی - له لحنی څخه .
بوډاکی - له بوډا څخه .

٤: اوکی - اوکی: له پورتنی څخه مشتق دی په هغو کلمو کی چه په «او» سره منتهی وی لکه: تمبوکی (کوچنی خیمه) له تمبو څخه :
پنډوکی - له پنډ څخه .
هډوکی - له هډ څخه .
تودوکی - له تود څخه .
زړوکی - له زوړ څخه .
وړوکی - له ووړ څخه .
چړوکی - له چړې څخه .

٥: تی - اوتی - کوتی: ددغو منشأ هندوستانی ده، لکه څنګه چه ددوی له دماغی توری څخه څرګندېږی. په هندوستانی کی ئې مثال «چموټه» (چرمی تسمه) (له چم څخه = د سانسکریت کلمه چرمه) - هر نو تو «دښکار هلك» بامهنوتو «کوچنی برهمن» (دهرنل کتاب ۲۱۷مخ دی وکتل شی) .
زنګوتی - له زانګو څخه .
سړوتی - له سړی څخه .
زړکوتی - له زړه څخه .
کوچوتی - له کوچنی څخه .
جنوتی - له جونی څخه .
مرګوتی - له مرګ څخه .
منګوتی - له منګی څخه .
له دې څخه یوبل اوستربل چه «کوتی» را پاڅېدلی دی :
زړکوتی - له زوړ څخه .
کارګرتی - له کار څخه .
لنږکوتی - له لنږ څخه .

۶: ړی - اوړی: چه‌دې منشأ هم هندوستانی ده لکه بچړو «بهان» مشرقی هندوستانی (ر) او مغربی هندوستانی (ړ) استعمالوی (دهرنل کتاب دی وکتل شی) .

خسړی - له خس څخه .

جنګوړی - له جنګ څخه .

منږ کوړی - (کوچنی موږك) .

اوبی دتصغیر له‌مفهومه: سو کړه «وچ» چه‌له‌هغه څخه «سو کړی» دوچ کالی په‌معنا .

نومړی - له نوم څخه .

خروړی - له خوړل څخه .

۷: ګړی - : (دپورتنی اوستربل له تأثیره) دحیواناتو دنومو مصغرات پیدا کوی :

توتا ګړی - (توتی ګك) له‌توتا څخه .

وز ګړی - له وزې څخه .

پشونګړی - له‌پشو څخه .

بچونګړی - له بچی څخه .

بلونګړی - (موش خرما) (هندوستانی «بلی» دپشی په‌معنا) . دااوستربل‌چه اصل‌ئې اسمی او ستربل دی داسی معلومیږی چه‌اصلاً به‌همهغه دفارسی «کره»وی چه د «بهان» په معنادی، په‌فارسی کی ئې مثال «خر کره» (دخره بهان) دی .

۸: او: دتأنیث مرجحه نښه ده، ځکه چه‌په خاصو اسمونو کی دهغی اسمی صیغې ځای نیسی چه داختصار له کبله ساقطه‌شوې‌وی: په‌دې ډول :

درخو- د درخانی پرځای .

بختو- دبختور پر ځای ،

زینو - (د « ز » په زیر) دزینبو پر ځای (د انوم ځکه د « ز » په‌زورنه‌وایی چه دزناد کلمې سره صوتی التباس پیدا نکړی)

دا اوستربل دنارینه و ؛ په نو مونو کی دخان دعنوان په‌عوض اود ښځو په‌نو نو مو کی دمیر من یابیګم ؛ یابانو په عوض کار ور کوی :

اسلمو ، پیرو ، امیرو ؛ داسلم‌خان ، پیرخان ، امیرخان اونورو پر ځای اوهم کیدای‌شی چه اسلمی پیری او نوروویل شی (۱۰۸ لمبر ۱ ، دی‌وکتل‌شی) ګلو - شیرو- دګل بیګم - شیربیګم‌پرځای :

۱۰۹- هغه ظرفی ساختمانو نه چه په « ته » سره منتهی وی، له‌زمانې او ستربل‌څخه په وجود

راتلای شی (۶۸ لمبر ۲ دی وکتل شی) :

دلته - له دلی څخه

هلته - له هغه څخه - ددا غه ، دلته دشباهت له مخی .

چرته - له چیری څخه .

هیچرته - (هیڅ چرته) .

پورته -

وبل ته - (وبله هم په دې معنی راځی = یو بل ته)

ښکته (کښته) -

د- «چرته» غوندی ساختمانو نو څخه داستعمال دمورد دتو سعې په صورت کی بیار ته له بیا څخه پیدا کیږي .

پروفیسر سرگی واویلوف دساینس دا کادمی رئیس په داسی حال کښې چه دقوانینو ایضاح او دنویو اعضاؤ دکاندیدو دشرائطو بیانیه ایرادوی •



ویاچسلوف مولوتوف : دریاست وزراء کفیل اوداتحادجماهیر اشتراکیه شورائیهٔ خارجه وزیر چه سره له دی لوړورتبو دشوروی دساینس دا کادمی افتخاری عضو هم دی، چه نظر دده پر اهلیت او لیاقت په بین المللی چارو کښې اودمملکت مجدد لوړوالی اوو ړاندی بیولو کښې ئې ښکاره کړی د مارکس اولینن دپیروانو دجمعیت له خواذکر شوی مجمع کښې قبول شوی دی .

اوایوان مش چانینوف دا کادمی اعضا درای ور کولو په وخت کښې لیدل کیږی .



دنویو اعضاؤ دټاکلوله پاره په پټ ډول رای اخیستلی کېږی ، په دې ځای کښې الکزاندر و نتر(کیڼی خواته)اوولاد مرفوک
اوایوان مش چانینوف داکادمۍ اعضأ درای ورکولو په وخت کښې لیدل کېږی .



دشوروی د اشترا کی جماهیرو دسا ینس دا کمادمی د ریاست ودانی په مسکو کښې

دساینس دا کادمی عمومی جلسه دمسکو دساینس پوهانو په کلوب کښې (دنوامبر ل۲۹۰ څخه تر۱۹٤٦ دسمبر تر ٤ پوری) دڅویو اعضاؤ انتخاب ددې عمومی جلسو په یوه جلسه کښې صورت موندلی ۰


اجتماعیات

که استعداد و نه و نه روزل شی

خاوری کېږی

ښاغلی مست :

« داوقانوس په زړه کی ډېر ځلانده گهری ځلېږی چه څوك ئې نه وینی - په غرو اورغو کی له ستر گو لیری ډېر گلونه غوړ ېږی چه خپل عطراو طراوت د صحرا نسیم ته سپاری ، مگر څوك ورته ملتفت نه دی ! »

(گری انگلیسی شاعر)

دانظریه درسته نه ده چه یوازی هغه خلك ، لوړ او ښه استعداد و نه لری چه لوړ اوښه مقامونه ئې اشغال کړی دی اوپخپل ماحول یادنیا کی ئې شهرت موندلی دی ، بلکه ډېر داسی استعدادونه (بېله دې چه څوك ورته ملتفت شی او یائې روزنی ته توجه و کړی) خاوری شوی دی او خاوری کېږی چه که کار ورځنی اخیست شوی وای او یاواخیستل شی دخپل محیط اویاددنیارنگ به ئې اړ ولی وای او یابه ئې واړوی .

په یوه محیط کی که داسی نظریه پیداشی چه یوازی همهغه یو څو تنه چه شهرت ئې کسب کړی او پر کار ولاړدی دښه استعداد خاوندان او دکار او اعتماد وړ دی او نورڅوك ددوی په څېرنشی پیدا کېدلای ، دامحیطبې شکه دانحطاط لوری ته روان وی ، او ژرترژره به ددې نظریې او مفکوری په غلطی پوه شی ، خودا به هغه وخت وی چه کارترکار تېرشوی وی ؛ ځکه چه مهم کارونه به هم دهغو څوتنو په لاس کی وی ، نوچه دوی دطبیعی عواملو په اثرله منځه و لاړ شی ، ضرور هغه مهم کارونه هم

ورا نېږي ؛ داولی ؟ د ځکه چه دوی نور استعداد ونه روزلی نه دی چه ددوی ځای ونیسی او نه ئې موقع ور کړې ده چه داستعداد ونو خاوندان له خپلو استعداد ونو څخه کار واخلی ، او دا فکر زښته مهلك او خطرناك فکر دی .

که یومحیط غواړی چه دملت دافرادو پټ استعدادونه منځ ته راو باسی باید د موقعیت او کار په تناسب دیو کوچنی فرد استعداد هم بی روزنی پرې نږدی او موقع ور کړی چه خپل استعداد په کار واچوی ، که نورڅه نه وی داستعداد ونه دفعالیت مخه خو دی نه بندوی . ډېر داسی خلك سته چه خیال کوی که دهرچا استعداد وروزل شی او بادفعالیت موقع ور کړه شی نو یابه د موجوده لوړو خلکو موقعیت کښته شی او یابه په کارو کښی لوی هرج ومرج پیدا شی ، مګراول خو داخبره بی منطقه ښکاری اوبیا که په څه منطق هم ورته قائل شو ، نو داهرج ومرج خو به مضرنه وی بلکه زمایه عقیده لا ګټور دی ځکه چه هرڅوك چه دهر کاردپاره ښه مستعدو : هغه به کار په لاس واخلی او داخوښه کار دی چه کار د کار داهل لاس ته وسپارل شی نوله دې لاری څخه که چا بې استحقاقه یو کار په لاس کی اخیستی وی اوتر ده بل څوك مستحق او د کار اهل وی او دا سړی له خپله مقامه ولوېږی دا څه تاوان اوضررنلری ، ځکه چه کار به ښه شی او دهر چا عرض خود کار ښه والی دی .

که څوك داخبره در نه ګڼی چه یومامور دی له خپلی چوکۍ څخه (چه کڅه هم ئې تصادفی اوبی اهلیته اشغال کړې وی) نه لېری کېږی او دا ددې مامو په حق کی یوډول بی احترامی بولی اوددې دپاره تر دې مامورد کښته سړی د استعداد دودی او روزنی مانع کېږی ، نوهر کله چه پورتنی مامور د طبیعی حواد ثو او عواملو له کبله له خپلی چوکۍ څخه جلا کړ شی ، او دهغې چوکۍ داشغال دپاره روزل شوی نه وی ، هغه وخت خبره تردې لادرنه وی ، بلکه علاوه پردې چه د وظیفې بی احترامی به وی کار به هم پرمیدان پاته وی ؛ نو ځکه هرچاته چه ددې مفکورې خاوندوی داښایی چه ترشخصی ګټی او غرض تېرشی او دملت او وطن ګټه په نظر کی ونیسی اوتر خپل لاس لاندی خلکو استعدادونه وروزی او که ئې دلاسه وشی زیاروباسی چه دملت هر فرد پخپل کار کی له خپله استعداده کار واخلی که څه هم دده (آمر) په نقص تمامه شی اودده موقع او مقام ونیسی ، که نه وی استعداد ونه چه ونه روزل شی خاوری کېږی ، او استعداد ونه چه ئې په جبر خاوری کړه شی هغه ملت مری ، او دهغه ملت ګناه دهغه چاپه غاړه ده چه استعداد ونه ، نه روزی او یا ئې دروزنی مخه بندوی او قصداً ئې خاوری کوی ، نود داسی ملتو دواك خاوندان باید دې نقص ته ملتفت شی او دا فکر دهرچاله دماغه وباسی او عملاً په کار لاس پوری کړی او میدان ته را ووزی .

ادبیات

اوسنی ادب :

داهم ژوند؟!

دښاغلی بېنوا دشعر په اقتفا

عبدالقدوس «پرهېز»

ژوند ، ژوند وایو خوشالېږو ، وچ په وچه هوسېږو

په مفهوم ئې نه پوهېږو ، څه پدا چه و یا ئېږو ؟!

ژوند ، ژوند ندی کړیدلی دی — خوشې ، خوشې خوړ ېدل دی

تل په کار او په زحمت کښې — لکه موم ویلې کېدل دی

د لرګو په څېر د بل چا — تر دیګ لاندې سوزېدل دی

ر مونږ ر بړ او کړ او کښې — تل د نور و چا غېدل دی

لڅ لپړ یو سکړک نشته ، تل له لوږی هلا کېږو

وړ ددې یوچه لاد ینه ، په بتر اورو سوزېږو ؟!

چه سړی هو مره نا توان شی — بو یه ورک دې له جهان شی

بې غا یې او بې هدفه — چه دی تو له ورځ ستومان شی

لکه خر چه کام نا کامه — د روند وړی لا ندې روان شی

تل د بل هو سا د پاره — لا لها نده سر ګردان شی

پدا شان په بېوزلۍ به ، تر هغه استعما لېږو

څو د علم په قوت چه ، معرفت ته و رسېږو ؟!

که دا ژوند دا ئی مفهوم وی — مساوات ئې بیا هم نوم وی
چه یو کبر په پلو کړی — بل سکړک پسې معدوم وی
د وطن په شکلی نوم به — په یوه د کار هجوم وی
بل چه بد خوی کلی کور کښې — خیر وی هغه مخدوم وی
تو لعنت دی یدې ژوندوی ، په مرګ ولی نه خوښېږو؟
چه بودم له دې پستی او ، رذالته پرې خلاصېږو ؟!

د غه خه کانې را وشوې ؟ — په بهیو د خپل نه یو هېږو
له پرد و به خه ګله کړو — دا له خپلو مونږ لحو ر بېږو
یو د بل و یو ته ناست یو — په کینه هېڅ نه مړ بېږو
خپل شخصی مفاد د یاره — تر مفاد د کام تېر بېږو
که داخوی را کښې موجودوې ، نو بیشك چه هلا کېږو
چه لستونی کښې مارساتو ، عاقبت به چېچل کېږو ؟!

کله لو بېږو و کله یا خو — تور ه شپه کښې کړو مز لونه ؟!
هیڅ لیدی او ر یدی نشو — یو لا نده کانه غو زو نه
احساسات او عواطف مو — یا دې مړه یا کړی خو بو نه
آ ، دز د تر یخی مو خه شو ؟ — خو ز غمو به دا در دو نه
دا غفلت دی او که خوب دی ، که په مړو کښې حسابېږو ؟
چه په دېرو دېروچغو ، ای «پرهېزه» نه ویښېږو؟!

د خپلو قدر

نیك محمد « فدای »

زړه مې تنګ شی په کوکل کښې — دا بطی رفتار چه کوم
نه د وا د کوم مرض شوم — د طبیب په طلب ګوم
کله یاد را تېر ساعت شی — بیا نو حال استقبال کوم
دا بې نوره رنا مری مې
اندېښنو نه زړه ، چوی مې
د رنا په تکل تلم زه — لا تر او سه تاریکی ده
زندې ستر کی خوش باوره — تری تو له باریکی ده
په ناستی نه د چا کېږی — هوسی برخه د ښکاری ده
چه دهمت لری و زرو نه
کوی لوړ او د پر وا زو نه
هر خوك قدر کا د خپلو — نه په خه خو ښوی نور ؟
په خپل خیر شر یوه نه ئی — دا ژوندون ښه دی که کور ؟
که هر خو درته ناری کړم — نه ئی یوه په سپین او تور !
په رینو ستر کو او ده ئی
خدای کو ولی دا یه خه ئی ؟

تر مطلوب رسوی ځان — که ستی شی پری پتنګ
عاشقان معشوقی غواړی — مسلی کا پسی لنګ
پسې ګرزه لیلی غواړه — نه چه پروت ئی په پا لنګ

په خوله وائی عمل نه وی
سترګی وی او لیمه نه وی

لمر چه وړانګی کاندی تیتې — ځکا لکی پری خوښ نه وی
نا ممکنه کوم یو کار دی — که مدعا بها نه، نه وی
دا په خوله ویل څه کار دی — چه رښتیا «فدائی» نه وی

راشه سرټټ کړه ګریوان ته
لږ ښه ځیر شه دی بیان ته

د ځوانۍ بهار

ښاغلی «زمریالی»

د ځوانۍ بهار می تیر سو اوس خزان دی — دعشرت باغ می پی سوی تش بیابان دی
هی افسوس چه ځوانی و لاړه پیری را غله — په غفلت کی عمر تیر سو ډېر ارمان دی
زما ګمان و چه به تل می او معشوق وی — خبر نه وم چه په وصل پسی هجران دی
چه پر مځکه به روان وم خیال می دا و — په تعظیم را ته ټیټ کړی سر آسمان دی
دځوانانو په ټولګی کی به مخکښ وم — ما ویل چه مدام زه او دا دوران دی
پخپل عقل په تدبیر باندی غره وم — خپل پردی به داویل چه ډېر کاردان دی
شپه او ورځ به وم په عیش او په نشاط کی — سد می نه و چه کم کار وړ د انسان دی
د ناصح په نصیحت می عمل نه و — زما اټکل و چه زه ځوان یم څو جهان دی
ما وی تل به د عشرت قصر و لاړ وی — اګاه نه وم چه د قصر پای ویران دی
ولی اوس چه ځوانی و لاړه پوه په دې سوم — هغه څوك چه کړی عبث ځوانی پښیمان دی
له لمړ یه عقل بویه زمریالیه! — په تیر سوی پسی تر تاب کار دنادان دی

یاران ماران دی

ښاغلی عبدالخالق «اخلاص»

له هوا نه راځی ښکته باران یو یو — په زرها و کښ شی درو مرجان یو یو
انسانان که څه هم واړه په یو رنګ دی — خو په ټولو کښ مونده شی انسان یو یو
سړیتوب په ښو جامو په ډول نه دی — خوی خصلت کړه دسړی امتحان یو یو
چه نه قول نه وعده نه ئی وفا وی — پرېږده دغه خپل مطلبی یاران یو یو
که پخواڅوك صادقان وو خواوس نشته — ما از میلی او سنی اشنایان یو یو
په سختۍ کښ به دی خواته نژدی نشی — په راحت کښ کوی زارو قربان یو یو
په دوستی د هېچا مه غولېږه پوه شه — ټول ټګان دی دمطلب خاوندان یو یو
چه څه طمع توقع در ته کېږی — په کاسه کښ درته لګی مچان یو یو
سمساره که چا لید لی وی غوار وی — چه شی وچه بیائی پرېکړی تیان یو یو

د یارانو د مهمل معنی صحیح ده — چه ددی عصر یاران دی ماران یو یو
مارلړم به دی هېڅکله خیر خواه نشی — که هر څو ونیسی گرو به احسان یو یو
دمحکه تیږه یم زه ټول می کره کړل — دا مغشوش کچه ناچل دوستان یو یو

زه اخلاص به څوك قبول په دوستی نه کړم
څو می یاد وی د ټگانو ټکان یو یو

دطمعی بدی

په دنیا کښ نشته بسد بتر له طمعی — خدای دی څوك نه کا اخته په شر دطمعی
د هوا مرغان به څوك راولی دام ته — که ئی وا وړی له دانی نظر دطمعی
که دشمن وی په دنیا کښ خو هم دادی — که معلوم وی چا ته لوی خطر دطمعی
د هما همت کوه په ټیوس کېږه — چه راښکته کړی ډیران ته سر دطمعی
که داوړ همت نسبت دی ځان ته خوښ وی — نه زړه و باسه خسیس اثر دطمعی
دا خبیثه و نه وباسه له بیخه — د زقوم غوندی وی تر یخ ثمر دطمعی
طمع دری حرفه لری در یواړه تش دی — اشتقاق نلری هیڅ مصدر دطمعی
سل اودق علاج لری چه دفع کېږی — لری نه دارو در مل ضرر دطمعی

ما اخلاص هله دځان قدر معلوم کړ
چه می پر ښوده سوارلی په خر دطمعی

زموږ کورنی عیبونه : « اخلاص »

د کلی خان

ښاغلی « بریان »

دیو کلی خان چه ډیر ئی وو عزت — هم په عقل و تر نورو ډیر هوښیار
پر هر ځای به ئی کاوه دځان صفت — ځکنه دی و د هغه کلی نامدار
ډیر ئی شان درلودی ښه زور و قوت — خود به ده درلود پر هر چا اعتبار

خدای ور کړی وه هستی له حده تېره
نه ئی ترا کسیده له بله نه هم بېره

خان به تل کاوه وبل ته نصیحت — چه پر بل به ورونو نه کوی ظلمونه
زه وتاسی ته کوم پر دی منت — که لتاسی شی تلف د بسل حقونه
خدای به ور کړی و هغو ته ښه نعمت — چه تری خوښ وی تل مدام دنورو زړونه

په ښی غوږ ئی وا وری دا زما خبری
ستاسی حق کښې ټوله در هم مرغلری

دی هوښیار خان اعتبار درلود هم زور — که بی چا ته ور ستو له مر که
ر د ئی نوو شولی کډی ئی څلور — وه دهر یوی د سر و زرو گینه
تل ئی دوی ته ویل نه بکو ئی شور — ستاسی زړونو کی زه نه پر ېږدم کینه

دا د خو لی ویلی و ه نوه با طنسی
دوی هم پوه وی چه دا ټول دی ظاهری

ځکه دوی که دبل خان لوړ نازولې — د دی نو رو سره نوه مساوی
ونا گرانی ته ئی وې ته ئی نا ولې — ته د خان دلور سره مکړه سیالی
وی دو همی ته تا ژ بی جلو لې — دخان لور وینی چه زما زړه ښه ساتی

لنډی دا دری سره ده ته وی معیو بی
عیب ئی څه وو چه دده نوی مر غو بی

دا د ر یمه چه ئی بد ا یسپیده — ته وا دی غر یبی څه کړی گنا وه
په هیڅ شان ددغه خان نه خو ښیده — ده ته گر مه هم لا یقه د سزا وه
تل به دا د خا نه ډیره وېر یده — په نظر د خان مجرمه تر هر چا وه

پیدا شوی وه د دی غر یبی لور
لو ر به څه وا یم مو جب وه د فتو ر

دلور ذ و کړه خو ددی نو په وا ك — مگر خا ن بلسله دا ښه ملا مته
ورتریخ کړی ئی وو ډیر عمر ؤ ژواك — نه درلودی خان انصاف او عدا لت
ددی ښځی ز ړه له ډ یر ه غمه چا ك — ځکه دا ئی و و عد می کر ا مته

هغه نورته هم وه دا رنگه عذ ر و نه
چه پر دوی خوارو به تل کیده جبرونه

همیشه د خا ن د لو ر سر ه همد مه — چه دا نورو به څه وی دا ئی جواب و و
په تن پټی یاست پر تا سی څه ستمه — د هغو زړو نه پرسره لمبه کباب وو
پټه خو له کاو ه ئی شر م له عا لمه — که ئی څه ژوندون تر هر چا په عذاب وو

پښتنی شر م ئی ډ یر ښه ئی عفت و و
پټه خوله ددوی له اصله دا خصلت وو

هسی شان دلونورو کړه پ ده غم وو — که به زوی وو دخان غاړه به شوه لکه
په یوه خوښ په دی بل ئی زړه قلم وو — لو ر څه ده ته وه د زا ر و یو ه څکه
دزوی هر خیرات چه فکر ئی به سم وو — په زرو لا څه چه شمیر ئی وو تر لکه

که څه نر او ښځه دواړه دی انسا ن
ده ته زوی انسان وو لور عین حیوان

که څه د وا ړه وه د یو ادم او لا د — خا ن یو بد گانه په بل وو ډیر خوشاله
و خلقت ته د بشر ذ و ا ړ ه بنیا د — تو ا دی نو و خبر لدی ا حو ا له
چه نر محبو ب د ښځی و و جلا ت — ځان ئی هم باله تر هرچا نیك خصاله

بیا دلور په سبب تل پر بل جبر و نه
کم انصاف و ښه گڼی دا ډول ظلمونه

په دغه ډول پر خان عمر تېږی — هغه مشر زوی هم خدای کړ ور ځلمی
پدی زوی د کلی خان بیا هوسیږی — ویل داهم زما په شان شو پوه سړی
که زه نه ومه پر ده قوم را ټولیږی — لکه زه چه ومه دی هم شین زمری

ژرئی وکړ له وخپل زوی ته کوز ده
بیا واده شو دخان زړه خوښ یو په دوه

کلی ټول په دبد به عظمت ؤ شان — چه دخان دمشر زوی مونن ښادی ده
اتڼو نه گرز ئی لوړ مخ پر آسمان — جوړه شوی په څه ناز ناوی خیالی ده
هر سړی ودی واده ته شو حیران — خر څېدی رو پی ویله ئی سیالی ده

څوشپی ورځی پدی ډول خوشالی شوه
غریب ټول ماړه اوور که ئی خواری شوه

په همدی ډول څلور لونی دخان وی — چه دوی هم شولی پدی وخت کی زلمی
په ښه خوی هرچا ستایلی په ښه شان وی — هم په رنگ وی ډېری ښکلی ترسپوږمی
مرکې ئی نا امیده هر زمان وی — خان ویل لور می په شل زره روپی

د هیچا بیچ نو و شل زره روپو ته
بیا په تېره د خان قهرخو شکتو ته

ویل دا ولور به څوك کی راپوره — زما دلور واده دا ټول جهان خبریږی
څوك دی نه کوی زما د لور دعوه — سل پسو نه ډېری ورجی په خرڅیږی
زما سیالان باید چه وکی یو په دوه — توا زما په مرضا کم یو نیو هیږی

زه یخپل ځان نه و همه رخشند و نه
نه پرېږد مه زه دغه خپل روا جو نه

داخبره چار او ډای نشوای پرخوله — ځکه دا ما مله سخته ښکاریده
که ئی ډېر ثروت درلود چیری ووزړه — هیڅ ئی خان ته دغه طمع نه لیده
خلك منع شوه چه تله به یا را تله — او نی نا ستی وی څو سر ئی سینېده

هیچا یادی نکړې دا نجونی بل وار
هر سړی ئی د غو ښتنی شو بېزار

گوره خدای لاڅه کوی څه ئی کارونه — د خان مشر زوی ته پېښه نارو غی شوه
زهېر زړو نه تل لری ډېر آزار و نه — اوس دخان په برخه هسی لوخواری شوه
ده په زوی وکړه څورنگه درمانونه — ورځ ئی توړه شپه نصیب ئی ناشادی شوه

ځلمی زوی ئی کی روح حق ته ور تسلیم
سره لسمبه شوه خان ته هغه ښه اقلیم

ځوان زوی ملا کړه د کلی د خان ماته — په ژړا ؤ په نارو و په فغان شو
هوسونه هم ښادی شوی ځینی پاته — په سروا ښکولوند دهغه خان گریوان شو
مخ یې وینوی یو څو روځی صحراته — بیا د غم کاله ته بیرته را روان شو

خیالی ناوی د کونډ تون څادر پرسر کی
په ژړا یی هغه ټول کلی خبر کی

پنځه میاشتی د هغه وخت شولی تېری — خان ویل کونډی اوس ستا څنګه رضا ده
زما د کورښادۍ به ستا څنګه وی هیری — منزوری نن ورځ می همدغه مدعا ده
خپل مقصد وایه چه ځی لمانه چیری — که ته ځی دا د تر برو پرما خندا ده

په خوښی ز ما کوچنی زوی که قبول
چه له تا به خوښ شی خدای هم پاك رسول

کونډی وویل خانه ستا زوی خو کوچنی دی — ما رخصت که چه شم ولاړه دپلار کورته
دغه ستا کور اوس د ما څخه پردی دی — دا خبره به زه یا ده کړم خپل ورورته
هغه هم تا ته معلوم چه پوه سړی دی — بیا به یا ده که دا خبره مورته

زه هم د پلار سره کومه مصلحت
چه د دوی ده څنګه خو ښه دا سعت

خان ویل زه دا خبره نه منم — ځکه ستا تله نن و ماته لوی پیغور دی
خیر چه زوی می مړشو تازه ښه ساتمه — کونډی ښه ندی ستا تله دغه دی کوردی
تاو دغه خپل کوچنی زوی ته کومه — تله د کونډی نه منم څله دی شور دی

که په زور که په قوت یا په روپو وی
خرڅوم یې که څه زر یا په لکو وی

پلرګنی د کونډی هم راغله و خان ته — چه خورلنی ته مو اوس ور که رخصت
خان لکه بلله دغه و خپل شانته — ویل ز ما خو دغه ندی مصلحت
تاسی وګوری زما نام و نشان ته — کونډه درکمه په لاس دا می غیرت؟

که شل مری پردې خبره لادی مړه شی
خو همدا مرام مقصد دی رما په زړه شی

دوی چه وکا ته د خان زور او قوته — ویل څه وکوو موږ ته مجبوری ده
بیا د خان ډېرو روپو او ښه دولته — ویل دا خبره موږ ته ضروری ده
ټولو وکا ته د خان صاحب عز ته — ویل موجب د ناکامۍ زموږ خواریده

کونډی ور کړه د اتو کالو هلك ته
شوه تسلیم د وی و هغه خان او ملك ته

تردې مینځ بیا شوله تیر یوڅو کلونه — د ظالم خان عمر خدای کی ور تمام
نړ ولی یې په ظلم بور جلو نه — مظلومان شو له د دی غمه آرام
پر هر چا د ده وه ډېر مکر چمونه — د جا بر سړی همدغه سر انجام

ځینی خیژی د مظلو مو کسا تو نه
ده په ژوند کړی ډېر ډېر فساد ونه

دا آواز د خوږ زړګی دی رباب ندی

نور عبدالجلیل :

چه د عشق په اور کباب شی کباب ندی — که له دوسته پری عتاب شی عتاب ندی
که د یار له غمه سینې اوښکی سری شی — دعشق اوښکی که خوناب شی خوناب ندی
د عاشق و رنګ ته وګوره عاقله — چه دا رنګ یې دزعفران دی ګلاب ندی
خبر دار شه چه عشق بحر بې پایانه — دا دریاب مطلا طم دی سراب ندی
خو به ګرزی ای هوښیاره په امېند کښې — چه دا ژوند د زنده ګی دی حباب ندی
علم ښائی چه مثل د نیك عمل شی — تا اله کړه ځینی جوړه اسباب ندی

آه فریاد مې له خالی کو ګله «توره
دا آواز د خوږ زړګی دی رباب ندی

د خوشحالخان خټك پر غزل مخمس

نیك محمد «فدای یلنی»

یم عاشق په زړه ملال — صورت مې شه لکه هلال
یم دیدن ته د لیوال — نه زه ملك غواړم نه مال
نه د دهر نور جنجال

زه هر دم غم د صنم کړم — چه دزړه په سر بی قلم کړم
نه شاهی دجام او جم کړم — نه به تله دجهان غم کړم
نه په راغله یې خوشحال

باز دنبکا نظر په غره کا — هماډیر جګ الواته کا
مرد په فکر لوړ کاته کا — دا اسفل فکرونه نه کا
په اعلا ختلی فال

دجهان چه ننداره کړم — په لېمو کښې مامیره کړم
حیف که ټیټه خوله سپیره کړم — په اسمان باندی پیره کړم
د همت په پر او بال

هرچه کړی فلك د کاندی — که می لاندی کړی له باندی
نه به کړم ستر ګی ژړاندی — دخپل خدای منت را باندی
چه ئی را کړو بل خیال

زه د شمع پروانه یم — که ستی نشم بند پری نه یم
د دنیا قارون خو نه یم — بخارا بخشم هغه نه یم
په دیدن دیوه خال

راته ګران نوم دلیلی ده — سراومال مې تری «فدا» ده
په شهی باندی شیدا ده — نور جهان وته ئې شا ده
که خوشحال مو می وصال

د پښتون له مجلې څخه اقتباس :

شاعر په قوم کښې څه حیثیت لري؟

نوټ : دا مضمون ماستر عبد الکریم خان صاحب پر او نشل سبو ینګ آفیسر چه د پښتو ژبې یومنلی شوی ادیب دی - ددهلی دریډیو سټیشن نه نشر کړیدی - او اوس ئې مونږ د شکریې سره په «پښتون» کښې شایع کوو (اداره)

مونږ نن په دی خبره باندی لحان پوهه وو- چه شاعر څه شئی دی اوپه یو قوم کښې هغه د کوم حیثیت خاوند دی شاعران په قسمونو دی یوه هغه ډله ده چه نیستی شاعران کړیدی اولکه دنورو کسب کرو غوندی دوی شاعری خپله پیشه کرزولی وی - دادی اونون دپټشی شاعران دی لکه چه :

(۱) : نن د میان عمر صاحب دوران دی (۲) که خبر په دی احوال شی لحما جان

(۳) زور دی ډېر دی پهلوان دبغداد شاه میران

اویا لکه :

(٤) دیارانو کډی کورته وارپه وارلحی -

داخلق دچا خوشا منده او کړی په چاپسی ښه اولی دچانه په زور او دچانه په رضاخه بود کړی - لحی خدای تعالی رازق دی ددی غریبا نانو دروزی درك اولکی ډېره موده ددی شاعرا نو نوبتونه د پښتنو په حجره جماعت کښې سره د منګی رباب ټنګیدل اونن صبا اکثر دپنا ور په ریډیو سټیشن کښې غګیږی دا قسم شاعران په هره زمانه کښې په هرقوم کښې موجود وو - اود یوحده پوری خلقو ددوی هم قدر کړیدی ولی لحما دا ننسنی خبره دشاعرانو دیوبل قسم سره تعلق لری داقسم شاعران دیسو دخا طره نه د خپل شوق او خپل خوږ دخا طره دقوم دغم سندری وائی - دوی دقوم دجذباتو او د هغوی د خیالاتو ترجمانی کوی دقوم دښی بدی آستوګنی او دترقی تنزل ذمه واروی دوی دوطن دخان بیګ ، میان ملا، زبرګ او بابا عالم اوجاهل ، لوی وړو ، اونرو ښځو نماینده ګی کوی سیا ست اومذهب دواړو ددی قسم شاعرا نو نه ډېره فائیده آخستی ده - غرض داچه داشاعر دقوم داقبال ستوری ، دقوم دسیاهی توره دواعظ همسا ، د نیدردلیل

دوطن دمعشوقی دجبین خال ، دځلمونګ اود پیغلو سیال ګنړلی شی اومونږه قوم په مثال د یو وجودوا خلو نودی شاعرته به پکښی دوړه درجه ور کوو - اوهم د داسی شاعرانو په حق کښې دا وینا شو یده چه ، ولی دشاعرانو داقسم دیخوانه دوه ډلی را غلی دی یوی دی ته بزمی اوبلی ته رزمی شاعران وائی دبزمی شاعرانو هغه ټولی دی چه څه وخت دقوم اخلاقی حالت پریوزی ښه خویونه ورته بد اوبد ورته ښه لیدل شی بغض، حسد، کینه ، دمینی اومحبت ځای ونیسی ته ماپسی اوزه تاپسی لګیاشم دیوبل حیا ، عزت آخستل ورته اویه ټوقه ښکاره شی او د اشرف المخلوقات په ځای دارذل المخلوقات یعنی د ځناورو خو یونه را وا خلی نوددی شاعردستر ګونه اوښکی توی شی دی په ځان پوهه نه شی او داسی الفاظ ئی دخولی نه اوزی چه په پوهه به هیچیری دغه الفاظ دی اونه وئیلی شی الطاف حسین صاحب حالی په مقدمه شعر وشاعری کښې په دی ډېرښه بحث کړیدی او دا قسم شاعرانو ته ئی دآمد شا عران ویلی دی یعنی څه وخت چه دوی نظم لیکی نود « ردیف اوقافئی » فهرست به ځان ته داول نه مخی ته نه کیږدی بلکه هغه دغالب خبره چه

آتی هین غیب سی یه مضامین خیال مین غالب حریر خامه نوای سروش هی

یعنی څه وخت چه دوی په طبیعت کښې شی نو مر غلری دوړه وی په هره ژبه هرملك او هرقوم کښې دری قسمه شاعران تیرشویدی فارسی ژبه په سعدی او حافظ اردو په غالب اواقبال بنګالی په ټیګور او پښتو په عبدالحمید ، کاظم خان شیدا ، عبدالرحمن ، سید رسول صاحب رسا، سمندر خان سمندر، عبدا لحیی صاحب حبیبی، خادم اوبی نوا صاحب ، او فضل محمود صاحب مخفی باندی فخر کوی حمید صاحب د طمعی او حرص برخلاف دسیر چشمی څرنګ په ښه پیرا یه کښې تبلیغ کوی هغه وائی :

په حرص که مخ د زمکی کړه پره را به نه وړی تر نصیب ز یات ذره
په دنیاپسی ډېر مه ګرځه هو ښیارشه په حرص سره سړی شی مسخره
اوږی تږی پروت پخپل پوزی کښې ښه یم نه د تخت د پا سه نا ست د بل کره
د منت پلاؤ د ز هرشه که ئی مومی د محنت سو ی سکړك د سا ګ سره

عبدالرحمن بابا داعمالو دنتیجو په باره کښې څومره په اعلی طریقه سره بیان کوی - فرما ئی :

د نیا بحر دی بهیږ ی آ ئینه غو ند صفا خپل خپل مخ پکښې لیدی شی که څوك زشته وی که زیبا

د انسان د متلون مزاجی په باره کښې هغه خلق څرنګ ملا مته کوی وائی :-

کله په نور سوزی، کله رینږدی په ساړه کله مری له لوږی کله مری په ډیرخواره
واړه په غوغادی چه راغلی په دنیا دی نه ئی هغه او ږی په قلا ددی نه ماړه
څه شو که څوك داساعت وهله که یا تړل کړه پیښ به په هغوشی چه وهله که هم تا ړه

په نن زمانه کښې فضل محمود صاحب مخفی ماته په بزمی شاعرانو کښې د ټولونه لوی شاعرښکاری دده په شعرونو باندی دسړی درزمی شعرونو مینه هم ما تیږی - ولی کومه طریقه ، کوم طرز بیان او سادګی چه هغوی اختیار کړیده - دغه په حقیقت کښې دبزمی شاعری اصل اصول دی - مخفی صاحب چه د پښتون دی منتشر اوپرا ګنده حالت ته ګوری - نوپه واز کومی ژاړی - او وائی :-

خاونده ته ودانه کړی ځمونږ دیوولی حجره

کشمیر نه تر هرات هو ری بلر چستا ن نه تر دوری
داټول پښتون دی هر چه دی څه رنګ پروت ذری ذری
دیووجود په شان کړی یاخدایه داذره ذره

لو یو تپو د پښتنو ! په غره په سم پر تو درنو .
نمسو د لو یو پر ګنو ! را ځی چه یوه شو لیونو

یالو یه خدایه ورانه کړی سپیره بیلتون لره دیره

نن پرون مخفی صاحب دزمانی د ګردش په پیر کښې راغلی دی . په خپل کلی کښې لکه د سید انشاء الله خان انشاء او اسد الله خان غالب ډیر دنامرادی عمر تیره وی - په یوه معامله کښې مولینا محمدعلی صاحب مرحوم ته ورغلی وم - ورسره ناست وم چه په دی کښې یو سړی راغی - ویلی مولینا څه دنو کری درك داله او ګوره - هغوی ورته په خپل طرز کښې او ویل چه دهوبی څان له کومه زیره رنګ کړه چه پاتی شوی ته - دغه سړی حیران شو - ویلی عجیبه ده چه دومره قابل سړی دی دومره تنګه زندګی تیره وی مولینا اوفرمایل چه دا دنیا هم دغسی کوی - د قابلو خلقو هم دغسی حال وی . غالب چه بهلول دا نا وو - ددهلی په کوڅو کښې دنوړی ډوډی پامته داره مړشو - او ذوق چه دغالب سره هیڅ نسبت نه لرلو - هغه دیاد شاه وخت استاد او ملك الشعراء وو - ځما ویره کیږی چه مخفی صاحب به لکه دغالب په یو ګوټ کښې مړشی - او خلق به پری یو موټی خاوری وا چه وی - په وطن کښې د شعراء قدر دان نشته کاشکی مخفی صاحب ته دچا فکر شوی - اوپښتون قوم ددی ګو هر یکدانه نه څه فایده وا خستلی .

اوس راځی چه درزمی قسم شاعران او شمیر و - رزمی شاعرانو ته جنګی شاعران هم وائی - څه وخت چه په ملك باندی سیاسی تنزل راشی - ددشمن سوارهٔ دوطن پا که زمکه تاخت وتاراج کړی - اوقوم کښې هیڅ حرکت او جرأت پاتی نه شی - نوداشاعران را پاسی - دقام په لاره کوڅه کښې دننګ او غیرت ډکی سندری او وائی - قوم کښې جرأت پیدا کړی - قوم ملا اوتړی اوهغه زمکه ددشمن نه پا که کړی - دقامونو ځنګلی ددی قسم زمرونه هیچری نه دی خالی شوی - که فردوسی تر اوسه په ایرانیانو داپاس آسمان دی نو د پښتنو تاریخ هم ددی قسم ننګیالونه ډك پروت دی - او خوشحال خان د دغه ننګیا لو سردار بللی شی - دخوشحال خان دیوان راواخلی - اشعار نه دی - دپښتنو غیرت ، اوننګ ناموس یو دفتردی - څه وخت چه مغلو پښتنو ته سپك کتل را واخستل اوپښتانه مشران ئی بی عزته کړ - نوخوشحال خان وربسی توره د تیکی نه را بهر کړه - په سم اوغرهٔ او ګرزیدو دپښتون خپل خپل . قام قام ، او چم چم ئی او غوښتو - او چه ترڅو ژوندی وو - نودغه توره ئی تیکی کښې دننه نه کړه - لکه چه وائی :-

لا تر اوسه ئی ماغزه په قرار نه دی چه چا ماسره وهلی سره په سنګ دی !
د ګینډ یو په جګر کښې ئی ګولی وی که لیدلی چا ځما د ښکار تفنګ دی !
لا په خوب کښې په لرزه پریوزی له ګته چه دچا ترغوږ ځما دتوری شرنګ دی !
که په دا دؤرم ګو ری هغه زه یم چه می داغ په خاطر ایشی داورنګ دی !

په موجوده وخت کښې هم په پښتنو کښې درزمی شاعرانو کمی نشته - زهٔ نه پوهیږم چه دا دچامصرع ده - ځما په خیال دافغانستان لاد آذادو قبایلو دغاړی دچا دذره بخار معلو میږی - وائی چه :

جانان می سر په وطن کیښو د په تاردزلفو به کفن ورله ګندمه

دپښتنو ښځو قومی او ملی جذبه ئی دعشق او محبت په رنګ کښې څر نګ رنګ کړیده - پشاور او مردان په شاعری کښې هم د باقی صوبی نه ډیر زیاټ ذر خیز دی - عبدالاکبر خان د عمرزو

عبدالمالك فدا دچار سدی- امیر نواز جلیا داوتمانزو- فضل رحیم صاحب ساقی دورد کی- عالم شیر دادینه. او مرحوم حبیب الله کاکا دترنگزو ددی زمکی پیدا و اردی - مخفی صاحب چه خرنگ په نن زمانه کښې دبزمی شاعرانو دسرتاج دی - دغه رنگ عبدالا کبرخان صاحب اکبر ته په رزمی شعراؤ کښې زه دټولونه لویه درجه ورکومه - اکبر صاحب لسکیادی خپلو اشعارو له ددیوان شکل ورکوی - څه وخت چه دادیوان دپښتنو مخی له راشی نو خلق به خبر شی چه شاعری څه ته وائی- دده هغه معرکة الاراء نظم « عالم خبر دارشی پیشو حج ته شوه روانه » او کوری نو د هندوستان شاعر انقلاب حضرت جوش ملیح آبادی به موهیر شی - په یو بل ځای دخپل پریوتی قام مقابله د دنیا دلوړو قومونو سره خرنگ په عجیبه طرز کښې کوی - فرمائی :-

هغه قومونه کجاء چه سرته سر نه وائی — نوی دخاورو پهشان، زړوته زر نه وائی
پهبحرو بردی روان، غرته شهغرنه وائی — داحقیقت دی عیان، هسی اکبر نه وائی

زه خوفیر نی ختمه په دستر خوان

کاش اکبر صاحب ته چا مشوره ورکړی چه د سیاست د ازغو ډکه لنډه تنگه لار پریږدی- اوهم ددی شعر وشاعری پهاوزد میدان کښې تنږ راواخلی- نوځما یقین دی چه دټیگور، اقبال- اوخوشحال خان شان له یاد شی ،

دزړی دنیا نه زړه ستړی عبدالمالك فداته غوږ کیږده - د مالك کائنات نه دیوی نوی د نیا خواست خومره په ساده ، عام فهمه خود جوش اوجذبی نه ډکو الفاظو کښې کوی وائی :-

دادنیا کړه ورانه ور په سردغم کسوړه کړه — بله د نیا جو ړه کړه ر به د د نیا
داخنگهدنیا دهدی کښې کورپه کور غمونهدی — اوتی ذ یو بل په تباهی پسی قامو نه دی
توری دی ټینگونه، جحاز ونهدی بمونه دی — عدل انصاف ورك شو هرځای جبردی ظلمونهدی
سمه داسی خلقوته د خپل قدرت تتوړه کړه — بله د نیا جو ړه کړه ، ربه د د نیا

زه نه پوهیږم چه په دوه څلور پاڑی کښې به دا آبا سینده خرنگ په کاسه کړم - ځکه چه په دی مضمون باندی خلقو په سوونو کتابونه لیکلی دی - او که دچانه کیدی شی نو د آزاد صاحب آب حیات اود حالی صاحب مقدمهٔ شعرو شاعری دی او کوری - نود شعره شاعری په ماهیت به پوهه شی ځما ددی مثالونونه مطلب دادی چه ښه شاعر دقوم په جوړولو کښې د هر چانه ډیره لویه حصه لری ، او همیشهئې لرل ده - دیورپ شاعری خو دیورپ دقامونو داخلاقو آینه کښړی شی - د ګیټن ، شیلی ، بایرن ، کلرج ، شکسپیر - کویتی ، هومر اودانتی اشعار اواولی نو معلومه به شی چه دبهترین اخلاقو ، نیکو جذباتو ، او فلسفیانه خیالاتو شاهکارونه دی - دسعدی رح او حافظ رح حمید او رحمان ، غالب اقبال او ټیگور ژولی هم ددغه گلونو ډکی دی .

پام کوی چه دمرکزی اسمبلی شاه ځلمی پښتون عبدالغنی خان موهیر نه شی - دی په پښتنو شاعرانو کښې لا ځان له دیو جدا طرز خاوند دی - دده شعرونه د فلسفی نه ډك دی - په الفاظو کښې ئی دومره زور او خیالاتو کښې ئی هغه دغضب روانی ده چه لکه د آبا سنده روان وی - چه یو ځلی شروع شی نو دده دخیال نیلی درزم اوبزم په میدان کښې یو شان زغلی - چه د قوم د شجاعت ، تهور او بهادری کارنامی را شروع کړی نو دسړی په رګ رګ کښې دشجاعت او حمیت یوه بی پناه جذبه را پیدا شی - لکه دمکتب دهلکانو په سنده کښې چه وائی ،

خوږ دی ما ته ملك ځما خوږ د کل جهان !
زه به ځم په جنګ دقام ، زهٔ چه شمه ځوان !

زه پښتون بابا دخپلو وینو پیدا کړی زه پښتنی مور په غیرتی پیو لوی کړی
مونږ په پلار نیکه دی دمردی کارونه کړی
زه به نامرد نه شم که نامرد شی کل جهان

زه به لوی زړګی لکه شیر شاه دبنګالی لرم مټ به ابدالی لرم همت به د وهیلی لرم
سر به خکته نه کړم که زرګونه کشای لرم ربه خکته مګړی چاته سر ته د افغان
زه به ځم په جنګ دقام زه چه شمه ځوان

دبزمی طرز وینائی هم لږ غوندی واوری :

داخودجانان دسترګو رنګ دزړه مستی ده دی نه جوړ جنت دی اودحورو خولی ریښمینی
تاچه کور تالا کړو دمالیار دکور له به څه وړی ؟
ته چه زړګی تش کړی نود یار کور له به څه وړی ؟

حقیقت دادی چه دیو قام تهذیب او تمدن دهغی قام په ژبه پوری تړلی وی - اوژبه به شاعر پوری کلکه غوټه وی - ولی دپښتو ژبی باره کښ دخوشحال خان دا خبره چه :

چائی پلو دمخ نه لری نه کړو پښتو لا هسی بکره پرته ده

اوس هم هغه هومره رښتیا ده څومره چه پخواوه - زهٔ منم چه « پښتون » اخبار اود پښتو ټولنه په دی باره کښ کافی کوښښ کوی - ولی پښتو لا هسی بکره پرته ده - ولی ځمونږ لاری تیری شی چه دی خبری ته موفکر شی چه په قوم کښ دفضل حق شیدا ، عبدالخالق صاحب خلیق ، صدیق الله خان صاحب ریښتین ، محمدشاه صاحب خیال ، نقیب الله صاحب شبنم ، خان بهادر صاحب دا کوړی الف جان ختکه ، خان صاحب عبدالولی خان اومحترم قاضی صاحب عطاء الله خان وزیر مالیات غوندی نور هم قابل قدر اهل قلم او شعراء موجود دی- داسی اورو چه مولینا عبدالقادر صاحب له هم ددی غمه خوب نه ورځی - او قلم ئی هم ډیر ښه ګرزی - نن په آل انډیار یه یو دهلی کښ ددی پښتو حصی انچارج دی پکار دی چه داصلی قسم شاعرانو قدر اوشی- اوډوی په صحیح معنو کښ دقوم دکوتی غمی او ګرزی .

د سید جمال الدین افغانی نظریه

د ژبی په ادبی تاثیر کښې

د ښاغلی «ثابت» ترجمه :

په بورو هوادو کښې د عربی ژبې د نشر او خپرېدلو دپاره د عربو فاتحینو زیار نه دی ایستلی او نه دوی د خپلی ژبې دانتشار د پاره څه اسباب او وسائل وضع کړیدی ، بلکه هغه با هر ادبیات او هغه نابغه حکم او مواعظ او مفید امثال چه دغه ژبه پرهغو مشتمله ده او په فطری ډول سره چه دې ژبې کښې ذخیره دی [illegible] د عربی ژبی د عمومیت او احاطی موجب گوزیدلی دی ، او د عامی دنیا په ښارو کښې ددی څانگې او ریښې غزیدلی دی - «حتی چه عرب پخوا له اسلامه د جاهلیت په زمانه کښې سره له بدویت هم دوی د ژبې د آدابو د لوړوالی له کبله د لویو پاجهانو له خوا لکه «کسرا نوشیروان» په لوړ منزلت پیژندل شوی وو ، او جوائز به ورکېدل ، او د خپلی ژبې د ادابو په اثر دوی په عجمو کښې د تجارتی معاملو له حیث خورا جگ مقام اشغال کړی و ، او هغو حکمتو چه د دوی پرژبو جاری وو د خلقو په زړو کښې ئې په منلی توگه سره ځای نیولی و .

او په دغه ډول ځلانده ، فطری عربی ذکاء د ژبی له سلاست او ادبه سره متناسبه وه ، کوم وخت چه لوی حکیم لکه (حرث بن کلده) مثلا د عربو په منځ کښې پیدا شو نوده و کولای شو چه د خپلی ژبی د آدابو او د ذکاء په اثر د فرس پر اکبر حکیم بری ومومی ، هر نابغه شاعر چه به د عربو په کومه قبیله کښې پیدا شو نو که به څه هم دی د نسب له خوا وضع او وړوکی وخو دوی به دده د شعراوادب په نسبت ځمانه گاوه ، او مالی مرستی به ئی ورسره کولی ، او کوم وخت چه اسلامی حضارت په وجود راغی او په دنیا کښې ئی د عظمت بیرغونه ورپېدل نو ډېر ادیبان د خپل نیوغ له امله د وزارت ، بیا دامارت و رتبی ته رسیدلی دی ، او هغه ادیبان چه د خلفاء له خوا د جوائزو په اخیستلو بریالی شویدی خورا ډېر دی چه د کثرت له امله ترشمیرلاندی نه راځی

دا هغه ځنی مادی تاثیرات دی چه د ژبی د ادیبانو په برخه شوی دی .

او هغه څه چه معنوی تاثیرات دی ، هغه دادی چه ډېری متشتتی قبیلی او تبت افکارئی د وحدت په موزی کښې راغونډ کړیدی ، او لویه عربی دنیائی ولوړافتخاری منزلت ته ورسوله ، ډېر قومونه مونږ لیدلی دی چه د هغو هوادونه نورو غصب کړیدی نو چه دوی د هغی خپلی محکومی ژبی حمایه کړی پخپل همت سره ئی هغه ساتلی ده ، دفرصت په مهال کښې د نهضت اوج ته رسیدلی دی ، پخپله ژبه داټول شوی تللی ملکونه ئی بېرته په لاس راوستلی دی ، یعنی ترټولو عواملو او اسبابو ژومبی ددغی خپلی ژبی په اثرئی خپل نهضت مېندل پخپله غوښته بریالی شوی دی .

او که چا خپله ژبه هېره کړی او د هغی فضیلت او مزایائی ترشا غورزولی دی ، هغو خپل تاریخ ورک کړیدی ، اوخپل مجد ئی له لاس ایستلی دی ، په استبعاد کی همیشه پاتی دی څوچه د زمانی دوران څه کاندی .

ادبی کتنی

دنورو ادب ته یوه کتنه

د م حبیبی لیکنه او ترجمه

دفرانسی پخوانی لیکونکی

(۱۱)

Corneille کورنی

(۱۶۰۶ - ۱۶۸٤)

ژوند :

پیر کورنی Pierre Corneille په ۱۶۰۶ کال په روئن (Rouen) کښې وزېږېدی فامیل یې د قضاتو او پلار یې د لحنگلو او اوبو محافظ و ، خپل امری مطالعات یې د ژېزویت Jesuites په مکتب کښې کړی او وروسته دوکیل الدعوا په حیث وټاکل شو ، د ادب په دگرگښې هغه وخت داخل شو چه د (ملیت) Melite کومیدی یې ولیکل ، لحکه چه پدې اثر کښې تشویق ورکړ شوی او ښه نتیجه یې لاس ته راغله نو پرهمدغه لار پسی رهی شو . حتی ترڅه وخته پوری یې د هغو پنځولیکوالو په ډله کښې گڼون وکړ کوم چه د (ریشلیو) (۱) په امر او دپلان په مطابق سره یې درامې انشاء کولی ، په تراژیدی کښې یې امتحانی او دآزموینی اثرمیدی Medee و چه په ۱۶۳۵ کال کښې یې لیکلی دی

خوترټولو مهم اثراو تراژیدی یې (سید) Cid نومیږی چه کورنی یې په یوه وار ولوړتیا او اعتلا ته ورساوه . دې اثر دادب په نړی کښې دومره تأثیراو اغېزه وکړه چه سمدلاسه د پیر کورنی پمقابل کښې دېر غلیمان او رقیبان را پورته شول ، حتی پخپله ریشلیوزیرهم دده سره بدورده اوخصومت یې وزسره وموند

خو کورنی په نورو شاهکارانو سره لکه هوراس - سینا Horace - Cinna (۱۶٤۰) پولیوکت Polyeucte (۱۶٤۲) جواب ورکړ .

په ۱۶٤۰ کښې یې ازدواج کړی او په ۱۶٤۷ د فرانسې په اکادمی کښې شامل شو .

په ۱۶۵۲ کښې کورنی یوه تراژیدی د پیرتاریت Pertharite په نامه ولیکل ، دې اثر دده واعتبار ته صدمه ور رسولی او کورنی تیاتر پرېښود ، خو وروسته (فوکې) (۲) دی دعوت کړ چه ددې صنعت د پیاره

(۱) ریشلیو Armand-Jean du Plessis Cardival de Richelieu (۱۵۸۹ - ۱۶٤۲) په ۱۶۲٤ کښې د دیرلسم لوئی (Louis XIII) وزیر وسو ، نجباء یې کنټه کړی ، د پرتستان پارټی یې تباه کړی او داطریش کورنی یې مغلوبه او مقهوره کړه .

(۲) فوکې Nicolas Fouque د شورلسم لوئی د مالیې وزیر و چه وروسته محکوم شو

کوم اثر انشاء کړی ، نو په ۱۶۵۹ کښې یې د (اودیپ) تراژیدی سره له کوچنی او مختصر شهر ته ولیکل وروسته له دینه کورنی په پاریس کښې خپل دایمی مقر ټینګ کړ ، له بده مرغه پدې وخت کښې د ژوند د ناکامیو او ربړو سره مخامخ شو ځکه د یوې خوا ملت و (راسین او کینولت) (۱) ته ترجیح ورکول او کورنی مجبور شو چه د(سورینا) د انشاء څخه وروسته د لیکسنی شغل کاملاً پریږدی ، او د بلی خوا څخه یې فامیلی مصارف لوړ تللی او دوه زامن یې هم مړه شول . کورنی د خپلو خرڅو د عهدې څخه په ښه توګه نسوای وتلای نو فقراو افلاس یې وپیژاند .

بلا خره یې په ۱۶۸٤ کال کښې مرګ تقریباً غیر مرئی او په پټه خوله تېرشو .

آثار : د کورنی عمده آثار دا دی :

۱. کومېدی : کونډه (۱۶۳۲) دمانهی دالان (۱۶۳۳) پلاس روایل (۱۶۳٤) مضحك رؤیت (۱۶۳۶) دروغجن (۱۶٤۳) .

۲. تراژیدی ، مېدې (۱۶۳۵) هو راس - سینا (۱۶٤۰) پو لیو کت (۱۶٤۲) دیو پې مرګ (۱۶٤۳) تیودور باکره او شهیده (۱۶٤۵) هیرا کلیوس (۱۶٤۶) او دیپ (۱۶۵۹) تو زان دور (۱۶۶۰) پسیشې (چه دمولیر په اتفاق سره ئې لیکلې ده (۱۶۷۱) سورینا (۱۶۷٤) .

۳. مختلف آثار ، تقلید (۱۶۵۶) مختلف اشعار؛ ددرا ماتیك شعر دفواید و اوبر خوبیان ؛ دتراژیدی بیان ددرو وحد تو بیان .

د کورنی خواص :

کورنی اصلاً دنورماندی څخه ؤ اویو اصیل نورماند (Normand) شمېرل کېدی ، ښکاره ده چه ددې ځای خلك دماهرانه منازعاتو اولطیفو شخړو سره ډېره مینه لری ، ځکه چه کورنی شپږ څلوېښت کاله په خپل هیواد کښې تېر کړی دی نو پور تنی خواص په ده کښې په ښه توګه ښکاری ، بر سېره پر دې دو کیل الد عواه شغل او وظیفه ئې وطبیعی تمایل ته تقو یه ور کول . کورنی بو رژ وه ، امین او صادق ، د کارسړی او دفامیل پلارؤ . په ټوکو ټسکالو او هزلیاتو کښې ئې لوی لاس نه درلود او په موقر اوغمجن صورت سره ئې په جامعه کښې تظاهر کا وه .

د کورنی ادبی عقاید :

د کلا سیکی تراژیدی قوانین :

کلا سیکی تراژیدی ښائې پنځه اکته ولری اودا اکتونه بایددلاندنیو شرایطو تابع وی .

---

(۱) راسین او کینولت Racine ، Quinault شرحه به یې په وروستنیو ګڼو کښې راشی .

۱ـ دعمل وحدت، Unitéd,action یعنی همده عمل باید یواوواحدوی یاپه بل عبارت سره ټوله تراژیدی ښائی یوه منطقی خاتمه دا کتورانو دوضعیت په مقتضا سره ولری .

۲ـ دوخت وحدت Unite de temps یعنی دتراژیدی عملیات او پیښی باید به اکثر صورت سره څلور وېښت ساعته ونیسی نه لکه دسینما پرپرده باندی چه په یوه لنډه فاصله (Lnterval) سره کوچنی هلك ځوان اویا یوښار خراب یاو دان ښکاره کیږی .

۳ـ دمکان اوځای وحدت Unite de lieu یعنی ټول نمایش باید په یوه ځای او یو ترتیباتو او تزئیناتو کښې وښودل شی نو که دا ځای یوه ماڼۍ او یا کوم بل عمارت وی خو په هرصورت د تیاتر د نمایشگاه د زینت اوسنگار وحدت لازم دی . (Un seul décor)

برسېره پر دې د کورنی په عقیده سره که د « هیرو » قوت او ارا ده دتحسین او تمجید باعث گرزی نوښائی چه دتراژیدی څخه دزړه ضعف اوپه تېره بیاعشق او مینه حذف او وایستل شی ځکه په دې باره کښې دیوې خوا داسی وائی :

« ددرا ماتیك شعر یوازنی مقصد اومرام دننداره چی خوښی اوسرور دی »

(د درا ماتیك شعر بیان)

اودپلی خوا په هغه مکتوب کښې چه په ۱۶۶۶ کال ئې «وسنت ایورمون »ته لیکلی دی هسی ږغیږی «تردی ځایه زه داسی گڼم چه عشق یو دضعفه ډك تمایل اوجذبه ده چه نه ښائی په یوه هېر وئیکه درا مه کښې د حاکم اومسلط په توگه وگڼل شی. زما داسی خوښه ده چه دی دیوتزئین اوسنگار په حیث وی نه چه رکن اعظم اوبشپړ جسم وبلل شی »

(وسنت ایورمون ته مکتوب)

طبیعی ده چه « لوړ روح لرونکی هېروگان » باید دتظاهر اود ځان دښکاره کولو موقع او فرصت ولری نوشاعر اولیکونکی دا همیته ډك موضوعات پلټی لکه چه ددرا ماتیك شعرپه بیان کښې هسی لیکی :

« دتراژیدی مقام اوحیثیت دداسی مضامینو تقاضا کوی چه یا ملت دهغو سره لوی انتر ست و لری اویا ترعشق اومینی لوړ اونجیب تمایلات وی لکه دجا طلبی حب اویا انتقام او کسات .

(د درا ماتیك شعر بیان)

دفوق العاده خواصوسره باید فوق العاده حالات او وضعیات هم توام وی چه حتی (ماوراء مقرون به حقیقت) Au dela du Vraisenblable لاهم ولاړ شی .

اوددې دپاره چه ننداره چی اولیدونکی ئې تصدیق وکړی او وئې منی ښائی دا (ماوراء مقرون به حقیقت) رښتیا اوپه تاریخی سند اتو سره اثبات شی نو موضوعات باید تاریخی وی لکه چه د تراژیدی په بیان کښې لیکی :

« دعمل په اختراع کښې هیڅ ډول خپلواکی وجود نلری »

د کورنی کومیدی :

د کورنی کومیدی دمغا صرو کومیدیو څخه ددې حیثه پېژندل کیږی چه په هغو کښې وحقیقت او رښتیا ته خاصه توجه اوپاملرنه شوی ده . د ټولی پسیس او درامې بنسټ دمینی پرشخړ و باندې ایښودل شوی دی ، ځوانان سره اړیکی اوارتباط ، مینه،او محبت موندی ، وروسته خپه او د دوستی مزی ئې سره شلیږی بیانو بیرته سره وپیژنی . په یای کښې کورنی عقل اواستد لال ثابت کړی اوپه ډیرعجیب صورت سره دار ادې تاثیر اواغیزه پرمینی اومحبت باندی څرګند وی . خولکه چه دده په خواصو کښې مو وویل : هغه شی چه د کورنی په کومیدیو کښې نسته دمضحکې سبک دی .

نتیجه :

کورنی نوی شاعر اوپه عین زمان کښې لوړ تراژیک شمېرل کیږی چه عموما ئې « د تراژیدی پلار » بولی . دده تراژیدی دعظمت ، فصاحت ، قدرت او داخلاقی لوړتیاؤ لرونکی دی ، سبک او اسلوب ئی ټینګ ، دحرارته ډک اوډیرځله عالی دی خودژوند په وروستنیو کلوکښې ئی چه دانحطاط او نزول دوره بلل کیږی شیوه تاریکه اوبیان ئې مغلق دی .

هیڅ دراماتیک اثر د کورنی دآثارو په څېرپه وارسره دتنوع او وحدت خاوند نه دی . دی په ټولو اقسامو او انواعو لکه کومیدی ، کومیدی هیرو ئیک او تراژیدی کښې لاس لری ، دا نتیکیتې مختلف ښارونه اوعصرونه ئې پرصحنه ښکاره کړی او دهر راز حالاتو او کیفیاتو تصور ئې کړی دی .

د کورنی هیروګان اوقهرمانان په خپله ناتسخیر کېدونکی انرژی سره پېژندل شوی او سړی دهغو دحالت څخه دانسانی قوی اوتسلط په اندازه پوهیږی .

کورنی دفرانسې لوی ایدیالیست شاعر او د کمال حسن طالب دی .

« نوریبا »



مشاهیر

داردو ژبی مورخ نصیر الدین هاشمی

دښاغلی « سیفی » ترجمه :

دشهرت نه لېری او له صلی څخه بی نیازه اوله ستاینه څخه بی پروا داردو ژبی چوپړ او خدمت کار خلك ډېر لږ او په مشکل سره پیدا کیږی او دا راز خدمت یو راز جذبه ده چه ددغی جذبی دائر لاندې هم دغه راز کارونه کیږی لیکن داراز خلك ډېر لږ اود گوتو په شمېر وی چه سره د نورو ډېرو مشاغلو او چارو اود خپلی ژبی خدمت کوی .

مولوی نصیرالدین هم له دی راز اشخاصو څخه دی چه دشلو کلو را پدیخوا په ډېر چپ والی او خاموشی سره په مسلسل ډول دخپلی اردو ژبی خدمت کوی نړی پهدی پوهیږی چه اردو ژبی پخپله دومره وسعت پیدا کړیدی .

کوم کوښښونه چه ددې ژبی دترقی دپاره کیږی اوترنن ورځی پوری شوی دی که ددی ژبی دی روز افزونی ترقی ته وکتل شی او سره مقایسه ئی وشی نو ددی ترقی په مقابل کښې دغه کوښښونه ډېر لږ او محدود دی لیکن شاید قدرت داراز خلك هم پیدا کوی چه هغوی پخپله په دی خبره نه پوهیږی چه دوی داکار دڅه دپاره اوولی کوی مگر دا یو راز شوق اومینه دی چه پخپله انسان دغی خواته مائل او مجبوره کوی اویو رازذوق دی چه انسان دغی خواته را کاږی لکه چه دهاشمی صاحب پهتولو کار نامو کښې هم دا جذبه کار فرماده چه دا مطلب به مونږه په راتلونکو کرښو کښې څه قدر ته په تفصیل سره ښکاره اوبیان کړو هاشمی صاحب پخپله په یو ځای کښې لیکی :

زه داول او ابتدا څخه په دی حقیقت اعتراف کوم اووایم چه ماتراوسه په اردو ژبه کوم احسان نه دی کړی او کوم شیان چه ما لیکلی دی هغه ما په خپل شوق لیکلی دی او که څوك خپل شوق پوره اوتر سره کړی نوتا سی ووایی چهدپتهاحسان ویلی شی ؟

دانه عجز دی اونه خا کساری بلکه حقیقتدی مگر کومشی چه لههغی څخه هاشمی صاحب په شوق او مینی سره تعبیر کوی هغه دعشق داندازی پوری رسیدل دی که څوك دده په علمی جد اوجهد کښی دقت او پلټنه و کړی نو هغه به ارو مرو دی نتیجی ته ورسیږی چه هاشمی صاحب داردو ژبی سره عشق او مینه لرل اودده دتصانیفو ټول مجموعه هم ددی مینی مظهر دی، داردوژبی خدمت کول دده دژوندون نصب العین اوپهدی خبره کښی شك نشته چه داردو ژبی هغه مصنفان دممتاز حیثیت خاوندان دی چه هغوی بی له کوم ذاتی او شخصی منفعت څخه داردو ژبی خدمت دپاره دخپل خوښ ژوندون یوه برخه وقف کړی اوتخصیص کړی ده بلکه داددوی دپاره لوی امتیاز دی چه د فرصت په وقت کښی ئی خپل علمی مشغلی ته دوام ورکړی او دخپلی ژبی په خدمت کښې ئی دخپل زړه اودماغ سکون او دفرحت او هوسائی کښلی دیچه دپته باید ایثار او قربانی وویل شی .

مؤرخ نصیرالدین هاشمی

دا دفرحت لمحات چه هر کله انسان دټولی ورځې زیار او مصروفیت څخه خلاص شوی او دخپل زړه او دماغ دتفریح او آرام دپاره دتفریح او راحت نور لوازم پلټی چه هغوته آرام ویل کیږی مگر د هاشمی صاحب علمی مصروفیتونه موقتی شیان نه دی او نه دده تصانیف سرسری جذبات دی بلکه دده علمی مصروفیتونه او پلټنی علمی کوټلی حقایق دی چه دده د کلو کلو زیارونو او پلټنی نتایج دی دده علمی پانگه او سرمایه کومه تفریحی پانگه او سرمایه نه ده بلکه د کلو کلو دزیارو او پلټنی نتیجه ده اودا دهغو خلکو ډیره لویه نیکمرغی او سعادت دی چه دهغو تفریح علمی پلټنی اود هغو شوق ادبی خدمتونه دی دا ښکاره خبره ده چه هاشمی صاحب چه کومی کورنۍ سره تعلق لری باید دی ددی خصوصیت خاوند دی چه دی په علمی خدمت کښی پوره برخه ولری او دا ځکه چه دده کورنی ډیر تالیفات او تصنیفونه لیکلی او خلکوته ئی دیاد کار په ډول پری ایښی دی او مونږ دا ویلی شو چه هاشمی صاحب ته هم دعلمی خدمت مینه او شوق د خپلو پلرو او نیکونو څخه دوراثت په ډول پاتی دی لیکن دا خبره چه ددی دروند امانت دا زمه داری ده تر کومی اندازی احساس کړیده دی په سنه ۱۸۹۵ ع کښی پیدا شوی دی او دده دعمر په دولسم کال تعین په هغه وقت کښی چه دده دهوش او عقل اوفکر سترگی بالکل پټی وی دده پلار مړ اودی یتیم پاتی شو اوداهغه وقت او زمانه ده چه په دی وقت کښی کوچنیان په کوم قالب کښی واچول شی نو هم هغه راز کیږی اوچه بدو او اکارو خلکو سره ناسته ولاړه ولری نو په معنوی موت سره هلاك اود ټولو محاسنو اوفضائلو څخه دهمیشه دپاره محروم پاتی شی او که په ښه اوسمه لیار روان شی نو خپل او دخپل مور او پلار او کورنی نوم اونښان ښکاره کړی پلار دهغه لیار ښوونکی نوم دی چه لکه دا شان سره مینه او کله محاسبه هم کوی لیکن په دی ځای کښ دا ټول دمور وظیفه وه اودا دده دمور د زیارونو نتیجه وه چه هاشمی صاحب دعلم او زد کړی په سمه لیار روان شو د کوچنی والی څخه دهاشمی صاحب صحت ښه نه راوتل به ناروغ و اوسره ددی چه ده کوم یو صحیح روزونکی او خوا خوږی غم خور او لیار ښوونکی هم نه در لود لیکن سره ددی هم دده فطری ذوق به تل ده سره په دی لیار کښ مرسته کوله او د مطالعی شوق دی دغه راز علمی ماحول ته ور ور ساوه چه دی به هیڅ کله دخپل شوق څخه نه غافل کیده بلکه چه سومره به ئی پوه اوفکر پخیدل نو دده ذوق اومینه به لا زیاتیدل دده مور دی په دارالعلومو کښ داخل کړ لیکن په دغه وقت کښ دده صحی وضعیت بالکل خراب او تر دې اندازې ناروغه شو چه دده دتحصیل صورت په ظاهر کښ یو ناممکن غوندی کار ښکاریده لیکن مینی او شوق دده مرسته وکړه او ددغی کار په اثر ده خپل تحصیل او مطالعی ته ادامه ور کړه اودمرضونو د هجوم په مقابل کښ دی مغلوب نشو او هم دغه شوق اوذوق دده دبړی مانګان شو چه دی ئی دجهل دلوی سینه څخه ویست اونن دادب د آسمان په ستورو کښ دی ځلاند و رو ښانه ستوری ګڼل کیږی د هاشمی صاحب وطنی دکن حیدرآباد دی او ددی وطن پاك خدای تاافتخار په برخه کړیدی چه په دی وطن کښ دعلم اوفضل قدردانان ډیرزیات وی او په دغه سرزمین کښ تل داراز پوهان پیدا کیږی چه هغوی داردو ژبی خدمت دخپل ژوند غوره محصول ګڼی چه په کوم وخت کښ دهاشمی صاحب فکراوعقل به ځای کیدل نو خپل ځان ئی به یو دارازماحول کښ و موند دا یو مثل شوی حقیقت دی چه انسان د خپل ماحول څخه نشی جلا کیدلی او په کوم ماحول کښ چه انسان وده اونشو نما کړی وی او په کوم تمدن کښ ئی سترگی سپړ دلی وی د هغی څخه بالکل ځان نشی جلا کولی اونه دی دخپلی زمانی در جحا ناتو څخه ځان ژغورلی شی دا هم مثل شوی او صحیح خبره ده چه دانسان تخلیقی قوتونه اوجدت او ندرت او علمی اقتدار خپل بروز کو ولی شی لیکن په دغو شیانو کښ ارو مرو دهغو فضا گانو آثار او نقوشی لیدل کیږی چه په کومو فضا کښ ده ساه اخستی او تنفس کړی وی او د هغی خاوری آثار به پکښ موندل کیږی په کومه خاوره کښی چه ده خاپوړی کړی

اودی یکښې پیدا شوی وی اود هغو خیالاتو اثرات یکښې لیدل کیږی له کومو خیالاتو څخه چه دی متأثر شوی او دده په دماغ او فکر کښې ئې ځای نیولی وی مونږ د هاشمی صاحب د ماحول اندازه دده د خپل تذکره دارالعلوم نومې کتاب څخه لګولی شو اوله دغه ځای څخه دده د تعلیمی جد اوجهد ابتدائی دوره شروع کیږی سره ددې چه ددغه ځای ژوند ډیر مختصر و او دا خبره هم پدې ځای کښې د یادولو وړ ده چه په کوم وخت کښې دده داردو ژبې سره مینه پیدا کیدله په دغه وقت کښې د مولانا شبلی علمیت اوتصنیفاتو په ټول هندستان کښې شهرت در لود هاشمی صاحب د مولانا شبلی څخه ډیر اثر پذیر معلومیده اودده طرز او مضامینو تخصیص چه دده دتصانیفو څخه ښکاره او معلوم دی مولانا شبلی تتبع ښکاره کوی شبلی دیو عجیب اوناآشنا حیثیت خاوندو اودا کومه دحیرت او تعجب خبره نده او که هاشمی صاحب دهغه څخه متأثر شوی وی نوهغه له کوچنی والی څخه تاریخ او سوانح او سفرنامو سره مینه درلوده او یدی کښې شك نشته چه د علامه شبلی کتابونه او تصنیفات به دده دطبیعی رجحاناتو د تسکین موجب شوی وی او پرته له دی چه ده له دغه جګ شخصیت څخه فیض حاصل کړی وی هاشمی صاحب دحضرت امجد مولوی وحی الدالدین « سلیم » چه په خپل وقت کښې وتلی فاضل و هم ناسته ولاړه او صحبت دراود او دده دتحقیق او تنقید مینی او دغو راز جګو پیاوړو پوهانو سره ناستی ولاړی او صحبت دده په علمی لوړتیا کښې پوره اثر درلود او په دې لړ کښې هاشمی صاحب ته یوه نوی لیار ښکاره شوه او مونږ وینو چه د هاشمی صاحب ډیر کتابونه او تصنیفات داردو ژبې د ادب او تاریخ سره ربط لری کومه نظریه چه مولوی فرحت الله بیګ دهاشمی صاحب په نسبت ښکاره کړی ده دهغو نظریاتو ځنی جملی دادی :

ځما دوست سید نصرالدین هاشمی له هغو خلکو څخه دی چه سره ددی چه توله ورځ د دفتر کار کوی بالکل نه ستومانه کیږی . . . . . ده یوالحی یو مضمون اخستی دی اوهم ددغه مضمون اوموضوع په شاوخوا کښې کوښښ کوی اوهم داراز خلك څه نه څه کار کولی شی اوهغه خلك هیڅ نشی کولی چه هری خواته لاس اوبښی غور ځوی او هرشی چه لاس ته ورځی هغه را ټول کړی او ټولنی ته ئې وړاند کوی او ددی کار په اثر دادب دعوی دار او ځان ادیب معرفی کوی لهدی څخه معلومیږی چه هاشمی صاحب یو سطحی ادیب نهو دده دتحقیق او تنقیدی خیالاتو څخه دا خبره معلومیږی چه ده ډیره وسیعه مطالعه درلوده اوده په تل ددې خبرې کوښښ کاوه چه دهرشی اود هری موضوع عمق او حقیقت ته ځان ورسوی او هم داسبب دی چه دده معلومات سطحی نه وی او کومه نظریه چه دی ښکاره کوی هغه اول دعقل په تله تلل شوی وی دی دیوی موضوع په لیکلو ترهغی وخته پیل نه کوی ترڅو چه دی اول ددغی موضوع پهشا اوخوا کښې پوره پلټنې ونه کړی اود خپلو پلټنو ټول ذرائع به کار اچولی اوددغی مقصد په شا اوخوا کښې پوره معلومات لاس ته راوړلی دده دبیان طریقه اود بیان اسلوب ډیر ساده اوسلیس او عام فهم وی او دده دبیان اسلوب د موضوع سره ډیر مناسب وی اودا ضروری خبره ده چه د اسلوب او بیان انتخاب باید د موضوع په لحاظ وکړ شی اودا ځکه چه هم دا د اسلوب او نګارش او لیکنی طرز د موضوع په ښه والی او خوږ والی پوره اثر کوی دده په تحریر کښې سنجیده ګی اومتانت ښکاره کیږی اردی دخپلو نظریاتو په ښکاره کولو کښې له ډیر احتیاط څخه کار اخلی او په خپل تحریر کښې دا راز خبری او جملی لیکی چه هغه مفیدی اود مطلب او موضوع په وضاحت کښې مرسته کوی اودا راز کار او انتخاب پخپله یو ګران کار دی لیکن هاشمی صاحب ته په دی کار کښې پوره کامیابی حاصله ده او دده په تصانیفو کښې دغه ښکلی مفکوره په هر ځای او هره موضوع کښې لیدل کیږی او دده ضبط او فیصله په هرځای کښې ډیر نا آشنا او ښکل او ګټور اثر ښکاره کوی دده د تنقید

خصوص کښې سید داکتر حفیظ صاحب دا راز نظریه ښکاره کړی ده هاشمی صاحب په ادبی حس او غیر جانبدارانه فیصله کښې دپوره ملکی خاوند و او داهغه صفات دی چه د موجوده وقت د اردو ژبی په ادبیاتو کښې په عمومی ډول سره بلکل لېږ او تقریباً معدوم لیدل کیږی دده په تنقید کښې تنقیدی نظریه او رائی بالکل په غیرجانب دار ډول او بی ویری وی او سره ددې ټوله خبرودده مقصد دچا عیب جویی او نقص ښکاره کول نه وی دده د بیان په طرز کښې ادبی شان او روانی وی او دی خپل مقصد په خوږه او ښه پیرایه کښې ادا کوی او سره ددی خپل دلائل د حقائقو په رونما کښې وړاندی کوی.

سیدره :: ۲۵ مارچ سنه ۱۹۴۰ څه رنګه چه موسیقی د اوریدلو قوة ته خوند او مزه ورکوی همدغه راز ادب د ذهن د پاره دانبساط موجب او باعث وی او دا هغه لطف او خوند دی چه ددې خوند په اثر دماغ د فلاح منزل ته رسیږی او پخیالاتو کښې بلندی او جګ والی پیدا کیږی او داشیان دانسان دوجدانی قوتونو په بیدارولو کښې محد او معاون ثابتیږی.

په حقیقت کښې کوم خدمت چه داردو ژبی تراوسه پوری هاشمی صاحب کړیدی دغه خدمت په تاریخی او تنقیدی لحاظ په اردو ادب کښې مخصوصه درجه لری او له دی کبله چه دی یومورخانه ذهنیت لری په ده کښې داصلاحیت په پوره او جګه درجه شته دی چه دخرافاتو د انبار څخه تل جواهرات او ملغلری چه هم داشی دادب پانګه او سرمایه ګڼل کیږی جلا کولی او هم پدی کار ده د پلټو حق ادا کړی او زمونږ د پاره د فخرموجب او دراتلونکو نسلو د پاره د سمی لیاری د موندلو د پاره روښانه او بل مثال دی.

لکه څه رنګه چه د حسن او ښائیست د پاره کوم جامع تعریف نشته دادب تعریف کول هم یومحال کار دی لیکن په حقیقی ادب کښې یوراز استقلال وی او په کوم وقت کښې چه له دغی استقلال څخه انسان مستفیض شی نو پدغه وقت کښې دده په مزاج کښې یوراز مسرت او خوشحالی پیدا کیږی او دی تل د یو دائمی مسرت حاصل وګرځی یعنی دادب د ځلاندو ملغلرو ځلیدل او صفا والی او روڼ والی هیڅ کله نه لږیږی دده د تنقید ښکاره ښه والی د احساس اهمیت ، جرئت ، خلوص صفائی او بی باکی ده دده کارنامی په یو داراز وخت کښې چه ادب نوی اړخ تبدیلوی او په ژبه کښې نوی رجحانات او خیالات په ډېر تنږی سره داخلیږی ډېراهمیت لری د قیمتی او بیش بها معلوماتو هغه خزانه چه ده عمومی ټولنی ته وړاندی کړیده.

پدې خزانه کښې دادبی او تنقیدی نقطه ئی نظرڅخه اوه کتابونه ډېراهمیت لری - (په دکن کښې اردو) دا دوه هغه کتاب دی چه دادبیاتو او د ژبی د پوهانو په نظر کښې ډېرزیات قدر اواهمیت لری او ددې کتاب د چاپ او خپریدلونه وروسته دی د سرراس مسعود په اشاره د نظام حکومت اروپاته ولیږه او په اروپا کښې ده دانګلستان او فرانس کتاب خانی وکتلی او په اروپا کښې ئی د دکنی د ژبی د پاره قیمتی موادغونډ او راټول کړل - (په دکن کښې اردو) دا کتاب د ژبی تاریخ دی او د خپلو ادبی او تنقیدی خصوصیاتو له کبله ډېرجګ تصنیف دی بلکه په حقیقت کښې د خپلو موضوع په لحاظ پخپل قسم او نوعه کښې لمړی تصنیف دی لکه چه داکترروزصاحب لیکی چه په دکن کښې اردو یوداراز کتاب دی چه له دې کتاب څخه نور کتابونه پیدا کیږی او په حقیقت کښې دایو کتاب آفرین کتاب دی او ددې کتاب نه وروسته په خلکو کښې داخیال پیدا شو او په (پنجاب کښې اردو) او (منل او اردو) غوندی کتابونه تصنیف شو ددې کتاب په لیدلو سره انسان ارو مرو پدې خبره اعتراف کوی چه هاشمی صاحب حقیقتاً ډېر سالم ذوق او ادبی بصیرت خاوند دی دا کتاب د ذوق او د نظر د خاوندانو د پاره د تسکین باعث دی او سره ددې چه هاشمی صاحب ددې کتاب په تصنیف کښې له ډېر اختصار څخه کار اخیستی دی دا کتاب یو پوره

مؤرخانه نشان لری اوادبی حیثیت ئی هم ډېرجګ دی او له دې کبله دا کتاب په اردو ادب کښې اوی مقام او مستقله درجه لری په اروپا کښې د کنی مخطوطات په یو لحاظ سره دده شاهکاردی پدی کښې منصف دانګلستان او فرانسی د کتاب خانو د هغو پخوانو اردو کتابو په خصوص کښې چه پدغو کتابخانو کښې موجود وو په پوره تفصیل او وضاحت سره بیان کړی او له دغو کتابو څخه ئی د کلام نمونه هم نقل کړیده او دا د مخطوطاتو تذکره د اردو ژبی په تاریخ کښې یوه مکمله او پوره اضافه او زیات والی دی، نن ورځ هرراز تذکری لیکل کېږی لیکن ډېری دا راز تذکری هم شته چه هغو هیڅ اهمیت نلری لیکن دا یوه داراز تذکره ده چه پخپله د خپل اهمیت او ساتنی اوحفاظت ضامنه ده ځما پخیال خو د هاشمی صاحب دا وه تذکره دده د شهرت او نوم د ژوندی ساتلو د پاره کافی ده او دې کتاب ته به کومه ستر که چه د ذوق اونظر خاوندانو کتلی دی د هغو اندازه له هغو آراؤ او نظریاتو څخه کیدلی شی چه یوهواد ددې فن پیاوړو پوهانو دده ددې تصنیف پخصوص کښې لیکلی او ښکاره کړیدی چه له دغی جملی څخه ځینو پوهانو نومونه دادی ،

داکتر بیلی داکتر استوری پروفیسر کرن کور .. علامه اقبال سر تیج بها در سر عبد القادر سر ظفرالله خان علامه سید سلیمان ندوی پروفیسر داکتر عبد الستار صدیقی مرحوم جستی سید سلیمان برخیره پردې کتابونو هاشمی صاحب د حیدر آباد د نسوانی نړۍ د علمی زیار او جد جهدیه شا اوخوا کښې هم پوره زیار کښلی دی اوځما په خیال غالباً دا لمړی شخص دی چه د نسوانی نړی دعملی جدو جهد په شا اوخوا کښې ئې پلټنی کړی او دقلم دخاوندانو میر منوتذکره ئې ترتیب کړیده په دی لړ کښې ده ډېر تصنیفات لیکلی دی ماپه وړاندی کرښو کښې داخبره ښکاره کړیده چه هاشمی صاحب دنسوانی طبقی سره پوره هم دادی درلوده دهند وستان په ادیبانو کښې به دوه څلور ادیبان داسی وی چه هغوی به دښځو دطبقی دفلاح او بهبودی دپاره عملی قدم پورته کړی وی په دی لړ کښې مولانا راشد الخیری مرحوم په ټولو کښې لمړی ګڼل کیږی اودا ځکه چه ده دنسوانو دطبقی دفلاح دپاره خپل ژوندون وقف کړی ومګر هغه دتېری دوری ادیب واو دنوې دورې په ادباو کښې هاشمی صاحب ښکاره او پوره اهمیت لری او دده ډېر تصانیف دنسوانو دطبقی سره ربط اوتعلق لری په هند وستان یوه دا راز دوره هم تیره شویده چه په دغه دوره کښې دښځو طبقه په انتها درجه پستۍ اوجهالت اخته وه نه چا ددې طبقی د اصلاح خواته توجه کوله اونه دوی دا طاقت اوقدرت درلود چه پخپله دځان غم وخوری لیکن زمانی پخپله دا خبره حس کړه چه ددې طبقی دترقی څخه برته دقوم ترقی امکان نه لری اوبی ددوی له ترقۍ څخه دقوم نګبت نشی بېرته کیدلی اوآخر یوه داراز دوره راغله چه دعلم اوپوهی دلمر وړانګی دوی ته هم ورسېدلی که څه هم لنږی ډېری داراز میرمنی په هروخت کښې تیری شوی دی چه هغوی دعلم خواته توجه کړی وه مګر په تیره نیمه پیړۍ کښې دینه دننه ښځو په عملی مشاغلو کښې پوره برخه واخیستله اوله دی څخه پخوا دوی چا به شمیر کښې هم نه راوستلی که په دوی کښې به کوم قابل جوهرهم ونوهغه به هم دګمنامۍ اوبی توجهی په سیلاب کښې لاهواو ورك شو او لکه څه رنګه چه یو ګل به ځنګل او راغه کښې غوړیږی اوپه خپل مقرر او ټاکلی وخت دخپل ژوندون دوره پای ته رسولی ریږی بالکل کټ مټ دغه مثال ددغو میرمنو هم وچه چا به د هغو نوم هم نه ارویده اونه به ورڅخه څوك خبروو هاشمی صاحب داخبره په ډیره ښه شان سره حس کړ یوه اوله دی کبله هغوی ددکن ښځو هغه علمی کار نامی مونږته ښکاره او وړاندی کړی چه له هغو څخه مونږ بالکل خبراترهم نه وو او که هاشمی صاحب دی خواته توجه نوی کړی ددوی تصنیف (ددکن دخوانینو اردوخدمتونه) دقلم دمیرمنولمړی تذکره ده چه په اردو ژبه کښې شائع اوخپره شویده او دالمړی تذکره سره ددې چه ډیره لنده تذکره ده یوه کامیابه تذکره ده اودا ځکه چه دقلم دخاوندانو تذکره لیکل دومره ګران کارنه دی

لکه څه رنګه چه دقلم دمیرمنو حالات اودهغو دنظم او نثر را ټولول ګران اومشکل کاردی اودا ځکه چه
په دغو وخت کښی ښځوته سخت قیودات متوجه و و او خواتینو په خپل عمرونه په پرده اودا انزوا په ګوتونو
کښی تیرول اوله دی کبله به نه دوی څخه څوك نشو خبریدلی اوپه دی راز حالت کښی ددوی د احوالو څخه
خبریدل او ددغو احوالو را ټولول تقریباً یونا شونګی کارولیکن دهاشمی صاحب دزیار اوهمت په اثر دغه
ناممکن کار آسان شو اوده دښځو ددیا رلسمی پیړی-پوری ټول علمی اوقلمی معلومات را ټول کړی شو و
بر سیره پردی ده دموجوده عصردمیرمنوعلمی اوقلمی احوال راغونډ کړی دی مونږله دی تذکری په مرسته
دخپلو تیرو پیړیو دمیرمنو دقلمی اوعملی لیاقت اندازه په ښه شان سره کولی اودنتیجی ته رسیدلی شوچه دوی
داردو ژبی دترقی په لړ کښی تر کومی اندازی خدمت کړی دی اوطبقه په طبقه اودرجه په درجه په کومه کومه
دوره کښی دې طبقی تر کومی اندازی ترقی کړیده دحالاتو په لړ کښی هاشمی صاحب ددوی دنظم اونثر نمونی
هم نقل کړیدی چه برسیره پردی، چه دتذکری ادبی قیمت وربانديجګ شی دکومی شاعری یا لیکوالی په
خصوص کښی په رای او نظریه ور کولو کښی هم پوره مرسته کوی د هاشمی صاحب مختصر او جامع تصنیف
« دحیدر آباد نسوانی دنیا » نومی کتاب دی چه ددغه کتاب په مقدمه کښی محترمه صغرا بیګم همایون
مرزا صاحبه لیکی چه . . . . دښځو دترقی او فلاح دپاره دده قلم په ډیرښه شان اور وانی سره چلیږی
اودی تل دښځو دترقی فکر لری اودی دانظریه لری چه ترسو ښځی پوه اودعلم سره آشنا نشی نو دهغی
وخته پوری نارینه ترقی نشی کولی دحیدر آباد نسوانی دنیانومی کتاب دده یوڅو هغو مضامینو مجموعه ده
چه دښځو په خصوص کښی لیکل شو یدی په دغو مضامینو کښی دحیدر آباد عمومی د معاشرت او ژوندون
طرز او دعمومی طبقاتو ټول اوعمومی احوال لیکل شویدی تردې چه هاشمی صاحب په کسب او پیشی اولباس
او نورو شیانو پوره رونما غورځولی او دا خبره ئې ښکاره کړی ده چه د حیدر آباد تعلیم یافته او روزل
شوی میرمنی په صنعت اوحرفت اوعلم او ادب او نورو شیانو کښی څه رنګه مرسته کولی شی او کوی ئی
دده دمضامینو بله مجموعه « خیابان نسوان » نوم لری او دا دهغو مضامینو مجموعه ده چه وخت په وخت
په ادبی مجلو کښی چاپ اوخپاره شویدی دامضامین دښځو په خصوص کښی لیکل شویدی دامجموعه د تحقیقی
اوتنقیدی مضامینو له حیثه یوه خزانه ده اوهر مضمون ځانته جلااهمیت اوخصوصیت لری او ددی خبری کوښښ
کوی چه زمونږ دژوندون کومه خوا او ډډه رونما اواصلاح شی له دغو ګټورو او ضروری مضامینو د کتلو
څخه دهاشمی صاحب خلوص او دور اندیشی په ښه شان سره څرګند یږی لکه چه جهان بانو تقوی لیکی
چه دا دادبی او اصلاحی او معاشرتی مضامینو مجموعه پخپله جواب او نمونه ده .

دادښځو دطبقی نیکمرغی وه چه دهاشمی صاحب غوندی علم دوست اویوه مصنف همدردی ددوی سره ملګری
ده او په دې لړ کښی کومی پلټنی اومینه چه هاشمی صاحب دښځو دطبقی په خصوص کړی او ښکاره کړی ده
باید دښځو طبقه تل دده ممنونه او مشکوره وسی زه پدې خبره ډیرافسوس کوم چه په دې لږو پاڼو کښی
په دغو کتابونو دمفصلی تبصری ځای او ګنجایش نشته دی بلکه ددغو کتابونو د تبصری دپاره یودفتر
پکاردی لیکن دهاشمی صاحب ددغو ټولو کتابونو دکتلو اومطالعی ته ور وسته انسان دی نتیجی ته رسیدلی شی
چه هاشمی صاحب تر کومی اندازی پلټنی او زیار کښلی دی او که دیته دجنوبی هند داردو ژبی مؤرخ
وویل شی نو بې ځایه به نوی .

(دآجکل له مجلې څخه)

تاریخ

د افغانستان پخوانی تاریخ

(٤٦)

ښاغلی احمد علی خان « کهزاد »

د خپلو ملکانو د ریاست لاندی یې ژوند کاوه ځکه چه تر ډېره وخته پورې د آثوری د مدنی او سیاسی نفوذ تابع وو ، بې له دې چه پوه شی ، وینو رګی (عرق) او سجایا وو ئی سامی رنګ واخیست او دې نفوذ تر دې اندازی د دوی په وینو رګو کښې اثر وښنده چه ډېرو مؤرخینو د ماد او آثوریانو په منځ کښې فرق نه لیږ او دوی د آثوری سلسله او د سامی رګی کښې ، معماری ، د رسم الخط شیوه ، اداری اصول ، د دربار او حکومت طرز ، د زېری او سر دوېښتانو د پرېښودلو اصول او د لباس طرز د ماد او فارس ټول د ژوندانه مظاهر یو په یو د سامیانو د قدم نقش دی ، چه د آثوری او ګوتی عصر په دوی تحمیل کړی ، رونه ګروسه د آسیا د تاریخ دامړی جلد په ۲۴ صفحه کښې د عربو او فارس مدنیت د « کسلده او آثوری » د مدنیت تخم قلمدادوی او « توماشك جرمنی در مطالعات آسیای مرکزی » پخپل کتاب کښې هر کسله چه د پامیرله ژبو صحبت کوی وائی ، چه ماد او فارسیان زښت ډېر د سامی نفوذ لاندې راغلی وو چه د مهاجرینو دوه څانګی چه د آریانا له باختره او د ټولو غرو له لمنو او جګو نقاطو جدا شوی د شرق او غرب خواته لاړل او په همسایه مملکتو کښې یعنی هند او فارس کښې تیت شوه د نویو محیطو تاثیر او د پردیو کامو ګډون مختلفه رګی (عرقونه) پیدا کړه په تدریج سره څه د نژاد او وینو له حیثه او څه د ژوندانه له ادابو او عرف او عادت او ژبی د خواصو او داسی نورو له خوا ئی تغیر کړی او لاره یې غوره کړه د مخصوصی نښی خواته یې په حرکت پیل وکړ چه له دې زیات ئی تعقیبول د مونږ له لیکلو خارج دی ځکه هغه څه چه د دې فصل اصل مرام تشکیلوی د هغو آریانانو په اطراف کښې صحبت دی چه پاس ذکر شوی دوو خواو ته ئی هجرت ندی کړی په شنو لمنو او حاصل خیزو جلګو او لوړو غرو د آریائی مېنې یعنی په آریانا کښې پاتی شو .

« آریانا » خاورنی ټوټه چه آریائی په هغه کښې پاتې شو غرنی مځکه ده چه څلورو خواو ته د ټټې مځکی په منځ کښې یعنی د فارس دښت او هامون او د سیند حوضه او د روسیه جنوبی اداری مځکی او

داکسوس حوضه کښې ئې د لوړوالی شکل ځانته نیولی چه له هغه نه د جاری اوبو لوئی رود خانې څلورو خواوته جاری دی ، د پخوانیو آریانانو چو کاټ لکه څرنګه چه ذکر شو طبیعی شی دی چه د خپلی مځکی ساختمان او چین خورده ګی او د رود خانو جریان د هغو حوضه ئی معلومه کړی او وروسته ټولو کلاسیکو مؤرخینو هغه تکرار کړی په عمومی ډول د آریانا مځکې لوړی چینې او رودونه څلورو خواوته بهیدلی دی په ځان کښې مختلف شکله مظاهر لوړوالی او ټیټ لری نو له دې کبله ویلای شو چه هاڅو د تېږو جګی څوکی (تیغه) قریباً په اندازه سره له شرقه د غرب خواته امتداد لری تر ټولو اوږده او لوړه منځنی څوکه دی چه د شمال شرق له ګوښی شروع او د آریانا له وسطی دښتونه د غرب خواته پرته ده سره له دې صفته سربېره بدې ذکر شو یو څوکو غرنی دوه غوټی (ګره) د دښتی شکل کامل کړی چه هغه یوه تیګنی غوټه په شمال شرق او پامیر کښې او بله ئی منځنی غوټه ده چه د آریانا مرکزی غرو تودې تشکیلوی ، د ذکر شوی تودې سرونه او غرو څوکی تل په واورو پټی او سپینی ښکاری . ښکلی لمنو او دریو ئی د نړی رښت ښه ییلاق او منظری تشکیلی کړی نو په پای کښې ئی لمنی د شمال او غرب او جنوب د حاشیو په فراخه او حاصلخیزه جلګو او پښتو (تپها) تمامېږی د آریانا د مرکزی شمال شرق غرنی دوه تودې د یوې دستې وړو او لویو رودو سرچشمی دی چه په ترتیب سره له واورو ډکو او جګو سرو په هول انګیزو درو او له هغونه په نرمو لمنو کښې توئېږی چه وروسته د داخلی جلګو د اوبوکولو نه څلورو خواو ته بهیږی او په پای کښې ځنی د هند په اوقیانوس کښې توئېږی او څه په بحیرهٔ اورال په آمو کښې ګډېږی او څه برخه ئی په هامون کښې توئېږی د آریانا له رودخانونه څلورلوئی رود خانې چه عبارت له اکسوس (آمو) هری رود ، هلمند او اندوس (سیند) ډېری مهمې دی چه د آسیا د مدنیت په سرنوشت کښې یو قسم مهم رول لوبولی ځکه چه حاصل خیزه حوضی او ښایسته سواحلونو ئی د بشر د ثقافت یو ډول ځانګو (مهد) ګڼل کېږی .

ایریا : د «آریا» د کلمی تاریخی او خصوصی او اصطلاحی عمومی مفهوم مو شرحه در کړی او ویلی مو دی چه د باختری کتلې آریانان د هغو وثایقو په شهادت سره چه له ځانه ئی براېښی په ویدی سرودو کښې ئی ځان «آریا» او په اویستا کښې «ایریا» ویلی دی د ویدی او اوستائی عصر په منځ کښې سره د زمانی د اختلافه د دې کلمی په اصلی مفهوم کښې تغیر ندی پېښ شوی بدون له لهجی او تلفظ چه هغه هم یوازې د لمړی د کلمی په حرکت دی په ویدی او اوستائی عصر کښې د دې کلمی اصلی مفهوم «نجیب» معنی درلوده او په دواړو عصرو کښې فوری د دین داری جنبه تری اطلاقېده او پس له هغه لکه بادار او مالك او داسی نور صفتونه پورې تړل کیدل په اوستائی عصر کښې د زمانی د ایجاباتو او د خارجی محیط په اثر چه د دې فصل په سر کښې مو شرحه ور کړه سره له دی چه په «آریانا» کښې قومی روحیاتو قوت موند «ایریا» یوه اندازه زیات ملی او قومی مفهوم هم پیدا کړ . په دې وخت کښې ایریا د دیانت له خوا یوازی د اویستا پیروان بلل کیدل او د ملی او قومی له خوا هغو خلکونه اطلاقیده چه د اوستا په خاوره یعنی اریانا کښې ئی زندګی درلوده ، د شمالی دستی قامونه د مازندران او تبرستان او سېدونکی تړل اریائی او که غیر آریائی وو په دی نوم نه یادیدل او دوی په نورو نومونو یادېدل لکه تورا چه د اکسوس شمال ویدی آریانان یادیدل او په دی مسئلو به په علیحده مبحث کښې وژغېږو .

اوستا د آریائی لمړی خاوره : هغه وخت چه غوښته مو په دوم فصل کښې د مختلفو منابعو په مرسته آریائی لمړی ځانګو (مهد) رونه کړو د «ایریانا ویجه» تر عنوان لاندې مو وویل چه د اویستا د عصر آریانان د آریا لمړی ځانګو په «ایریانا ویجه» کښې غوره کوی او هغه ځای پخپله د اوستا په شهادت او د لویو مدققینو په فیصله

دسردریا لوړه خوا او آمو او پیوسته مځکی دی . داویستا
دنقطه نظر نه هر څه چه په دی باره کښې وایو داویستائی
دشپاړسو قطعو مځکو په جغرافیائی بحث کښې به ئی شرحه
در کړی شی . یوازی په هغه لیاره چه دویدی په فصل
کښې تعقیب شوی و په دی ځای کښې دومره ذکر وو
چه ترویدی سرودونه اویستا د آریائی داولی ځانګو په
تشخیص کښې واضحه او نام وړی صحبت کوی حتی ویلی شو
چه د ټولو مدارکو له منځه چه دهند او آریائی کتلونه
په عمومی ډول پاتې دی اوستا یوازنی منبع دی چه په دی
مهمه مسئله کښې واضحه صحبت کوی او هغه دلمړی
ځانګو نام یادوی خواص او ممیزات ئی بیانه وی . له
«ایریانا ویجه» پرته د آریانانو خاوره په نورو نامو هم
یاده کړی لکه ایریا رو دهوو، یا ایریا وو د هو یو
یا ایریوشایانا، چه دا ټول مرکبه اسمونه دی او د ټولو
په سر کښې د «ایریا» کلمه تکراره شوی ده او له خپلو
ټولو متصله کلماتو سره «د آریا خاوری او مسکن»
معنی لری، سره له پاس کتلو معلومیږی چه له ویدی نه
د آریائی مځکی په تعین کښې اویستا واضح او ډیر دقیق
صحبت کوی نو دا مطلب به په هم دی فصل کښې داویستا
په جغرافیائی مبحث کښې په تفصیل سره شرحه ور کړه
شی، څه شی چه په دی ځای کښې دلیدلو قابل دی دادی
چه د «ایریانا ویجه» «ایریاوو دناهو» «ایریاوو دهو یو»
«ایریوشایانا» اسمونه ټولی د آریا هستوګی هغه منطقی
وی چه اویستا ذکر کړی هغه جغرافیائی مفهوم په «آریانا»
کښې یعنی د آریانا نو نه معینه او مشخصه شوی ده او
ګایګر المانی «آریانا» د جغرافیائی او نژادی مفهوم
له حیثه پاس ذکر شوی مترادف اسمونه بولی .

د آریانا د خاوری تاثیرات ، په دې کښې څه شبه
نشته چه له هر څه ډیر د خاورې او محیط تاثیر دیوې قطعی
د اوسېدونکو په سر نوشت کښې تام دخالت لری
اساسی خطوط، سجایا، عرف، عادات، او اختصاصات
دمادی او معنوی او سیاسی ژوندانه ټول مظاهر ئی
په هغه کښې موندلای شی وړاندی مو په مختصر صورت
ولیدل شو چه مهاجرو آریانانو د ګنګا او فارس
ارمدیا په نویو حوضو او محیطو کښې دبیګا ودر ګیو (عروق)

او د سامی مدنیت په تصادف ، څه شو او د څه
تاثیر لاندې راغله، اوس غواړو چه و ګورو چه آریانانو
په خپل کور کښې څه وکړل او څه شوو او له دوی نه محیط
څه جوړ کړل او د دوی دمدنی او سیاسی ژوند په
سر نوشت کښې ئی څه رول ولو باوه . د آریانا
د جغرافیائی وضعیت وړاندې په عمومی صورت شرحه
ور کړه شوه دا مملکت په خپل داخله حدود کښې
سره له درلرداو د جګو غرو، له واورو ډکو سرو
او وېره وونکې درې ، سخت غاښې (کوتل)
زحمت ګذره ، او سېلابی خوړونه ، خروښانه
او به ، شنی پښتی ، وچی غنډی ، حاصل خېزه
او اوارې دښتې ، له و نوډک ځنګلونه او تیګنې
مځکی داسی منظری چه یوه حصه بلی حصی ته نه ایسی
یوی خوا ته شپږ زره متری لوړ سرونه پراته دی
او بله حصه له ۳۰۰ تر ۴۰۰ مترونه ډیر لوړ والی
نلری او دوسره نزدی یو ځای نقطی ټول کال واوری
لری او منجمد دی او بله نقطه د ګرمی منطقی تودوالی
راښئی په یوه فصل کښې په یوه ځای کښې غنم لو او په
بل ځای کښې ئې نوی کری . په دی صورت مختلف الشکله
محیط چه یوه برخه ئې غرنی او یوه برخه ئی
دښتې او یوه برخه ئی پښتې او یوه برخه ئی او اره
یوه خوا ئی وچه او بله خرا ئی شنه ، یوه ګوښه ئی
توده او بله ئی سړه دی نو ددی وطن او سېدونکو
آریانانو په رو حیاتو کښې ئی ژور تاثیر اچوی ،
او دوی ئی وپوهول چه د حیات صحنه او ژوندون
روښانه او تیاره ، مشکله او آسانه دوره لری او هیڅ
بې اغزیه ګل نشته ، خودا اغزی د ژوندون د موفقیت
د لیاری سد په هیڅ صورت نشی کیدلای نو انسان
ته ښائی چه په ځان سره وېسا (اعتماد به نفس) ولری
دزړه په قوت او د مټو په زور ټول مشکلات له مخی
لری کړی ، اویستائی دوره چه دا فصل مو دهغه له پاره
وقف کړی او وروسته ئی د مدنی ژوند په اختصاصاتو

پیل کوو په حقیقت کښې ددې مځکې د آریایانو د روحي تربیې او پرورش دوره ده او ټول اجتماعي، اخلاقي، مذهبي، مدني اصلاحات چه په دې دوره کښې منځ ته را وتلي او د اویستائي عصر مدنیت تشکیلوي د نفس تزکیه، د ځان پاکوالي، مباني تشئید په فرد او جامعه کښې فعالیت راستکاري او رښتیا ویل له مشکلاتو سره مقابله، د کښت ډېروالي، د کښت د اوبو کولو اصول، دونو ایښودل، د ګټور وحیواناتو تربیه او د مضره حشراتو وژل او داسې نور دي که هغه ټول خلاصه کړو دا نتیجه راکړي د آریانا د محیط د طبیعي ایجاباتو او دا ویستا د مباني له قراره فرد او جامعه مستعده، متحد، غښتلي، خوش او خوشحاله، فعال زیار کښ، رښتین او راستکاره او ددوی د مېني خاوري حاصل خېزه او صحت بخښونکي دي د محیط دهم دي تاثیراتو په اثر هغه آریانان چه په څو زرو کالو د آریانا په شمال کښې هستوګنیولي او وروسته په ټولو نقطو کښې خپاره شو مخصوص خواص او سجایا ئي پیدا کړي هر کله چه آریائي کتلي د آریانا په غرني لمنو کښې خصوصاً د باختر له خواله تورا او دا نورو هونا آریائي بدوي کاموا وله غیر آریائي عناصر وسره مقابل سره مقابل وو تهاجمي خطري چه یو وخت د مرکزي آسیا نه ددوی د بېځایه کولو سبب شوي وو تل حس کېده ډېره پخوا زمانه کښې د باختر نه له مهاجرتونو په مخ کښې د قبائلو د اتفاق مفکوره او د آریائي د خاوري منافعو د ساتنې له پاره پیوسته ګي او د اهلي حیواناتو او کښت د حاصلو ساتنه د دوی په منځ کښې پیدا شوي او ددوی نوي ژوند د سبک د اداري لپاره لمړي پلا داریائي سلطنتي نظام د باختري آریانانو په منځ کښې ښکاره او دې ژوند په باختر کښې تر هغه وخته پوري په خپل ټول مفهوم سره ادامه درلوده چه د نفوسو د ډېروالي او مهاجرت مسئله منځ ته نه وه راغلي او آریائي جامعي د خپلو پادشاهانو تر حکم لاندي داسې نیک مرغه او خوشحاله ژوند ئي درلود چه له مهاجرته وروسته تر زرو کالو پوري ئي هغه خاطره له یاده ونه وته او تل ئي د هندوکوه شمالي خواوطن، ښکلي بخدي «دیما پادشاه اقامت ګاه ته «فردوس» ولي، د مهاجرت موضوع طبعاً تر یوي اندازې پورې ددې نیک ژوند ون د ټیټ والي سبب شو خو تاثیر ئي ډېر په خپله په مهاجرینو پوري مربوط و، او له آریانا نه ددوی په وتلو سره خاتمه پیدا کړه هر هغه چه ګنګا او مدیا او فارس ورسېدل نو خپل نجات او سعادت ئي په اتفاق او پیوسته ګي کښې ولیدل هندي مهاجرینو آریایانو د داسیوس د مقابلې له پاره ۱٤۰۰ ق م پخوا کښې آریائي دوهم سلطنت جوړ کړ ماد او فاسیانو د آشوري سامي دوینو او حاکمیت له نفوذه د نجات له پاره آریائي دریم او څلورم سلطنت ئي په خپلو خاورو کښې په (۷۰۸) کلو او د (٥٤۹) پخوا کښې تشکیل کړه.

(نور پیا)

دیوه امریکائی عالم لیک

« موږ ډېر خوښ یو چه پښتو خپله جاذبه قوه تر امریکا پوری هم و رسوله ، »
« انګلستان ته خوئی لاڅو قرنونه پخوا خپلی سندری او علمی ذخیرې لېږلی وې »
« او تر هغه لا دمخه اویا په هغه وخت کی جرمنی مستشرقینو دپښتو فلالوجی او ګرامر »
« لیکلی و ، او هم په فرانسه روسیه اوبیا په ناروی کی ئی هم ځانته خپل علاقه »
« مندان پیدا کړی وه اوس دادی دامریکا دپوهانو اوعالمانو توجه ئی هم ځانته »
« عطف کړه ، اوپه دې ورځو کی دیو امریکائی عالم چه معلومېږی داکترو »
« شرقی ژبو سره آشنادی لیک پښتو ټولنی ته را رسېدلی دی چه غواړی پښتو ژبه »
« زده کړی اوپه دې ژبه کی مطالعات وکړی ، ددې عالم نوم هارولدوی ولیمز ، ام ، ډی دی »
« پښتو ټولنه ، د دې امریکائی پوه له دې ذوق څخه تشکر »
« کوی او په ډېره مینه هغه کتابونه چه ده پقیمت غوښتی دی وړ یا او مفت »
« ورتقدیموی ، په احترام . »

(ع ، بینوا)

* * *

دمکتوب متن

« کابل - افغانستان :

دپښتو آکادمۍ مدیر !

ګرانه ښاغلی !

غواړم چه څو پښتو کتابونه دمطالعې دپاره لاس ته را وړم . آیا تاسی ته به ممکنه وی چه یو کتاب څرڅوونکی (سره دهغه له آدرسه) راته معرفی کړی ، او دپښتو ژبی دابتدائی کتابو یو لست چه یو د پښتو لغت په ترکی ، یا پښتو په فارسی اویا پښتو په یوه اروپائی ژبه وی ، ماته راوا ستوی ؟

دپښتو دیوه ګرامر نوم هم راته ولیکئی . زه به ستاسی دې لطف ته خورا ډېر قیمت کښېږدم .

آیا ددې کتابو قیمت څنګه ورکول کېږی ؟

دبین المللی پیسو دانتظاماتو په واسطه اویا داچه دتجارتی چکونو په توسط ؟

په صمیمیت .

« هارولد وی ولیمز ، ام . ډی »

کیسې اونکلونه

دمادام لوازل

سوالی امیل

دښاغلی عبدالصمد یوسفی ترجمه :

پښتو کوونکی « نظامی »

لوازل یوه ښکلی او زړه ودونکی نجلۍ وه ، او دې ښکلی نجلۍ بله طبیعی لطافت اوښائست او دخدادادوحسن وجمال بل بیخ ظاهری او مصنوعی زینت نه درلود ، او دا بیوزلی له خیلی بدمرغی طالع دمور او پلاره څخه هم ډېره کوچنی پاته شوې وه ، دا اداره اوغریبه نجلۍ چه کله کله به په ځینو مجلسونو کښې دعوت کېده ، دګانې او هغو ښو لباسوله عدمه څخه چه ځان یې سنبال کړی وی ، هیڅکله ئې په دعوتونو او مجلسونو کښې تګ وراتګ نه کاوه ، او د خپل راتلونکی ژوند او آرزو ګانی ، چه په زړه کښې ئې درلودې له پاره ډېر په تشویش کښې وه .

بالاخر دې نجلۍ دیو عسکری ضابط سره از دواج وکړ ، او مېړه ئې هم یو مالداره سړی نه و ، چه لوازل خپل سعادت اوآرزو ګانې دهغه په کور کښې سرته ورسوی. ددې لامله یې خپلی حیات اوژوندون تل دغریبۍ په توږه تیراوه اوهمیشه به غمجن اومحزونه ښکاریدله . او ددې دغمګینۍ علت هم معلوم و، ځکه دښځو عادت دی ، چه هر څونه ښائسته اوښکلی وی ، بیا هم غواړی ، چه دهغه نه هم ددوی حسن او جمال په هر راز اوپه هر قیمت چه وی زیات شی ، او دوی دخپل حسن او جمال زیاتوالی به ګاڼواوپه ښولباسو پوری مربوط ګڼی .

دا بیوزلې چه ددې شیانو څخه عاری و خپل عمر به ئې درسته ورځ په مغمومتیا کښې تیراوه ، اوتل به ئې دښکلې شیانو په لاس را ودلو کښې فکر کاوه .

علاوه تردې ددې نامنظمه کور اوزړو فرشرنو او نامنظمو اسبابونو دا بیوزلی تل د غم په سیند کښې دوبه کړی وه .

هر کله چه به ډوډۍ ته کېناستله اود خپلی خیرنی کوندرۍ او بیخونده ښوروا او سابه ، چه مېړه به ئې په ډېر مزه او خونده سره خواړه ، او ددې بیوزلی دبډایانو راز راز او خونده ور طعامونه ، پاک اوستره ظرفونه به خیال کښې گرځیده ، زړه به ئې دخپلی ډوډۍ څخه سړېده .

لنډه داچه دا بیوزلی نجلۍ شپه ورځ دجواهراتو او دښو کالیو اود کور په نورو لوازماتو کښې چه به هغوی ئې دلچسپی لرله ، په ډېره غمګینۍ سره به ئې فکر کاوه.

دنجلۍ یوه مهربانه ملګرې درلوده چه په یو ښوونځی کښې ئې درس ویلی ، اوهغه نجلۍ د یو بډای سړی لور او یوې معززې کورنۍ ته منسوبه وه ، مګر دلوازل زړه داخبره نه غوښتله چه هغې سره تګ وراتګ وکړی ، ځکه هر کله چه به ئې هغې ته کاته دخپلی غریبی اوناداری څخه به شرمنده کېدله او درسته شپه به دېته خوب نه ور ته .

یوه شپه ددې مېړه به ډېر تلوار اوخوشحالی راغی او یوه پاکټ ئې لوازل ته ورکی او لوازل ئې مخاطبه کړه او وېویل :

زما عزیزی لوازلی! ګوره چه ستا دپاره څه ښه هدیه مې راوړیده، اویو پاکټ ئې خپلی ښځی ته ورکی. لوازل په ډېر تلوار هغه پاکټ واخست اوڅېرئی کړ ، او دپاکټ په منځ کښې یو کارت و او د کارت مضمون ئې ولوست ، اوپه هغه کښې دا مضمون لیکل شوی و « جناب موسیو د خپلی ما دامه سره ددې میاشتې په(۱۸) نیټه دواده درسم دپاره زمونږ ځای ته تشریف را وړی. »

دا کارت دهغه جنرال له خوا لیکل شوی و ، چه دلوازل مېړه دهغه تر لاس لاندې و ، لوازل چه د دکارت مضمون ئې سرتر پایه ولوست د دې په ښکلی باړخو ګانو دحزن او اندوه علامی ښکاره شوې ، او کارټ ئې پر میز کېښود او مېړه ته ئې وویل :

زه دې مجلس ته نه ځم اوزما ځای هلته نشته .

مېړه ئې خیال کاوه چه زما ښځه په دې دعوت خوشحالېږی، لیکن نتیجه ئې برعکس ولیده او خپل مخ ئې دښځی خواته وګرځاوه اوویو یل :

زما عزیزې محبوبی! ما ګمان کاوه چه ته په دې دعوت خوشحالېږی، ځکه دډېرو مودو راهیسی ته هیڅ مجلس ته نه ئې ورغلې، حالانکه ته متأثره اوغمجنه شوی .

اې زما عزیزې محبوبی! دادعوت دفرحت اودخوشحالی ځای دی زه اوته دواړه دې مجلس ته ځو او ساعت موبه په ډېرښه شان تیرشی، اوزمادپاره هغه ساعت بهتر ساعت دی چه تاخوشحاله ووینم .

لوازل خپل مېړه ته متحیرانه کاته اوپه پای کښې وویل، هو! هغه مجلس ته تګ ډېر آسان دی ، مګر آیا دافکر دی کړی چه زه به څه آغوندم .

داجمله ئې داسی ادا کړه چه دلوزال دسترګو اوښکی لکه مرغلری دهغی په نازنین مخ توئیدلی، او بیوزلی مېړه ئې هم په دی خبرو ډېر متأثر شو، اوپه ژړائی پیل وکړ .

یوه لحظه وروسته ئې خپلی غمجنی ښځی ته وویل : زما ګرانی محبوبی! مه ژاړه ځکه زه نه غواړم چه ستا په نازنینو باړخو ګانو اوښکی توی شی اوستا ښکلی څېرې ته صدمه ورسوی .

لوازل خپلی اوښکی پاکی کړې اوپه یوغمجن آوازې ورته وویل، څنګه ونه ژاړم ځکه ددې مجلس دپاره نه کالی لرم اونه ګانه، اوددې زړو کالیو سره څنګه په هغه مجلس کښې شاملېدلای شم، دادعوت نامه دخپلو خپلوانو څخه داسی چاته ورکړه چه دهغه مېړه مقتدر وی .

دلوازل مېړه دخپلې ښځی د آشفتګی اواضطراب ډېر متأثر شواو ویویل: زما ګرانی ته ووایه چه دستا لباس دپاره څونه پیسی په کاردی، مګر فکردی ونیسه چه زما دغریبی سره برابروی .

لوازل په دې خبرو لېږه خوشحاله اوڅوثانیی متفکره شوه، اوپخپله هم پوهیده، چه زما مېړه نادار دی ، او دخپلو کالیو پیسی ئې په متوسط طور سره شمېرلی، بالاخر مترددانه سرئې پورته کړه اووی ویل :

زما په ګمان که څلور سوه فرانګ موجود وی زما دکالیو کار به وشی .

مېرمنې چه دخپلې ښځې داخبره واوريده، چه پدې بيسې کار کېدای شي ، دا بيوزلې زلمي عسکر هم خوشحال شو، ځکه دغومودې پخوارا هيسې ديوښکارې ترپلې داخستو دپاره لټولې خه بيسې را نازلې نکړې وې اوپه يوپټخای کښې ئې ساتلې وې په دېر مجبوريت ئې وويل: ښه دې خلور سوه فرانکه ماپه د هر مشقت يوځای کړيدې، چه يوښکارې ترپلې خپل ځان دپاره راونيسم، مګر دترپلې اخستونه صرف نظر کوم، بورته شه اوزما دچاطې خخه هغه بيسې واخله اودځان دپاره ښکلې جامې واخله، چه په ورو مجلسونو کښې هم ستا پسه درد و خورې .

لوازل پهدې خبرو دېره خوشحاله شوه اودخپل لباس آخستو دپاره بازار خوانه رهې شوه .

دواده شپه چه ژدې شوه ، لوازل هم خپلې جامې تهيه کړې وې، مګر سره ددې ايوسه اواندېښنا که په نظر راتله زلمي عسکر دواده دشپې خخه يوه شپه پخوالوازل تهوويل: زماعزيزې محبوبې ! خوورځې کيښې چه تا بيا سراسيمه اوغمجنه وينم، جامې دې خوهم تهيه شويدې، اوسباله خيره دواده مجلس ته ځو، ممکن چه ستا وخت به پهدېره خوښې سره تيرشي، ځکه پهمغه ځای کښې هردول سازو نه او ساعت تيرې موجود دي وې، ليکن ستا دمايوسې اوغمګينې باعث خه دې ؟

لوازل ورته وويل، ځنګه غمجنه نه اوسېږم، چه دجواهرو ګانې هيڅ شې نلرم اوپه هغه مجلس کښې به له دې کبله دنورو اشخاصو په نظر کښې خواره اوذليله ښکارېږم .

مېره ئې وويل ، جواهرات دونه ضرورت نه لرې ، خپله ښکلې خهره پهطبيعي ګلو نسو سبا له کړه او پهدې موسم کښې طبيعي ګلو نه ډېر ښه ښکارې ، که دلسو فرانګو ښکلې ګلو نه واخلې او پخپل سرئې وتو مې دتراو انتظار به جلبوې .

لوازل وويل ، پهدې لوې مجلس کښې چه دبډايانو ښځې اومعززخلک راځي اوټول پخپلو سرونواوغاړو دجواهراتو ګانې تومبلې وې ، اوزه به دهغوې په مخ کښې بيوزلې اوحقيره ښکاره شم بهتره داده چه دمجلس دتلو خخه صرف نظر وکړم .

مېره ئې وروسته دخو دقيقې تفکر ، خخه ځواب ورکړ : زما پهخاطر دګانې پسه لاس را وړاو کښې يوه چاره کړځې، اوهغه داده ، چه ته دخپل ښوځې رفيقه مادام (فروسيتر) ته لاړه شه ،اوهر خه چه لازمه وې دهغه خخه پهعاريت واخله ، هغه هم ددوستۍ له کبله چه تاسره لرې شايد چه سنا خبره ومنې ، او هر خه چه لرې مضا نقه بساونکړې .

لوازل داخبره چه دخپل مېره خخه واوريده زړه ئې خوشحا له شو ،اومېره ته ئې وويل ، رښتيا دې وويل داخبره زما په زړه کښې نه تيريده ، اوس په هغوې کره ورشم ، دائې وويل ، او له خپل ځايه خخه پورته شوه ، او دخپلې رفيقې د کور خوا ته رهې شو ، او خپل مقصد ئې هغې ته ووې ، مادام (فروسيتر) ددې خواهش وما نه اوپهدېره پراخه تندې دخپلو ځايه خخه راخيده اوپو بکس ئې وزته راوړ او پهمقابل کښې ئې کېښود اورته وويل : زما ګرانې رفيقې ددې بکس خخه هرخه چه ستا په کار وې اخستلای ئې شې .

لوازل چه دبکس سرئې پورته کړ ولېدل چه ټول دجواهراتو دګانې دکې دي ، او هر يو ئې جلا جلا استعمال کړ ، اودهندارې پهمخ کښې ودريده ددې ګانو خخه يوښکلې لمبل ددې خوښ شو او پخپل غاړه کښې ئې ځوړند کړ ، اوزړه ئې په تو يو نو شو اولا سو ته ئې وربښ ديدل ، او دخپلې رفيقې خوا ته ئې مخ وګرځاوه او ويل ، ستا دګانو له مينځه خخه يوازې دايې خوښ شوم ، که تر سبا پورې ماته دايه عاريت راکړې ، پر ما پهدې ډېر احسان وې .

مادام فرو سیتر وویل ، ډېره ښه ده هر یو چه ستا خوښ وی وایی خپله لوازل فکر کاوه چه دا امیل ډېر گرانبها امیل دی کله پرما اعتبار کوی ، هر کله چه دخپلی رفیقی داخبره ئی واوریده او پیروزینه یی ولیدله ، په ډېره خوښی او امتنان سره دهغی څخه تشکر وکړ ، او دامیل قطی واخست او دخپل کور وخواته رهی شوه دواده شپه چه را ورسیده ، زلمی عسکر دخپلی ښځی سره مجلس ته حاضر شو ، دمجلس په ټولنې کښې لمړی شخص چه دټولو حاضرینو انظار ئې جلب کړل ، لوازل وه هغه خداداد حسن او ښکلی توب چه پاك خدای ددې په نصیب کړې و ، ددې نفیسی جامې او دگرانبها گانی په وسیله ، دده حسن او ښکې توب لازیات شو ، او د مجلس ټولو حاضرینو دېته په حیرت کتل ، او هرچا به ئی تعریف کاوه ، او یو دبله څخه به ئې دلوازل دنوم او شهر پوښتنې کولی ، او دډانس په وخت کښې ئې هم دټولو حاضرینو نظر جلب کړی و .

لوازل دخپل حسن او جمال او دښکلیو کالیو چه په ځان کښې ئې لرل ، او په دې پر مسرته شپه چه پدې مجلس کښې نائله شوی وه ، ډېر افتخار او خوشحالی کوله .

شپه چه په ډېره خوښی سره تیره او دسهار وخت شو ، او مدعوینو ورو ورو په خپریدو شروع وکړه ، لوازل هم دخپل مېړه سره ووته او دخپلی خونی خواته رهی شوه ، او بالاپوښ ئی چه مېړه په لاس کښې نیولی و ، دهغه څخه واخست او په ځان ئې کړ ، او په ډېره چټکی سره دواړه رهی شو مقصد ددې چټکی داوه چه خپل زوړ بالاپوښ دنورو ښځو څخه پټ کړی او څوك ئی ونه وینی .

بالاخره په ډېر سرعت دخلکو له مینځه څخه ووته او په یوی گاډی پسی گرځېدله مگر گاډی دوی ته میسره نشوه ، او دهوا دسوړوالی له باعثه څخه رېږدیده ، او مجبور شو چه د(شن) د نهر له څنگه څخه د خپلی خونی خواته پلی رهی شی ، هغه وخت چه دنهر په سړك ورسید یوه زړه بگی ددوی په مخ کښې راغله ، او په هغی کښې سپاره او دخپلی خونی خواته رهی شو ، بگی چه ددوی کورته نژدې شوه ، دواړه د بگی څخه کښته شو او پخپله خونه ننوتل .

دداخلېدو په وخت لوازل دخپل اطاق دلوی هنداري په مقابل کښې ودریده او د خپل ښائست او جمال ننداره ئې وکړه او خپلو جامو په پستلو ئې پیل وکړ ، مگر په دې حین کښې ئې په زوره چغه ووهله او دچوکی پر سربی سده پرېوته ، چه پخپله غاړه کښې سوالی امیل ونه لید .

مېړه ئې چه تر هغه وخته پوری خپلی جامې نه وې پستلی ، او دخپلی ښځی چه داوضعیت ولیدهك پك پاته شو ، او پوښتنه ئی وکړه چه څه خبره ده ؟

لوازل دېخودی په حالت کښې وویل : دمادام (فروستیر) امیل زما په غاړه کښې نشته لکه چه ورك شویدی ،

مېړه ئی په ډېر سراسیمه کی وویل : آه څه وائی ، داڅه خبره ده ؟

امکان نه لری ، خپل کالی وپلټه ، دبالاپوښ جیب دی وگوره ، دا ئې وویل او پخپله دباندې ووت او دخپل کورزینې او حویلی او کوڅه یې په ډېر دقت وکاته ، مگر د امیل هیڅ درك ئې ونه موند ، وروسته د ډېرې پلټنی بېرته راغی او لوازل ته ئې وویل ، آیا ستا په فکر کښې دی چه دجنرال د کوره څخه ووتی امیل ستا په غاړه کښې وکه یه ؟

لوازل ورته وویله : هو زما پوره په خاطر کښې ده ، چه زما په غاړه کښې و .

مېړه ئې وویل : معلومه خبره ده چه په بگی کښې لوېدلی دی ، ځکه که په لیاره کښې لوېدلی وای ، آواز به ئې مونږ ار وېدلی و .

لوازل ځواب ورکړه : هو ممکن دی ، آیا دبگی لمبر تا اخستی ؟

مېړه ئی وویل یه ، ته څنگه ؟

لوازل : ماهم نه دی اخستی، په دې حال دواړه په حیرت شو او یو بل ته ئې کاته او مبهوت پاته شو ، په پای کښې میړه ئې وویل: زه ځم او په هغه لارچه مونږ راغلی یو، دجنرال ترکاله پوری یی لټوم، ښائی چه و ، یې موموم، داوویل : او دخونې څخه خارج شو. مگر لوازل ، سره دهغې جامې چه ددې په بدن کښې وې پر هغه چوکۍ چه پرته وه همغه شان متحیره او په یو عمیقه تفکراتو کښې ډوبه شوه . چه دامیل دور کید و له باعثه څخه به پردوی څه تېر شی .

هر کله چه د گهیز (۷) بجې وخت پوره شو ، میړه ئې راغی مگر دې بیوزلی هیڅ شی موندلی نه و ، وروسته دواړه پاڅیدل او د پولیس په اداره کښې ئې د خپل کیفیت عرض وکړ او اعلانونه یې ولیکل ، چه هر چا داسی امیل موندلی وی ، او مونږ ته راوړی دونه پیسی هغه سړی ته به انعام ورکو .

برسیره پدې په هرځای چه د دوی گمان کېدی . او هره وسیله چه د دوی په خاطر کښې گرځیده په هغه وسیله به ئې اقدام او کوښښ کاوه .

لوازل ددې رارسیدلی مصیبت هره ورځ ترماښامه پوری چرت واهه چه کله به امیل پیدا شی ، ماښام چه میړه ئې راته ، او د خپلې ښځې سور مخ یې ژړ او لطفی شونډانی وچی لیدلی ، وضعیت یې لا زیات خراب کېدی .

وروسته د ډېرو تجسساتو چه دوی عاجز پاته شول ، زلمی عسکر خپلی ښځی ته وویل : اوس باید چه خپلی رفیقی ته ولیکی ، ستا امیل مات شویدی او څو ورځی کار لری چه جوړ شی هغه وخت چه د زرگر د کار څخه خلاص شو ، درته و ، به یې لېږم .

لوازل د خپل میړه په هدایت سره سم یو مکتوب مادام (فروستیر) د پاره ولیکله او یوه هفته نور هم دوی په تجسس کښې و ، مگر هیڅ نتیجه لاسته نه ورغله ، په پای کښې یې امیندونه قطع او مایوس شو ، پدې موده کښې دا زلمی عسکر لکه یو زوړ سړی په نظر راته . لوازل هم لکه گل چه مړاوشی داسی زاره او ضعیفه ښکاریده .

یوه ورځ زلمی عسکر خپله پنځه مخاطب کړه او ورته ویویل :

زما گرانی لوازلی ! اوس نومونږ د پاره نوره چاره نشته بیله دې چه د هغه امیل په شان یو امیل په بیع واخلو او تاوان ورکړو .

بله ورځ دوی د هغه ورك شوی امیل قطی واخیستله او بازار خواته رهی شو د قطی پرسر چه دهغې مغازې نوم او لمبر لیکل شوی و پیدا کړه او د هغه دکاندار څخه یې هغه شان امیل وغوښت ، دکاندار خپل کتابونه ولټول او وروسته د لټولو څخه یې ویویل : زما د دوکانه څخه داسی امیل چا نه ده اخیستی مگر یوازی دا قطی زما له دکانه څخه اخیستی شویده ، د دکاندار ددې خبرو څخه لوازل او میړه ئې ورېږدیدل او اضطراب ئې یو په دوه شو .

بالاخره دکان پدکان گرځیدل او تجسس به ئې کاوه ، چه د هغه امیل په شان یو امیل لاسته راوړی مگر هیڅ فائده ئې ونکړه ، په پای کښې د جواهر یانو په بازار (پاله رودیل) په یو دکان کښې د هغه امیل په شان یو امیل ولید او د قیمت ئې پوښتنه وکړه جواهر خرڅوونکی دکاندار وویل : چه ددې امیل قیمت ئې څلویښت زره فرانگه دی ، وروسته د ډېری جگړی څخه په شپږ دیرش زره فرانگ فیصله وشوه او دکاندار ته وویل چه تر دری ورځی پوری دا امیل په بل چا باندی مه خرڅوه وروسته دواړه خپل کور خواته روان شو او خپله دارائی یې وسنجوله د زلمی عسکر ټوله دارائی چه دده د پلاره څخه د میراث په توږه کښې پاته شوی و ، او څه نور چه پخپله تحیة کړی و ، د (۱۸) زره فرانگه څخه تجاوز

و نکړ ، نو اوس باید چه دوی (۱۸) زره فرانکه نور هم په هر توږه چه وی لا سته راوړی چه د امیل قیمت ئی پوره شی .

بل ورځ دواړه په پورپسی ووتل ، او په دوو ورځو کښې باقیمانده پیسی په ډېرې گردن پټیو او خوشامندونو د هرچا څخه پور واخیستلی او ټولو ته یې حجت ور کړ .

« دوی داسی زیار او مشقتونه چه پخپل ځانونو ئی قبول کړل یوازی دې د پاره و چه نومو نه یې بد او د دوی راتلونکی ژوند لکه داره نشی ، دا ټول زحمتونه یې ومنل او شپږدیرش زره فرانکه ئی تهیه کړل او د هغه امیل عوض یې و اخیست ، غمجن لوازل هغه نوی امیل چه له دکانه و اخیسته ، په ډېر تلوار دمادام (فروستیر) خونی خواته رهی شوه ، اود خپلی رفیقی څخه ئې تشکر و کړه اوهغی ته ئې وسپاره .

(فروستیر) بېله دې چه امیل د قطی سر بېرته کړی او و گوری ، خپل په بکس کښې کېښوده ، په دې حال دلوازل زړه رپیده او وجود ئې رېږ دیده ، ځکه چه خوف ئی درلود ، چه ددې رفیقه که خپلی امیل ووینی اوپوه شی ، چه دا امیل ددې نه دی ، آیا لوازل ته به څه ووائی اودغلی نسبت به پر دی و کړی .

څو دقیقی وروسته د خپلی رفیقی سره خدای په امانی و کړه اود خپل کور خواته رهی شوه . وروسته ددې ور ځی څخه بېوزلی لوازل خپلی راتلونکی ژوندون مخوف تصور کړ او د احتیاج او د غریبی په نړۍ کښې ئی تن کېښود ، او په ډېر همت اوزړه ور توب دې نابېره فلاکت او مصیبت ته خپله سینه سپر او ټول خواهشونه چه پخوا به ئې په زړه کښې وه هېر کړل ، ځکه دپور د ادا کولو دپاره ډېر مشقتو نه او تکلیفونه لازم و چه دوی ووینی ، اوله دې لامله خپله خونه تبدیله کړه ، اودغریبانو په کوڅو کښې ئې یو محقر ځای په کرایه وینو ، اود خپل کور کارونه ټول لوازل پخپله اوږه وا خستل ، او هره شپه به وروسته دډوډی صرفولو ظرفونه پخپله مینځل ، اوخپل اطاق به ئی هره ورځ جارو کاوه او خاوری ئی په کوڅه کښې اچولی ، هر کله چه د دې لطیفه اندام په داسی شاقه کارونو کښې عادی نه وه . په لېږ موده کښې داسی ضعیفه شوه ، چه په زینو کښې ، چه کښته اوپورته کېدله یوه شپیه ئی خپل دم جوړاوه اوتل به ئې زاړه کالی آغوستل اود بازاره څخه به ئی سودا لکه سابه او غوښی او ډوډۍ او داسی نور شیان پخپله راوړه اود دکاندارانو سره ئی جگړی کولی چه خپلی ضروریات لېږ ارزان لاسته راوړی .

مېړه ئی چه د عسکری خدمت څخه فارغ کېدی دروز گارتیا په وخت کښې ئې د سودا گرانو څخه په اجرت کار واخست ، اوهره شپه ئی تر سهاره پوری دهغوی کارونه انجامول ، په دې ترتیب به هره میاشت کښې ئې څه پیسی پس انداز کولی او خپل پور به ئی خلاصا وه .

لنډه دالس کال په ډېری پریشانۍ او سرگردانۍ دوی خپلی ژوند تېر کړ . لوازل دپېغلتوب په وخت دډېرو مشقتونو او تکلیفونو له لاسه لکه گل مړاوی او زړه شوه ، اود بذگرانو د ښځی په شان قیافه ئی تبدیله شوه . اوتل په پریشا نه و یښتو اوپه زړو جامو سره گرځیده اوخپل وخت ئی تیراوه . کله کله چه دخپل کور له تکالیفو څخه اوز گاریده ، دپنجری په څنگ کښې کېناسته اوهغه شپه چه واده ته تلی وه ، اودا روستی مصیبت چه ددې په خاطر کښې گرځیده ، سوزنا که آه ئې له خپل زړه و کېښ ، اوپه موجوده حال به ئی شکرونه کول ، او کله کله به ئی دیوازی توب په حالت کښې دځان سره وویل : که په عاریتی زینت دواده په شپه ، پردی امیل مې ورك کړی نه وی ، په دې موده کښې زما حال به څنگه کېده .

څوك پوهيږي؟ چه دانسان ژوندون يو عجيب شي دي، چه لېږ علت هغوي په بدبختۍ او خوشبختۍ اخته کوي .
يوه ورځ چه هوا ډېره لطيفه وه ، او هر څوك هوا خورۍ دپاره باندي تله لوازل هم تفريح د پاره د (شانزلېزه) دجادې خواته چه د پاريس يو ښکلي او باصفا جاده ده روانه شوه . او په هغه ځاى يوه ښکلي او مفشنه ښځه وليده ، او ددې نظرئې جلب کړ ، چه دخپلي کوچنۍ ځوي سره روانه ده، لوازل په لمړي نظر هغه وپېژنده ، چه ددې رفيقه مادام (فروستير) دي . چه تر اوسه پوري پيغله پاته شويده لمړي وغوښته چه ځان پټ کړي، بيائي لېږ تفکر وکړ ، مگر وپوهيده چه داترد دنامعقوله ده ، ولي خپل ځان دهغه څخه پټ کړم ؟ اميل خومې ئې ور کړيده ، پور وړي خوهم نه يم ، نو اوس بايد خپل ما جرا هغه ته بې قيدانه ووايم .

وروسته دمادام (فروستير) خواته روانه شوه ، او هغې ته ئې وويل : مادام ورځ دې خو ښه وي !
مگر (فرو ستير) لوازل ونپېژندله ، اوهغې ته وويل : زه تانه پېژنم چه ته څوك ئې شايد چه به سهو شوې ئې .

لو ازل ورته وو يل : خيرنه يمه سهوه ، زه ستاد ښوو نځي رفيقه (لو ازل) يم فرو ستير ددې خبرې دار ويد ويه حيرت ولويده اووېويل : آه بېو زلي لوازلي داته ئې ،حال دي ولي دا سي خراب اوابتر شويدي.
لوا زل ورته وويل : هو ، هو زه لوازل يم ، دهغه وخته څخه تر اوسه پوري چه ته مې نه ئې ليدلي ، په ډېر ومشقتو نو اوزيار ونو کښي اخته ومه ، اوپده ورځي مې تيري کړ يدي ، اودا بد بختۍ د تا دلاسه ماته رسيدلي ده .

مادام فرو ستير وو يل : عجبه خبره ده څنگه زه ستاد بد بختۍ باعثه شوې يم . لوازل ځواب ور کړه : آيا ستا په خا طر کښي دي چه يوه اميل په عاريت ستا څخه مي وړي وه ؟
فرو ستير وويل : هو په يادمې ده کيفيت ئې څه دي ؟
لو ازل وويل : کيفيت داده چه ستا اميل زمانه ور ک شو ي و .
فرو ستير وويل : څنگه ور ک شويدي ، لکه چه هېر دې دي ، اميل ماڅخه دي اوتار اوړ يدي .
لوا زل وويل : هو ، مارا وړيده ، مگر اميل هغه اميل نه و ، بلکه ستاد اميل شانته و ، اودا اميل چه اوس ستا څخه دي ، ما دد کا ندار ه څخه په ٣٦ زره فرانگه اخستي اوتاو ان مې تاته در کړيده ، دهغه ور ځي څخه ترا وسه پوري لس کاله تيريږي اوپه دې موده کښي ډېر تنگد ستۍ اومشقتو نه مې يستلي دي ، اوپه ډېره پر يشا نۍ مې خپل ژوند تير کړ يدي ، ما او مېړه مې پيسي نه در لودي ، البته پوهېږي چه د مفلسي له کبله اودهغه دتا وان اخستو له سببه په څونه مشکلا تو کښي موا جهه شوي يو .
په هر حال اوس شکر دي ، چه دپوره څخه خلاص يو اوتن موپه تقدير ور کړي دي .
مادام فروستير په دې خبره ډېر متأ ثره شوه ، او وروسته دڅو دقيقي تفکره څخه وويل مگردا اميل چه اوس ماڅخه دي زما پخواني اميل نه دي ، اود هغه تا وان دي ؟ لو ازل وو يل : هوته ونه پو هيدي ، ځکه چه بالکل ستا اميل شانته وه .
مادام فرو ستير دلېږ تاثره څخه وروسته د لوازل لاسو نه ئې ونيوله او ورته وويله : آ ه ز ما غمجنه لوازلي! ولي دي په هغه وخت کښي داخبره ماته ونه ويله اوپه دې ډېر ومود وکښي ولي داحا دثه زما څخه پټه ساتلي وه ، هغه اميل چه زما څخه دي اوته په عاريت وړي واصل الماس نه و ، بلکه الما سونه ئې مصنوعي و، دااميل چه تااخستي دي او ٣٦ زره فر انگ ارزش لري ، حا لانکه زما اميل قيمت ئې ٥٠٠ فرانگ و ،

دمطبوعاتو نړۍ :

دافغانستان تاریخ

دوهم جلد

څو میاشتی دمخه مو ، دافغانستان دتاریخ دلومړی ټوك زېری د کابل د مجلې په لوستونکو کړی و . اوس په ډېری خوښۍ ددې مهم کتاب ددوهم ټوك دچاپ او خپرید وزېری نشروو .

دا کتاب یوازی زموږ د ملګری فاضل اوپوه مؤرخ ښاغلی احمد علی کهزاد په تیز او قوی قلم په شپږو سوو (٦٠٠) مخو کی لیکلی شوی دی چه ٥٨ تصویرونه لری او د باختری یو نیا نو دمستقل سلطنت له ابتدا څخه بیا داسلام ترظهوره پوری دافغانستان پر تاریخ رڼا اچوی او څر ګند وی ئې .

ددې مهم کتاب داهمیت اوستایلو دپاره همدا خبره بس ده چه ووایو دافغانستان په تاریخ کی دالومړی اثر دی چه په دومره حجم (یعنی ١٠٥٩ مخه) په خپله په افغانستان کی د افغانستان دیوه لیکوال لهخوا لیکلی شوی ، او ښاغلی کهزاد هم لومړی لیکوال دی چه په ده لاره کی تر هر لیکونکی دمخه اودا لاره ئی په ښه موفقیت پرانیتلې ده چه تر پایه به ئی هم ورسوی . که د حقیقت له مخی وږغېږ و ښاغلی کهزاد خورا دروند اوله مسئولیته ډك کار ته اوږه ور کړېده ، خو داهم باید ووایو لکه څنګه چه دا کار دروند دی هم هغومره ډېر افتخار لری ، او طبعاً افتخار دهغه چاپه برخه دی چه درانه کارونه پر اوږه اخېستی وی .

موږ ښاغلی پوه ملګری کهزاد ته ددې مهم کتاب دلیکلو او نشرولو تبریکونه وایو او د مجلې لوستونکو ته ئې دپیدا کولو اولوستلو توصیه کوو ، اوتل هیله لرو چه د ښاغلی کهزاد په څېر زلمیان پیدا شی او خپل دې بی وزلی مملکت ته خدمت وکړی .

(ع بېنوا)

د آریانا دمجلې پنځم کال

دآریانا دمجلې دتأسیس څلور کاله تېر شوه ، مګر هغه علمی او تاریخی خدمتونه چه دې مجلې د ښاغلی پوه فاضل احمد علی کهزاد دتاریخ دانجمن دلوی مدیر په زیار او دښاغلی فاضل علی احمد نعیمی (دمجلې دمدیر) په توجه دې باستانی وطن ته کړی دی هیڅ وخت نه تېرېږی اوتل به په یادګار پاته وی.

که څه هم دآریانا مجلې ته مضامین تهیه کول څه آسانه اوسر سری کار نه دی اونه د کومی جریدې یا روز نامی په شان دې مجلې ته هر لیکونکی مضمون لیکلای شی ، بلکه خورا محدود لیکونکی لرې. خو سره له دې ئې هم وکولای شوه چه خپل څلرم کال په ښه موفقیت او کامیابۍ پای ته ورسوی ، او په پنځم کال کی پښه کښېږدی .

کابل ، ددې لوړی مجلې ټولو پوهانو لیکوالو ته د نوی کال تبریك وایی په تېره بیا ښاغلی پوه کهزاد اوښاغلی نعیمی ته دتیرو کلو دموفقیت مبارکی وړاندی کوی او په نوی کال کی دتېرو کلو په شان بری غواړی ، اوهم لوستونکو ته ئې داوستلو اواشتراك توصیه کوی .

(کابل)

له هری خوا

قاهره په تېرو وختونو کښې

دښاغلی «سیفی ترجمه» :

آیا مونږ قاهرې ته پخوانی ښار ویلی شو ؟ او آیا مونږ دا منلی شو چه په دې ښار کښې چه د ودانی تاریخ ئی پنځو زرو کالوته رسېږی د کورنیو اونسل تعاقب اویو په بل پسی راتللو په دې ښار کښې دا اثر پیدا کړیدی ؟ داهغه ښار دی چه له پخوانیو وختو او زمانو څخه دنیل ښی غاړی او دشمال خواته غوځیدلی پروت دی، اوپه کوم وخت کښې چه ممفیس د فرعونی لمړی کورنی موسس ته اقتدار په لاس ورغی نوهغه دغه ځای دیو مرکز په حیث ودان کړ چه دغی ښار یوه دروازه دسیند اوبله دروازه دجنوب خواته درلوده. دېنه وروسته چه دممفیس مجد ضعیف شو په دغی وخت کښې هم تر ډېرو وختو او کلو پوری دغی ښار دیو مرکز حیثیت درلود .

لیکن په کوم وخت کښې چه مقدونی فاتح د یونان تمدن مصر ته داخل کړ نوپه دغی وخت کښې دغه ښار چه دممفیس دفعالیت یو دا راز ځای و چه له دی ځای څخه به ئی ډېری قوی لښکری بیرته تمیولی او دهغو مدافعه به ئی کوله د کندوالو په شکل تبدیل شوی او ددې ښار (طیبه) نومی دروازې د خاورو دیو څلی شکل اختیار کړی و دېنه وروسته دې ښار په نورو نورو نومونو شهرت وموند لکه چه په یو وخت کښې دې ښار (حکو بتاح المقدس) نوم درلوداودا نوم د(آیجبتوس) دوخت نه وروسته میدان ته را وتلې و . دی ښار (مدینة ذات السور الابیض) نوم هم درنود او په کوم وخت کښې چه دا ښار دجزیرة الروضه نومی ځای پوری اوږو،دشونو په دغه وخت کښې دې ښار په (بابیلون مصر) اویا (مصری الشام) نوم شهرت وموند . دېنه وروسته عربو فطاط نومی ښار ودان کړ او دېنه وروسته قطایحه او د ېنه وروسته قاهره .

قاهره دډېرو قوی سلاطینو مقر اومرکزواوددې ښار تاریخ په نړی کښې ښه معروف اوښکاره دی، او د الف لیلة ولیله د قصو په ډول ډېرې مسلسلی زیاتی کیسی اړی ـ دهکاسی فن دپخوانی قاهری مناظر نه دی قید کړی او تقریبا دیوی پېړی څخه په تخمینی ډول سره دقاهری مناظر شته دی چه دغه مناظر د پخوانی قاهری د مناظر و په نوم شهرت لری او معروف دی .

دا هغه نوم دی چه دی نوم دابو الهول په شونډو دمسکوالی دا راز غامض او زړه ودونکی تاثیر کړیدی چه په دغی وضعیت کښې ددې قام دمیرو او رغو او دا گونو د تېرو وختو ژوند رسم شویدی او دغه وضعیت موجوده نسل ته د تېرو وختو تاثیرات اوژوند ور په یاده وی .

لیکن نن مونږ دقاهری اوسیدونکی په دی شلم پېړی کښې دغو کندو او کندوالو ته د کندوالو

دقصر النیل دیل پخوانی و دانی په ۱۸۹۷ ع کی

دقصر النیل نوی ودانی چه اوس د جسرانغد یو اسماعیل په نامه یادیږی



دباب الحديد او كوبرى الليمون دوه ستيشنونه په ١٩٠٥ ع كى

دباب الحديد نوى ستيشن



د کونتستان دهوټل یخوانی ودانی په ۱۸۷۰ ع کی

د کونتستان دهوټل اوسنی ودانی



« شیرا » نومی واټ په ۱۸۷۰ ع کی



دشیرا واټ په اوسنی حال کی .

په ستر که نه گورو بلکه دغه ځایو نه مونږ ته ډېر ښکلی ښکارېږی او مونږ ورته دقدر په ستر گه گورو ، او دا ځکه چه په دغو ځایو کښې زمونږ پلرونو او نیکونو ژوندون کړیدی اوله دې کبله ددغو ځایو کتنه مونږ ته یو خاص خوند را کولی او زمونږ په ستر گو کښې ډېر قدر لری .

او مونږ په دې خبره عقیده لرو چه دغه کندوالی زمونږ ددې موجوده مدنیت بنست اواساس دی او په کوچنی والی کښې په دغه ځای کښې روزل شوی او دې مقام ته را رسیدلی یو ، او نن دا زمونږ موجوده قاهره په خپلو ښکلیو ودانیو افتخار کوی.

پخوانی هغه پلونه چه ډیوری و تونکو دپښو لاندی به رېږدیدل او په ډېر تکلیف به ور باندی خلك پوری وتل نن په ښو اوپخو عصری پلونو باندی تبدیل کړیشو اوهغه پلونه چه پخوا به ورباندی خلك په ډېر اضطراب پوری وتل نن ورباندی ثقیل شیان او کړندی او دا راز راز مالونو ډك مو تران او لاری په ډېر آسانتیا تیرېږی. او هغه دده زمری چه دیله دمنارو دیاسه جگ ناست وو هغوی هم ددی نوی عصری لیا رو او و دانیو د احترام د پاره د خپلو جگو ځایو شخه را کښته شو او د (باب الحدید) نومی ځای استیشن هم د ښه زر ترقی و کړه او نن دغه ځای دومره ښکلی اوپه یو داراز سائیسته میدان کښې جوړ شویدی چه دمصر ښار ورپا ندی ښکلی ښکار ېږی - نن فرعونی مصرددې مصر نتداری کوی او ددې مدنی عصری ښار په لېدلو خوشحا لېږی اودی خپل ځوان او مهذب نسل ته د قدر په ستر گه گوری .

نن دهغی کوچنی قصر په ځای چه (کو بری اللمون) ورپا ندی لیکلی ووران اودهغی په ځای در یل نوی استیشنو نه جوړ شویدی، اوهغه پخوانی مشهور هوتلونه چه په هرزمی کښې به ورله دلرو ځایو اومما لکوشخه سیا حان را تلل نن بالکل په بل ډول دار ازښکلی ودان شویدی چه لیدونکی ورته حیران پاته کېږی اونن په دغو ښکلو اوقصر ونو کښې دهر راز رفاه او هوا هی وسائل آماده دی، لیکن په دی ځایو کښې یو ځای دی چه هغه ځای (شارع شبرا) نوم لری او دغی ځای پخوا نی اونور طبیعی مناظر لرل چه هغه مناظر په دغی ځای کښې ډېر ښکلی ایسپدل لیکن نن له دی کبله چه دغو ونو دحمل او نقل دتیر یدلو وسائلو ته مشکلات پېښول نوله دغی کبله د غه طبیعی مناظر بیرته کړشو اوله دی کبله ددغی ځای طبیعی منظره بالکل خرا به شوه .

دقاهرې خلکو به پخوا په (عربات الا منیبوس) نومی گا ډیو کښی چه خلور و قا طران به را ښکلی سپر بدل لیکن نني قا هره هغه قاهره نه ده نن قاهره دنړی دلویواو متمد نوښار و سره سیالی کوی ، نن ددی ښار موزیمونو اوخلکو په خپلو خونو او زدونو کښې خپل پخوانی آثارمحفوظ ساتلی اوپه خپل پخوانی تېر لوړ ځلاند تاریخ اونوی مجد افتخا ر کوی .

(له المرآة الجدیده څخه)

« دهیوری آف مین کاند»
یعنی دنوع بشر دداستان د کتاب څخه ترجمه

مترجم عبدالکریم حکیمی
دادبیاتو دفاکولتې محصل

هېرو غلیف یاتصویری لیکنه

دمصریانو دلیك دفن اختراع او د تاریخ ثبت شروع کېدل :

داروپائیانو پخوانی نیکونه چه داروپا په سالوئی ژوند کاوه ژرئی نوی او ډېرشیان زده کړل، دا به بېځایه نه وی چه ووایو، چه هغوی دزمانی په تېرېدلو سره دوحشیانو عادات ترك کړی او ځانته ئې یو تمدن جوړ کړی دی مگر ناڅاپه ددوی دې انفرادی تمدن ته خاتمه ور کړه شوه یعنی دوی کشف شول .

یو سیاح دسهیل دنامعلومه ځایه څخه چه دبحر او دجگوغرونو په تېرېدو کښې ئی ډېرزحمتونه لیدلی و، داروپا په قاهره کښې دوحشی انسانانو وځای ته ځان ورساوه، دی دافریقی څخه راغلی و، او کورئی په مصر کښې و، دنیل ورشوگانو ترزرو دمخه تر دی چه دمغرب خلك د کور، دزراعت اسباب اوالی چه د اسکاناتو خوبونه ئې لیدل دتمدن دلوړی درجی اساس ئی ږدی او مخ پروړاندې ئې تگ و .

نو اوس مونږ دغه داروپائیانو ډېر پخوانی پلرونه دهغوی په سمڅو کښې پر ېږدو ، او دمدیترانی جنوبی او مشرقی سواحل یعنی هغه ځای چه دنوع بشر باستانی مکتبونه جوړ شوی و تر تدقیق لاندې اخلو مصریانو مونږ ته دډېرو شیانو درس او تعلیم راکړی دی، دوی پاخه بزگران و، دزراعت په هرو جارو باندې پوه و ، دوی معابد جوړ کړی و، چه وروسته یونانیانو دهغوی تقلید وکړ، او دالمړنی نمونی دمعابدو دی چه نن ورځ مونږ په هغوی کښې عبادت کوو .

هغوی کلیز (تقویم) اختراع کړی، او دونه یوه مفیده آله وه چه دوخت اندازه ئی په ښه صورت سره ښودله او تر اوسه دهغه څخه کار آخستل کېږی مگر ډېر لږ تغیر ئی لیدلی دی .

مگر تر ټولو مهم شی دادی چه مصریان په دی پوهېدلی وو چه څنگه لیکونه درا تلونکی نسل دا ستفادی دپاره وساتی ، دوی دلیك فن اختراع کړی و .

مونږ داخبارونو، کتابونو او مجلو په لیدلو او لوستلو سره دونه عادی شوی یو چه خیال کوو، چه ټوله دنیا تل په لوستلو او لیکلو قادره وه په حقیقت سره لیك تر ټولو مهم اختراع او یونوی شی دی .

بېله لیکل شوو وثائقو مونږ بی سواده وو لکه بې سواده خلك چه هغوی یوازی خپلو کچنیانو ته څو معمولی او ساده شیان ښئی او هغوی ځکه چه لیکلای نشی نو هېڅ داسی لاری باندې نه پوهېږی چه دخپلو هغو نسلو څخه چه دمخه شوی دی څه گټه واخلی .

دمبداء تاریخ داولی پېړی دمخه یعنی هغه وخت چه اروپائیان مصر ته راغلل هغوی دغه مملکت د عجیبو تصاویر واونقوشونو ډك پیدا کړ، او داسی ښکارېده چه دغه تصاویر او نقوش دمملکت د تاریخ سره څه اړه لری، مگر رومانیان په هرشی چه دباندنیو ممالکو څخه به وو څه علاقه ئی نه درلوده او ددغو عجیبو نقوشو او تصاویرو چه دمعابدو او قصرو دیوالونه ئې بې پوش کړی وو او لوئی لوئی پاڼې ئې چه دپاپروس څخه جوړې شوې وې موجودې وې .

دمصریانو آخرنی کشیش چه دداسی نقوشو او تصاویرو په مقدس فن باندې پوهېدی څو کاله دمخه مړ شوی و مصر داستقلال او آزادی نه محروم دیو مخزن په گرزېدلی و، چه دمهمو تاریخی وثائقو څخه چه هېڅوك په هغوی نه پوهېدل او نه انسانانو او نه حیوانانو ته څه گټه رسوله ډك وو .

اولس پېړی تېرې شوی، مگر مصر دیو مرموزې مځکی په شان پاته شو، مگر په ۱۷۹۸ کال کښې یوه فرانسوی جنرال چه بونه پارت نومیدی، داسی واقعه وشوه چه دافریقا شرقی حوزې ته راشی او حملی تیاری پر برطانیه هند باندې ونیسی، دنیل دوادی نه تېرنه شو او په خپل مقصد کښې ناکام شو، مگر ناڅاپه د فرانس دعسکرو تلل او راتلل دپخوانی مصر دتصویری ژبی قضیئه حل کړه .

یوه ورځ یوه زلمی فرانسوی منصبدار چه دخپلی نظامی کلا (دروستیارود په غاړه چه دنیل دهانه وه) دی ددې

افسرده ژوند خخه‌ډېر بې‌حوصله شوی‌و، فیصله ئې‌و کړه چه‌دخپلې بېکارۍ خوساعته دنیل د دلتا دخرابو په جستجو تېر کاندی اوپه‌مشاهده ئې‌پیل‌و کړ، یوه‌تېنزه ئې‌پیدا کړه چه‌دده دتعجب سبب‌شوه لکه تو ل نور شیان چه‌په مصر کښې‌و ددغه تېنزه ئې‌هم‌په‌تصویرونو سره مزینه شوی‌وه .

مګر دادتورمرمر مخصوصه لوحه دتولوشیانو نه‌چه‌ترهغه وخته پورې کشف شوی وو توپیر در لو ددری نقشونه‌ئې درلوده چه‌یوئې په‌یونانی ژبه‌و، اویونانی ژبه‌هغه‌نه‌معلومه‌وه ، نوهغه دااستدلال و کړ: «تول هغه‌شیان چه‌ضرور دی دادی چه‌یونانی لوحه اولیك دمصری اشکالو سره مقایسه کړی، اوژر به دکتیبی تول ر موز ښکاره شی دغه‌نقشه اوپلان ډېرآسانه ښکاربده مګر دشلو کالونه ئې‌ډېر وخت‌وینو چه دغه معما حل کاندی په ۱۸۰۲ کال یوفرانسوی پروفیسر چه شمپولیون Champollion نومیدپه دی کار «چه‌یونانی اومصری لوحی دمشهور روسیتا Rosetta دتیزی سره مقابله او مقایسه کړی» پیل و کړ .

په۱۸۲۳ کال‌هغه پروفیسراعلان و کړ چه‌خور لسو کچنیو تصویرونو معانی کشف کړی: لنډ وخت‌وروسته ددېر کار کولو په‌نسبت مړشو، مګر دمصری لیکو اساسی کلی قاعدې معلومې اوواضحه شوی .

ن‌مونږته پیل‌دوادی داستان دمسیسی داردو داستان‌نه شه‌خر کند شوی‌دی،مونږ ایکل‌شوی‌ریکاردونه چه دثبت شوی تاریخ خلورو زرو کالو دهغه خخه دزمان او مکان په‌ترتیب ښکارینږی په‌لاس کښې لرو.

هغسی چه‌دپخوانی مصریانو Hieroglyphies یاهیروغلیف (تصویری‌لیکونه)داسی ډېرمهم‌رول‌ئې‌په‌تاریخ کښې‌لوبولی‌چه‌تاسی‌بایددهنرمندسیستم‌په‌باره کښې چه‌پنځوس پېړۍ‌دمخه‌ددې‌دپاره‌استعمالیده‌چه‌دهغوی‌خبری‌اترې وراتلونکی‌نسل‌ته‌وساتی‌خه‌وپوهېږی(هیروغلیف‌لحینی الف‌بایه‌تغیرشوی‌شکل‌په‌ننتیوژ بوالف‌باکی‌پیدا کېږی)

حتی‌تاسی‌پوهېږی چه تصویری‌لیك‌خه‌شی‌دی ، هرهغه‌هندی داستانونه (۱)چه‌په مغربی مخکو کی او سیږی یوفصل ئې دهجیبو مکتوبونو دپاره چه د کچنی اشکالو په شان ایکل کیږی او د راشی، چه خو تنه بغیلو یاسندی وژل شوی او خو تنه ښکاریان په فلانی میلمستیا کی را تول شوی‌دی اختصاص‌ور کړیدی . په‌عمومی طور سره دایوه سخت کارنده چه انسان دداسی مکتوبونو په معنی و نه پوهېږی .

باستانی مصری که خه هم یوه تصویری لیك نه وه ، او دنین د وادی هوښیار سړی ددغی مرحلې نه ، ډېردمخه تېرشوی و، بلکه دهغوی تصاویر داصلی شی دموجودیت نه‌ډېرې لوئی معنا وی دراودی ، او اوس ه کوشش و کړم چه تاسی ته‌ئې توضیح کړم .

فرضاً تاسی‌شمپولیون وای ، او دپا پروس دلوحې یوه برخه موترمعائنی اوتدقیق لاندی آ خیسته ، چه توله په هیر وغلیف سره پوش شوی و، اوناخاپه دیوی سړی تصویر دیوې آری سره ستاسی و مخ ته راته ، اسی به وایاست ، ډېرښه ! « دهغی تصویر معنی داده چه یو بز گرو لاری چه یوه ونه پریکړی . » بیا یوبل پا پروس اخلی ، دغه دیوی ملکی داستان دی چه ۸۳ کلنی کی مړه شوی ده ، د دغې جملې په مینځ کی بیا دیوه سړی تصویر دیوې آری‌سره ظاهرینږی .

دوه اتیا کلنه ملکه آره (Saw) نه استعما لوی ، نولدې جهته به تصویر کومه بله معنی لری ، مګر خه معنی لری ؟ دایوه معماده چه هغه فرانسوی بالاخره دهغې په حل‌موفق شو . فرا نسوی دا کشف کړه‌چه مصریان اړی اشخاص دی چه دفونتیك په اصول لیك (بادزغیوهنی په اصول لیك) استعمال کړیدی، فونتیك لیك دنښې اوعلامې سیستم دی ، چه بزغ یافون ، دویل‌شوی کلماتو ، دویم‌لحله لیکل کیږی، اودآسانتیاموږته پښوی چه‌خپل تول‌ویل شوی کلمات دلیك په شکل یوازی دیوخونقاطو اوخطوطو په‌مرسته‌سره ترجمه کړو. که بیا هغه کچنی سړی ته چه‌سا (آره) په لاس کښې لری رجوع و کړو ، سا یا د آری په معنادی چه دنجارانو په دکان کی‌ئې وینو یا دفعل (Tosee - لیدل) صیغه ماضی یعنی ولیددی .

---

(۱) مقصد ی امریکائی هندیانونه‌دی چه سورپوستکی‌هندیان هم بلل کیږی ، اودا اضلاع‌متحده امریکا په غربی برخو کی لاتر اوسه پاتی دی . « مترجم »

داهغه تغیرات دی چه دزمانی او پیریو په تیریدوسره کلماتو ته پیښیږی ، لمړی وار « سا » د یوی مخصوصی آلی چه «سا» ئې نمایندگی کوی نوم وو، بیاهغه معنی ورکړه شوه اود یو فعل ، صیغه ماضی وگرزیده .

پس له خو سو وکالو مصریان ددغو دواړو معاینو لید او شکل اه یاده وویست او دغه تصویریوه حرف په ځای چه « S » دی استعمال شو .

یوه لنډه جمله دهغه شی چه زما مقصد دی په ښه توگه سره به را وښی..

وگوری دایوه مادرن انگلیسی جمله ده چه دهیروغلیف په شان لیکل شوی ده .

دغه تصویر

یا دستر گو (Eye) علامی دی چه تاسی دهغه سره وینی، یادزه « I » یعنی هغه سړی چه خبری کوی (متکلم) معنی راشی،

اودغه تصویر

یا هغه حشره ده چه عسل تو لید وی یعنی مچمچی (Bee) یا دفعل بودن (tobe) په عوض استعمالیده .

اویا د (be-come = شدن) او یا د (be-have = رفتار کردن) د کلمولړی جزء یعنی be دی . اودا تصویر دبلی تصویر یعنی چه یوه پانی ده اویه انگلیسی ئې « Leaf بولی تعقیب شوی دی ، او د leaf یا (اجازه) leave یا lieve چه دری واړه یوراز ږغ لری معنی ورکوی

بالاخره دغه تصویر

چه دزرافی Giraffe دی.

دغه یورتنی تصویرونه دزړی تصویری ژبی یوه حصه ده چه هیروغلیف دهغه څخه ومینځ ته راغلی دی .

اوس ئې په انگلیسی جمله یی له کومه اشکاله داسی لوستلای شو .

I believe I saw a giraffe.

مصریانو دغه سیستم اختراع کړه چه په زرو کالونی ترقی ورکړه اویه پای کی موفق شو چه هر شی وغواړی ولیکی ، اودغی تصویری کلمات ئې په هغو مکتوبونو چه ملگری ته ئې لیږل ، دخپل کار وبار او داچه دخپلی مملکت دتاریخ ریکارد وساتی استعمالول وـ شوچه راتلونکی نسل د پخوانیو دنقائصو څخه گټه واخلی .

د خارجه مطبوعاتونه

د پلاستیک صنعت

پښتو کوونکی: محمد رحیم «عاصمی»

ډېرلنږ اشخاص به وی چه د پلاستیک نه خبر نوی حقیقتاً پدې وختو کښې دغه مهمه ماده په گردو صنعتی هیوادو کښې داستعمال وړ گرځیدلې ده.

خوسره له دغه پوره شهرته او اهمیته لاتراوسه پوری هم زمونږ معلومات د پلاستیک په خصوص کښې سطحی دی، اولنږ کسان خبر دی چه دغه مهمه ماده څه شی ده، او د څه شی نه جوړېږی، او په ننني صنایعو کښې انسان له څه گټه رسوی؟ ځینی خیال کوی چه دغه ماده مازې د پیروی څخه لاس ته راوړل کېږی، ځینی نور د هغه اصلی ماده «بیک لائیټ» گڼی چه د خاکستردانیو په جوړولو کښې پکارېږی، خودینه خبر ندی چه پخپله «بیک لائیټ» څه شی دی او څنگه میسر کېږی؛ دغه بې خبری باید زمونږ د حیرت موجبات چمتو نکړی؛ ځکه د پلاستیک صنعت یوتازه شی دی چه د ۱۹۲۰ میلادی کال نه یې وروسته شهرت پیدا کړیدی، ددغه پرمخ تگ توضیح، او ددغې مفیدې مادې کیفیت او ستاینه پدغې لنډې مقالی کښې نه ځائیږی، نومونږ یې هم د توضیحاتونه صرف نظر کوو، او ځینی خواص او مرکبات یې بیانوو، پلاستیک یو راز خمیره ده چه د حرارت او فشار په اثر په ډول ډول مفید و شیانو بدلېږی او کار ځینی اخیستل کېږی، ددغو شیونو شمیرزرگونوته رسیږی او هریویې په مختلف ډول سره زمونږ ننني احتیاجات رفع کوی، پخوانی پلاستیک د ځینی طبیعی محصولاتو لکه مالوچو او کارنین «دخیدک دمادې» څخه لاس ته راته، دغه اصول لا تراوسه هم رواج دی، خو اوس زیاتره پلاستیک د شیمیائی موادو لکه فیغول «الیدفنیک» یوریا «د بولو ماده»، «فورمل دی هایډ»

«استیلین» او «ایتیلین» نه استخراج کوی، د خواصو له کبله دغه گرد پردو برخو وېشلی شو: یوه یې د «ترمو پلاستیک» په نامه شهرت لری، او بله یې د «ترمو ستنیگ» ماده بولی.

لومړی یې هر وخت مو چه زړه و غواړی هغه د حرارت په وسیله نرمولی او پستولی شو، اودشیونو په جوړولو کښې ځینی کار اخستلی شو، خو دوهمه یې د یوځل نه زیات پکارنشواچولی؛ ځکه دوهم ځل بیخی نه نرمیږی، د پلاستیک او مه مواد په څو ډوله د پلورلو په غرض بازارته وړی، زیاتره یې د سفوفو نازکو تختو، میلونو لوله و، او نریونوارو په شکل د سینما فلم ته ورته وی د صنعت گران هغه پستوی، او د مفیدو ډول ډول څیزونو په جوړولو کښې پکارېږی.

دپلاستیک تختې عموماً څلور نیمه فټه اوږدوالی او دوه فټه عرض لری او پنډوالی یې د یوانچ نه بیا د انچ ترزرمی برخې پورې رسی.

فلمونه یې چه د محلولونه جوړ شوی زیاتره (۱۲۰۰) فټه اوږدوالی، او (۵۰) انچه پسورلری.

مخکښې له هغه چه د هغو شیونو مکمل فهرست وښیئو چه د پلاستیک صنعت ته احتیاج لری لازمه ده چه د هغو مشهورو شیونو نوم واخلو چه د پلاستیک نه

جوړشوی دی ، او په هر کور کښې لیدل کېږی .

که د خپلی راډیو ساختمان ته لنږ څه ځیر شی زیاتره اجزابه یې له همدغی مادې نه ومومی ، او زیاتره بکس یې د پلاستیک مرهون دی .

همدارنګه د عکاسۍ کیمرې ، د سینما فلمونه او زیاتره د سینما توګراف آلات ، د مجهولو وړانکو فلمونه ، او د ښځو د کالیو غوټی او سګکو نه چه خورا ښایسته او ځلا ند جوړ شوی ، او د اوبدلو رنګا رنګه ستنې ، او په سوو نور څیزونه چه په هری کورنۍ کښې موجود دی ګرد د پلاستیک دصنعت مدیون دی ، یوازی د زمنځو جوړولو فابریکی په کال کښې په سوو زرو ټنه پلاستیک مصرف کوی ، اوزیات نور مقدارئې دچړو چاقو ګانو ، پنجواودغاښو د برس دلاستو ، اود مصنوعی غاښوپه جوړولو کښې صر فېږی .

دپخوانیو برسونو و ېښتان دهرشی نه چه وو ، خو اوس دیوډول پلاستیک نه جوړېږی چه د «نیلون» په نامه یادېږی ، اوشهرت لری .

برسېره پردی دغه نوې ما ده د ښځو د ځورا بو په اوبدلو کښې هم پکارېږی . د « پنګ پو نګ » دمیزی ټېنس پنډوسونه چه خو را ګړ ندی او چابک دی د «سلولائیډ» «پخوانی پلاستیک» نه حا صلېږی خودرنګه فلمونه اوښایسته اوښکلی پنسلو نه زیاتره له همدې نه ترکیب شوی دی .

که د ټیلفون دستګاه ته لنږ څه ځیر شی او دد غی ښایستو کی آلې تو ر رنګ ته د تعمق په ستر ګه وګوری ، ګردئې دیو ډول پلا ستیک مدیون دی چه په علمی اصطلاح کښې « دفینول فا رمل د ی ها ئیډ پوډر» بلل کېږی . دپلاستیک صنعت داو سنۍ جګړې په اثر ډیر پهمخ تك کړی دی ، او اوس لههغه نه دالوتکو د کړکیو ، پو ښونو ، دپیلو ټ دناستی ځای او نورو برخو په جو ړولو کښی په تیره بیا دښیښو پهعوض کار اخلی پهعد سیو ، ماسکو ، اودتانګ پهځینو برخو کښی همځینی استفاده کوی .

نن ورځ د شلو نوعو پلا ستیک نه زیا تی دا ستعمال وړ دی ، اوهر ډول ئې په خو را مختلفو شکلونو دپلورلو په غرض بازارته حاضروی .

دمهمو اقسامو په باره کښې ئې په لا ندی ډول سره لنډ معلوت بیانو و :

۱- سلو لائیډ : په تېره پېړۍ کښې علما د بل راز پلاستیک په وجود نه وو پو هېدلی ، او حتی نن ورځ هم دغه ماده ، سرهله دې چه نور مختلف اقسام ئې اختراع اوایجاد شوی دی داهمیت نه نده لو ېدلې ، اود کار آمده شیانوداقساموپه جوړولو کښې پکار ېږی « سلولا ئیډ » په خواصو کښې دترمو پلا ستیک له جنسه څخه دی اود مالو چو نه ایستل کېږ ی ، اوپه هررنګ موچه زړه وغواړی رنګولی ئې شو ، حتی لکه اوبو غوند ی شفاف اوبې ر نګه پلا ستیک هم دامکان نه بهرندی خود«سلولائیډ» ستر نقص دادی چه خو را ژر اور اخلی .

مخترع ئې « النکه ا ندر پار کس » دبرمنګهم له او سېد ونکو څخه وچه پر ۱۸٦٤ ئې د هغه دا متیاز انحصار دحکومت نه حاصل کړ .

متأسفانه هغه شر کت چه «پار کس» پدغه غرض تاسیس کړ ، په قابل الذکر پرمخ تګ سره کا میاب نشو . له ده نه شپږ کاله ورو سته د «حییټ» ورو ڼو دده دفارمول نه استفاده وکړه ، اوپه امر یکا کښې ئې د «سلولائیډ» په جوړولو پیل و کړ .

لومړی ئې دهغه نه دبلیارډ دپنډوسوپه جوړولو کښې چه په هغه و خت ډېر احتیاج ور ته محسو س و کار واخیست اوډېر ثروت ئې ذخیره کړ .

پر ۱۹۰۷ کال بلژیکی دو کتور « لیوبیك لینډ» چهپه امریکا کښې اوسېده او دهغه ځای تابعیت ئې قبول کړی و ، دیوبل ډول پلاستیک په کشف موفق شو ، چه وروسته ئې د « بیك لا ئیټ » پخپل نامه شهرت و موند . دغه نوی پلاستیک دفینول له تر کیب نه چه دقیر د محصولاتو نه دی اود « هائیډ دی فورمول » نه حاصلېږی په خواصو کښې د پلاستیک دوهم ډول «ترموسیتنګ» پورې مر بوط دی ، او زیاتره دپوډر

په شکل دپلورلو په غرض بازار ته وړل کېږي . دغه پوډر دحرارت اوفشار په اثر په مخصوصو قالبو کښې اچوي ، اود کار آمده شیانو دانو اغو په جوړولو کښې ئې په مصرف رسوي ، او په تېره بیا له هغه نه د برقي آلاتو « سوچ ، هولډر ، وال ساکت ، او سلندر روز » په جوړولو کښې کاراخلي .

برسېره پردې دبال پېر نګ « الفه لرو نکو ساچمو »

او پولادي خرخو نو په جوړولو کښې هم د استعمال مور ددی چه هیڅ دغوړو وګر ېزته ضرورت نه لوېږي ، او دغوړو په ځای له اوبونه هم کار اخستلی شو ، تصادفاً علماد « سلولائیډ او بیک لائیټ » دو مادو له ترکیبه دنوی پلاستیک په جوړولو موفق شول او هغه ئې « سلولوز اسیتیت » و باله چه په شکل کښې زیاتره « سلو لائیډ » ته ورته دی .

خودهغه پر عکس زر او رنه اخلي اوهغه فوندی کلک هم ندی . دغه ماده هم نسن ورځ دضروری شیونو داقسامو په جوړولو کښې انسان ته خدمت کوی اوس ئې یوماشین اختراع کړی چه دهغه په وسیله په آسانۍ سره له دغه پوډرنه د مفیدو شیونو داقسامو په جوړولو کښې کار اخستلی شو .

لومړی دسلولوز پوډر دماشین په لوله کښې تریوی ، ورو سته دیوې وړې غوټې په فشار سره ماشین پکار لوېږي ، او مطلوبه شیان پخپله دقالبونه لاندې تو ئېږي .

بل مهم پلاستیک د « یوریا او مارمل دی هائیډ » له ترکیب نه حاصلېږي . د دغې مادې زیاته برخه دنا ځکو ، او دهلکانو دتفریح او لوبو نورولو ازمو او اسبابو نو په مصرف رسېږي .

برسېره پردې د غوټو ، دبوتلمو نو دسرو ، او دبرقي آلاتو په جوړولو کښې هم داستفادې وړدی . همدارنګه هغه دسرینټا کې مایع په شکل سره بدلوی او دلرګیو دناز کو تختو پر مخ او شائې تویوی او سطح ئې بیخی په هغه سره پټوی ، او له دغه نه دالوتکو په ځینو برخو کښې کاراخلي . په تېره بیا

په « مسکیتو » دوله الوتکو کښې خوراډېر استعمالېږي دپلاستیک بل قسم چه زیاتره د الوتکې دبدنې کړ کیږو ، اودپیلوټ دناستې دځای په جوړولو کښې پکار ېږي ، د « پرس پیکس » په نامه مشهور دی دغه ماده ډېره شفافه ده ، حتی د ښیښې نه هم په صفایی او رونړوالی کښې بهتره ده ، اوبصری خواص هم لری . له دې کبله دعدسیو ، د علمی آلاتو ، او دعکاسۍ د کیمرې دښیښو ، او مصنوعی غاښو په جوړولو کښې زیاتره دهغې نه کار اخلی ، او دهینګو په جوړولو کښې هم ځینې کار اخستی شو . خومتاسفانه دنو کارې اثر په اسانۍ سره د هغه پر سطح معلومېږی ، او پدغه سبب سره د هینګو په جوړولو کښې دونه ګټور ندی .

بل پلاستیک چه اوس ډېرشهرت لری « نیلون » ئې بولی . پر ۱۹۳۷ کال امریکائی دو کتور « والیس کارو درز » چه د دووسو کیمیادانو ، او مهندسینو په اتفاق سره لس کاله دمخه پدغه باره کښې په تحقیقاتو بوخت وپه وجودئې و پوهېد ، دغه ماده دناز کو رېښو په ډول دور ېښمو تارو فوندې سازوی ، اودښو کالیو په جوړولو او دښځو د ځورابو په او بدلو کښې ئې پکار وړی . پر سېره پردې دتېنس دډنډې ژۍ ، د کب نیولو تار ، او د جراحۍ دبخیو کار آمدتارونه ، اونورمفیدشیونه ځینې جوړېږی ، او په بې وزرو الوتکو کښې هم داستفادې وړدی .

ځینې پدې عقیده دی چه پلاستیک به ورو ، ورو نوراومه موادلکه « پولاد ، مس ، ښیښه ، لرګی ، چرم او نورشیونه » له اهمیت نه وغورځوی ؛ خو زما په نظریه داسې نده ، دامو په زړه کښې ولری چه دا لکه دنورو او مومواد و په شان ارزانه ندی اوپه آسانۍ سره نه میسر کېږی . خوهر کله چه په ډول ډول رنګو نو اوړی او مختلفه خواص لری . نودېنه وروسته به زمونږ په صنعتی ژوند کښې ډېر ستر فواید بار راوړی .

« پای »

سیرة النبی

مؤلف: مرحوم شبلی نعمانی رح — مترجم: برهان الدین کشککی

(٥)

تبصره

دغه د (سیرت) یو اجمالی او ساده تاریخ ؤ. اوس مونږ پری له مختلفو خوا ؤ غواړو چه نظر واچوو: —

اول: اګر که نن ورځ په سیرت کښ په سلهاؤ تصنیفونه موجود دی، لیکن د ګردو سلسله بالاخر یو ائځی د غو درو څلورو کتابو ته منتهی کیږی: (د ابن اسحاق - واقدی - ابن سعد او د طبری سیرت) هغه کتابونه چه علاوه پر دوی دی، هغه ګرد له دغو څخه متأخر دی. او پدغو کښ چه کوم واقعات مذکور دی، ډیر ئی له همدغو کتابو څخه اخیستی شوی دی (د احادیثو له کتابو څخه کومه برخه چه اخیستی شوی ده، د هغی بحث د لته نشته) بناء علیه مونږ غواړو چه پر دغو پاس کتابو په زیاد تفصیل او تدقیق سره نظر وغورځوو: د دغو له منځه خو «واقدی رح» بیخی د دی خبری وړ دی چه سترګی تری واړ ولی شی. محدثین بالاتفاق لیکی چه ده به له خپله ځانه روایات جوړول. او حقیقةً پخپله د «واقدی رح» تصنیف پر دغه مقصد شهادت لولی، چه دی د یوی جزئی واقعی په نسبت داسی راز راز او په زړه پوری تفصیلات بیانوی چه نن ورځ ډیر لوی واقعه لیکونکی هم د خپلو سترګو د لیدلو واقعات هم نه شی داسی ښکلی. ماسواء له «واقدی رح» نور دری واړه تصنیفات د اعتبار قابل او وړ دی. د «ابن اسحاق رح» په نسبت اګر که «امام مالک رح» او ځینو نورو محدثینو جرح کړی ده، خو سره له هغه د ده رتبه داده چه «امام البخاری رح» پخپله رساله «جزء القرأة» کښ د ده په سند روایتونه نقلوی، او هغه صحیح ګڼی په «ابن سعد رح» او «طبری رح» کښ هیڅوک هیڅ نه شی ویلای. لیکن افسوس دی چه د دوی مستندیت د دوی د تصنیفاتو پر مستندیت باندی دومره اثر نه شی غورځولی. دغه کسان پخپله په هغو واقعاتو کښ نه دی شریک شوی، نو ځکه هرڅه چه دوی بیانوی د نورو راویانو په ذریعه ئی بیانوی - لیکن د دوی ډیر راویان ضعیف الروایه او غیر مستند هم دی. بر سیره په دی د «ابن اسحاق» اصلی کتاب په (هندستان) کښ نشته. د «ابن هشام رح» هغه کتاب نن ورځ شته چه د «ابن اسحاق رح» د کتاب د ترتیب او تهذیب څخه وروسته په یوه بل صورت اوښتی دی. لیکن «ابن هشام رح» د «ابن اسحاق رح» کتاب د (زیاد البکائی) پواسطه روایة کړیدی. بکائی اګر که یو ذی مرتبه سړی دی، خو سره له هغه د محدثینو د اعلی معیار څخه را ښکته دی د «امام البخاری رح» استاذ «ابن مدینی رح» وائی: «دی ضعیف دی. او ما هغه ترک کړی دی.» (ابو حاتم رح) وائی چه «هغه د استناد قابل نه دی». (نسائی) وائی: د (ابن سعد رح) له نیمائی څخه زیاد روایتونه د «واقدی رح» په ذریعه دی نو ځکه د دغو روایاتو رتبه هغه ده چه پخپله د (واقدی رح) د روایاتو دی. د ده نور روایاة ځینی ثقه او ځینی غیر ثقه دی.

د (طبری) د روایت لوی لوی شیوخ مثلاً (سلمة الابرش - ابن سلمة) او نور ضعیف الروایه دی . نو لحکه (د سیرت) ذخیره په مجموعی ډول سره دا حادیثو له کتابو سره نسه شی برابره کیدای . البته د دوی له منځه هر یو چه د تحقیق او تنقید په معیار برابر راشی ، هغه حجت او داستناد قابل دی .

د حدیث او د سیرة د کتابو نو په منځکښې د مراتبو فرق

د (سیرت) د کتابو دغه عدم تحقیق او د سطحی خبری لویه وجه دا ده چه د تحقیق او تنقید ضرورت یوالحسی له هغو احادیثو سره مخصوص کړی شوی دی چه پر شرعی احکامو پوری موبوط دی . یعنی هغه روایات ډیر زیاد تنقید ته اړ او احتیاج لری چه تری شرعی احکام ثابتیږی . باقی په نورو روایاتو کښې چه له (سیرت) او فضائل او نورو سره متعلق دی، دومره د تشدد او احتیاط ضرورت نشته . (عراقی حافظ زین الدین) چه یو لوی محدث دی د (منظوم سیرت) په مقدمه کښې داسی لیکی :

﴿ و لیعلم الطالب ان السیرا ﴾ ښائی چه طالب و پوهیږی چه په سیرت کښې

﴿ تجمع ماصح وماقد انکرا ﴾ هر ډول خبری وی ، صحیحی هم او غلطی هم

له همدی سببه په مناقبو او داعمالو په فضائلو کښې په کثرت سره ضعیف روایات هم شائع شول ، او ډیر لوی لوی عالمان هم پخپلو کتابو کښې د داسی روایاتو در جول جائز کښل .

علامه (ابن تمیه) په کتاب التوسل (۱) داسی لیکی :

« قد رواه من صنف فی عمل یوم ولیلة کابن السنی و ابی نعیم و فی مثل هذه الکتب احادیث کثیرة موضوعة لایجوز الاعتماد علیها فی الشریعة باتفاق العلماء »

« په تحقیق دا حدیث هغو خلقو روایت کړی دی چه په اعمال دورځی اودشپی کښې کتابونه تصنیف کړی دی لکه ابن السنی او ابی نعیم او پدغسی کتابو کښې ډیر له خپله ځانه جوړ کړی احادیث شته چه پر هغو اعتماد جائز نه دی د ګرد و علماؤ په اتفاق »

(حاکم) یو حدیث په (مستدرك) کښې روایت کړی دی : « څه وقت چه له (آدم) ع څخه خطا خر کنده شوه ، نو ده وویل ، « ای الله (د محمد ص) په خاطر لحما دغه خطا وبخه ! » الله تعالی و فرمایل چه : «ستامعرفت (له محمد ص) سره څرنګه پیدا شوی دی ؟ »

« حضرت (آدم ع) وویل: «څه مهال چه سرمی پورته کړ او د معلی عرش پر پایو می نظر وغور ځاوه نو هلته می دغه لیکلی الفاظ ولوستل : « لااله الاالله محمدرسول الله » نو لدغه څخه می داسی قیاس وکړ چه دغه مبارك نوم چه ستا له پاك نامه سره یو ځای ښکلی شوی دی ، هغه به هرو مرو تاته له ټولو خلا ئقو څخه محبوب وی . » الله تعالی و فرمایل : « ای (آدم) تا رښتیا وویل . که (محمد) نه وای نو ته به می له سره نه وای پیدا کړی . »

ددغه حدیث د نقل کولو څخه وروسته (حاکم) لیکی چه «دغه حدیث صحیح دی » . علامه (تمیه) د (حاکم) ددغه قول د نقلو لو څخه وروسته داسی لیکی :

---

(۱) : د مصر د مطبع المنار د مطبوعی په ۹۹ مخ کښې

« واما تصحيح الحاكم لمثل هذا الحديث و امثاله فهذا مما انكر عليه ائمة العلم بالحديث و قالوا ان الحاكم يصحح الاحاديث وهي موضوعة مكذوبة عند اهل المعرفة بالحديث ..... و كذلك احاديث كثيرة في مستدركه يصححها وهي عند آئمة اهل العلم بالحديث موضوعة »

«هرڅه (د حاكم) صحيح ويل په شان د داسې احاديثو ، پس دا د هغو شيانو څخه دی چه ترې د علم الحديث امامان انكار كوي ، او دغه له خپله ځانه جوړ كړي او دروغ دي په نزد ديوهانو د حديث ..... او ددې په شان نور ډېر احاديث د (حاكم) په (مستدرك) كښې شته چه حاكم ئې صحيح بولي ، خو د حديث د علماؤ په نزد موضوع دي (۱)»

علامه (ابن تيميه) په يوه بله موقع كښې د (ابو الشيخ الاصفهاني) د كتاب په تذكره (۲) كښې ليكي :

« وفيها احاديث كثيرة قوية صحيحة وحسنة و احاديث كثيرة ضعيفة موضوعة واهية و كذلك مايرويه خيثمة بن سليمان في فضائل الصحابة و مايرويه ابونعيم الاصفهاني في فضائل الخلفاء في كتاب مفرد وفي اول حلية الاولياء و مايرويه ابو بكر الخطيب و ابو الفضل بن ناصر و ابو موسى المدني و ابو القاسم بن عساكر و الحافظ عبد الغني و امثالهم ممن له معرفة بالحديث »

«او پدغه كښې ډېر احاديث قوي - صحيح او حسن دي او ډېر احاديث ضعيف - موضوع او مهمل دي او همداسې هغه احاديث چه خثيمه بن سليمان د صحابه ؤ په فضائل كښې روايت كوي ، او هغه احاديث چه (اصفهاني ابونعيم) د (فضائل الخلفاء) په مستقل كتاب كښې روايت كړي دي ، او همداسې هغه روايات چه خطيب ابوبكر او ابو الفضل او مدني ابوموسى او ابن عساكر او حافظ عبد الغني او نور د دوې په شان خلق روايت كوي . »

غور وكړئ چه (ابونعيم - بغدادي خطيب - ابن عساكر - حافظ عبد الغني - او نور) د حديث او روايت ائمه وو ، خو سره له هغه دغه ذوات د خلفاؤ او صحابه ؤ په فضائلو كښې ضعيف احاديث بې تكلفه روايت كول . ددې وجه داوه چه دغه خيال په عمومي ډول سره منتشر شوی ؤ چه يوالحې د حلالو او حراموپه احاديثو كښې د احتياط او تشدد ضرورت شته - او ماسواء له هغه په نورو رواياتو كښې د سند د سلسلې نقلول كافي دي : او د تنقيد او تحقيق ضرورت نشته .

همونږد (هروی ملا علي قاري رح) د موضوعاتو [په ۱۳ مخ چهاپ دډېلي] كښې ليكلي دي چه ، په (بغداد) كښې يوه واعظ دغه حديث بيان كړ : « په قيامت كښې به الله تعالى محمد رسول الله ص له خپله ځانه سره پر معلى عرش كينوي » كله چه (امام ابن جرير طبري) دا واورېد نو ډېر په غصه او قهر شو ، او پر خپله دروازه ئې دغه جمله و ښكله « الله تعالى هېڅ يو همنشين نه لري » پر دغه خبره باندې بغدادي عوام الناس سخت مشتعل او په قهر شول ، او د (طبري) كور ئې دومره پر كانو وويشت چه ديوالونه ئې په كانو كښې خښ شول . »

---

(۱) : دمصرد مطبع المنار دمطبوعي ۱۰۱ مخ . د حاكم ترجمه په تذكرة الحفاظ د ذهبي كښې

(۲) : په (۱۰۵) او (۱۰۶) مخ

پدغه موقع کښې یوه خاصه نکته د ملاحظې وړ ده . دا مسلمه ده چه د حدیث او روایت په فن کښې د(امام البخاری) او (امام المسلم) څخه بل هیڅوك کامل الفن اوماهر نه دی پیداشوی . له رسول الله صلی الله وسلم سره هغه عقیدت - خلوص - مینه اومحبت چه دوی دراود . دهغه په ملاحظه هم دوی پر ټولو محدثینو امتیاز در لود . خو سره له هغه د فضائلو او مناقبو پمتعلق هغه قسم ډك له مبالغی روایات چه په (بیهقی - ابو نعیم - بزاز - طبرانی) او نورو کښې موندلی کیږی په (بخاری - مسلم) کښې دهغوهیڅ نښه اواثر نشته ، بلکه هغه اقسام احادیث چه په (نسائی - ابن ماجه - ترمذی) اونورو کښې کتلی کیږی ؛ په صحیحینو کښې هغه هم نشته . لدینه داخبره ثابتیږی په هره اندازه چه د تحقیق او تنقید درجه زیاتیږی ، په همغه اندازه ډك له مبالغی روایات هم تقلیل مومی . مثلاً دغه روایت څه مهال چه رسول الاکرم صلی الله علیه وسلم متولد شو د (کسری) د مانۍ ١٤ کنګوری ونړیدی . د (پارس) د آتشخانی اور مړ شو . د (طبری) بحیره وچه شوه په (بیهقی - ابو نعیم - خرابطی - ابن عساکر او ابن جریر) کښې شته ، لیکن (په صحیح البخاری) او(صحیح المسلم) بلکه د (صحاح السته) په هیڅ یو کتاب کښې هم نه دی راغلی . هغه کتابونه چه (په سیرت) کښې لیکلی شوی دی ، علی الاکثر له همداسی کتابو (طبرانی بیهقی - ابونعیم او نورو) څخه ماخوذ دی - نو ځکه په هغو کښې ډیر کمزوره روایات درج کړی شوی دی - او د همدی لامله محدثین پداسی ویناؤ مجبور شول چه « په (سیرو) کښې هرقسم روایات شته . »

کوم اصول چه محدثینو مقرر کړی دی د (سیرت) په روایاتو کښې خلقو له هغو څخه ستر ګی واړولی - د محدثینو له ګردو څخه ړومبنی اصل همدغه دی چه د روایت سلسله د واقعی تر اصله پوری هیڅیری منقطع نه شی ، لیکن درسول الکریم علیه افضل الصلواة والتسلیم د ولادت د حالاتو په متعلق هومره روایات چه مذکور دی اکثر منقطع دی . په اصحاب الکرام کښې هیڅ یو ذات داسی نه لیده کیږی چه د رسول الله ص د ولادت په وقت کښې دهغه عمر د روایت کولووړ اوقابل وی . په ټولو اصحابو رض کښې (حضرت ابوبکر الصدیق رض) مشر ښکاری حال دا چه (صدیق اکبر) هم له (محمد رسول الله ص) څخه دوه کاله کشر ؤ لهذا د میلاد په نسبت هومره روایات چه دی ، له هغو ځنی اکثر متصل نه دی . نو ځکه ډیر له کاره وتلی روایات ئی شایع شوی دی . مثلاً (ابو نعیم) [په (٥٠) مخ کښې) د (محمد رسول الله ص) د ماجدی والدی له ژبی نه روایت کړی دی : «څه مهال چه محمد ص پیدا شو نو له ډیر و داسی مرغانو څخه عمارت ډك شو چه د دوی منقار له زمردو او وزرو نه ئی د یاقوتو وو . بیا یوه تکه سپینه وریځ راغله او محمد ص ئی له خپله ځانه سره پورته کړ او داسی غږ وکړشو چه بر دغه هلك دی د مشرق او مغرب او د ګردو سیندو سیل او تماشا وکړه شی څو ئی ټول خلق وپیژنی (١) »

د مغاز یو ډیره لویه برخه له (امام الزهری) څخه منقوله ده . لیکن دده اکثر هغه روایات چه د (ابن هشام) اود (ابن سعد) په طبقاتو او نورو کښې مذکور دی منقطع دی ، یعنی د پاسنیو راویانو اسامی پکښې نه دی مذکور .

---

(١) دغه روایت په «مواهب اللدنیه » کښې نقل کړی شوی دی چه له هغوبی انتهاؤ ډك له مبالغی خبرو څخه مونږ د هغه یوه معمولی برخه دلته نقل کړی ده .

د سیرة په تصانیفو کښې له کتب الحدیث څخه بې اعتنائی

دوهم : نهایت تعجب راوړو نسکی خبره داده هغو نومیالیو او لویو لویو مصنفینو مثلاً (امام طبری) او نور د (سیرت) پر موضوع هر څه چه ښکلی دی ، په هغه کښې په اکثرو ځایو کښې د مستندو احادیثو له کتابو څخه کار نه دی اخیستی .

ځینی واقعات نهایت اهم دی . د هغه په متعلق د حدیث په کتابو کښې داسی مفید معلومات موجود دی چه له هغو څخه ټول مشکلات حل کیږی . لیکن په (سیرت)او تاریخ کښې د دغو معلوماتو هیڅ ذکر نشته . مثلاً دغه خبره څه مهال چه رسول الله ص منوری مدینی ته تشریف یو وړ ، نو د جنګ او جګړی سلسله او د واعی دومبی د کوم طرف له خوا ور وړاندی شو ؟ دغه یو بحث طلبه واقعه ده . د ګردو ارباب السیر اومورخینو له تصریحاتو څخه داثابتیږی چه ابتداء پخپله رسول الله ص په جنګ لاس پوری کړ . لیکن دابی (داؤد) په سنن کښې صاف او صریح حدیث موجود دی چه د « بدر » دغزوی څخه پخوانی دمکی کفار (عبدالله بن ابی » ته داسی یو خط لیکلی وو :

« تاچه محمد ص ته پخپل ښار کښې پناه ور کړی ده ، هغه له خپله ښاره وشړه ! که نه مو نیز به پر مدینی هجوم در وړو ، او ستا اود محمد ص ددواړو به استیصال وکړو (۱) »

د سیرت او تاریخ په کتابو کښې د دغه واقعه بیخی نه ده منقوله شوی .

د سیرت له مصنفینو څخه ځینی کسان یدغه نکته پوهیدلی دی ، او کله چه ئی په احادیثو کښې زیاد تدقیق او تعمق کړی دی ، نو بالاخره ددې خبرې منلو او تسلیم ته مجبور شوی دی چه د سیرت په کتابو کښې دپر روایات د صحیحه ؤ احادیثو پرخلاف درج کړی شوی دی . کله چه ددوی دغو تصنیفاتو انتشار موندلی وو ، نو ځکه دهغو اصلاح غیر ممکن شوه . (حافظ ابن حجر) په یوه موقع کښې د (د میاطی) یو قول نقلوی او ور پسی داسی لیکی :

« ودل هذا علی انه کان یعتقد الرجوع عن کثیر مما وافق فیه اهل السیر وخالف الاحادیث الصحیحة و ان ذلك کان منه قبل تضلعه منها ولخروج نسخ کتابه و انتشاره لم یتمکن من تغیره »

[د زرقانی ۳ جلد ۱۱ مخ]

« لدینه دغه خبره معلومه شوه چه (دمیاطی)قصد کړی ؤ چه په هغو مواقعو کښې چه دی له ارباب السیر سره متفق شوی ؤ ـ او له صحیحه ؤ احادیثو څخه ئی مخالفت کړی ؤ له هغو څخه رجوع وکړی ـ اوداچه دغه کار لدینه پخوا له هغه چه پدغه فن کښې ئی مهارت حاصل کړی صادر شوی ؤ خو کله چه د کتاب نسخی شایع شوی وی نو ځکه ده دخپل کتاب اصلاح نشوای کړای »

د سیرة د مصنفینو تدلیس

دریم : هغه کتابو نه چه پخوانیو په سیرت کښې لیکلی دی ، او له هغو څخه ورو ستنیو خلقو څه روایات چه نقل کړی دی هغه ئی دهغو پخوانیو په نامه سره موسوم کړی دی ، او د هغوی د مستند والی په بناء خلقو هغه کرد روایات معتبر و ګڼل . څرنګه چه اصلی کتابونه د هیچا په لاس نه راتلل . نو ځکه خلق د اصلی راویانو په پته او سراغ لګو لوموفق نه شول ـ

(۱) د « بدر » د غزوی په موقع کښې به مونږ ددغه حدیث اصلی الفاظ هم نقلوو .

اومتدرجاً دغه روایات په کردو کتابو کښې داخل شول . او ددغه تدلیس نتیجه داسی شوه چه مثلاً هغه روایتونه چه د (واقدی) په کتاب کښې مذکور دی او خلق ئی غلط کښې . لیکن څه مهال چه همغه روایات د(ابن سعد) په نامه نقلول کیږی ، نوخلق ئی معتبر کښې. حال داچه د(ابن سعد) اصلی کتاب که په لاس راشی نو هلته به څر کښند یږی چه د (ابن سعد) اکثره روایتونه له همدغه (واقدی) څخه اخیستی شوی دی .

له اصول الروایة څخه په هر ځای کښې کار نه دی اخیستی شوی

څلورم : د روایت په متعلق کوم اصول چه منضبط شوی دی ، د صحابه ؤ په متعلق له هغو څخه په ځینو ځینو مواقعو کښې کار نه دی اخیستی شوی. مثلاً داصول الروایت له مخی دراویانو مختلف مدارج دی. ځینی راویان نهایت ضابط ـ نهایت معنی فهم نهایت مدقق وی په ځینو کښې دغه اوصاف لږ وی. او په ځینو کښې دغه لاکم وی. دغه دمراتبو فرق همغسی چه عموماً اوفطرتاً په تولو راویانو کښې موندلی کیږی، صحابه هم لدینه مستثنی نه دی. حضرت صدیقه بی بی (عایشه رض) د حضرت (عبدالله بن عمررض) او د حضرت (ابوهریره رض) پر روایت . او حضرت (عبدالله بن عباس رض) د حضرت ابو هریره رض پر روایت کوم تنقیدات چه کړی دی، اود هغه ذکر یا س تیرشو ، په همغه بنائی کړی وو .

د اختلاف المراتب پر اساس د لویو لویو معرکة الارأو مسائلو بنیاد قائم دی . مثلا که په دوو روایتو کښې څه تعارض واقع شی ، نو ددغه بحث په فیصله کښې صحیحه طریقه همدا خیال کاوه شی ، چه د یوه روایت دراویانو عالی رتبه والی دنورو راویانو څخه ثابت کړای شی (اگرکه دواړه راویان ثقه وی) او دغه به د هغه روایت د ترجیح قطعی فیصله وی . لیکن دغه اصول د لویو اصحابو پمقابل کښې بی اثره او بیکاره کیږی ـ فرض ئی کړی، که یو روایت یو اخی له حضرت (عمر رض) څخه مروی وی ـ او بل روایت د یوه داسی بدوی عرب څخه مروی وی ، چه پخپل قول عمر کښې ئی یو ځلی فقط اتفاقاً درسول الله صلی الله علیه وسلم سره لیدلی وی ، نو اوس ددواړو روایتو رتبه سره برابر یږی . علامه (نووی) د (صحیح مسلم) په شرح کښې اکثر له علامه (مازری) څخه چه یو مشهور محدث دی استناد کوی . ده له دغه تعمیم څخه مخالفت کړی ؤ لکه چه (حافظ ابن حجر) د (اصابه) په دیباچه (په ۱۰ ؤ ۱۱ مخ) کښې دده دغه قول نقل کړی دی ؛

«لسنانعنی بقولنا الصحابةعدول کل من راه صلی الله علیه وسلم ومن راه لماماً او اجتمع به لغرض او انصرف عن کتب وانما نعنی به الذین لازموه و عزروه و نصروه واتبعوا النور الذی انزل معه اولئك هم المفلحون .»

«مونږ له خپلی دغی وینا څخه چه کرد اصحاب عادلان دی داسی مراد نه نیسو چه هر هغه سړی چه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ملاقی ، یائی اتفاقاً لږ څه موده لیدلی وی یائی له رسول الله ص سره د کوم غرض په مقصد ملاقات کړی وی او بیا فوراً بیرته تللی وی ، بلکه مونږ هغه ذوات ترې مراد وو چه درسول الله ص په خدمت کښې بالالتزام اوسیدلی وی اوددوی امداد اواعانت ئی کړی وی اود هغه رڼا متابعت ئی کړی وی چه پرهغه نازله شوې ده او همدغه کسان بریالیان دی .»

لیکن محدثینو د (مازری) دد غه قول سره عموماً مخالفت کړی دی، بلا شبهه علامه (مازری) داسی یوه غلطی کړی ده چه د عدالت وصف ئی مطلقا د صحابه ؤ مقربینو ته مخصوص کړی دی، نو پدغه بنا د محدثینو مخالفت لده سره بیځایه نه دی، لیکن پدغه خبره کښې هیڅ د شك اودشبهی لحای نشته چه د حضرات (ابو بکر - عمر - عثمان اوعلی رضوان الله تعالی علیهم اجمعین) روایتونه دیوه عامی بدوی له روایته سره نشي برابریدای خصوصاً د هغو روایاتو په متعلق د دغه فرق ملاحظه ضرور ښائی چه وکړای شی چه په فقهیه ؤ مسائلو یادقیقه ؤ مطالبو سره تعلق لری.

﴿ په واقعاتو کښې د علت او معلول سلسله نه ده قائمه کړی شوی ﴾

﴿ پنځم ﴾ : ارباب السیر دا کثرو واقعاتو له اسبابو او عللو څخه څه بحث نه کوی او نه د هغه د لټولو او تحقیق په طرف متوجه کیږی. اگر که په دی کښې هیڅ شبهه نشته چه پدغه باب کښې د (یورپ) طریقه نهایت غیر معتدله ده یورپین مؤرخ د هر ی واقعی علت لټوی. اوله نهایت لرې او اوزدو قیاساتو او احتمالاتو څخه دمعلولاتو سلسله پیدا کوی - او پدغه کښې د ده زیاده خود غرضی اود نظر خاص مطمح مداخله لری. ارو پائی دخیل مقصد لپاره یو محور جوړ وی، نور گرد واقعات دهمغه په شاؤ خوا کښې چور لوی په خلاف د هغه اسلامی مؤرخ په نهایت صداقت اوانصاف او دخالصې بیطرفی له مخی گرد واقعات لټوی، او دی پخپله له هغه سره کوم شخصی غرض نه لری چه د دغو واقعاتو اثر به دده پر مذهب او معتقدات او تاریخ څرنگه لوېږی. دده دمقصد قبله تش واقعیت وی، دی پر هغه خپل معتقدات او قومیت هم جار وی. لیکن پدغه کښې له حده تېر تفریط شوی دی، ددی خبری دنجات لپاره چه واقعات له آرا ؤ سره مخلوط نشی، دی په خو را نژدې نژدې ظاهری اسباب باندی هم نظر نه غور ځوی، اوهره واقعه همغسی وچه کلکه او نا تمامه پرېږدی. مثلا اکثر جنگو نه داسی شروع کوی چه رسول الله ص پر فلانی قبیلی په فلانی وقت کښې فوج ولېږه، لیکن د هغو د اسبابو ذکر له سره نه کوی، چه له هغه ځنی پر عامو ناظرینو داسی یواثر لوېږی چه پر کفارو حمله ور وړل، او د دوی دتباهی او پوینا کولو لپاره بل کوم سبب او علت ته ضرورت نشته، او یوالحی همدغه عمومی وجه کافی ده چه هغوی کفار دی. نو لدېنه مخا لفین داسی استدلال کوی چه اسلام یوا لحی د توری په زور خپور شوی دی. حال دا چه له زیاد تدقیق او تعمق څخه ثابتیږی چه پرهغو قبائلو چه اسلامی لښکر یرغل ورووړی دی، دوی لاله پخوا څخه دغه جنگ ته تیار ولاړ وو. او پدغه توتیه او تیاری کښې بوخت او لګیا ؤ چه پر مسلمانانو هجوم ورووړی.

﴿ د واقعی د نوعیت په لحاظ د شهادة معیار نه دی در ولی شوی ﴾

﴿ شپږم ﴾ : دغه لحاظ ساتل ضروری دی چه د کومی واقعی د نوعیت دبدلولو څخه دشهادت او د روایت حیثیت نر کوم لحای پوری بدلیږی - مثلا یو راوی چه ثقه وی یوه داسی معمولی واقعه بیانوی چه هغه عموما وړاندی کیږی - او وړاندی کیدای شی. نو دغه روایت بی تکلفه تسلیم کاوه شی - لیکن فرض ئی کړی، که هغه راوی داسی یوه واقعه بیانوی چه فوق العاده، او د عمومی تجربی پخلاف ده، دشاؤ خوا له واقعاتو سره څه مناسبت نه لری، کله چه دغسی واقعه زیاد

ثبوت ته احتياج لري ، نو ځکه اوس د راوي د « تثقه » معمولي درجه نشي کافي کېداي ، بلکه ښائي چه دي د معمولي درجي څخه زياد عادل - زياد محتاط - زياد نکته پوهېدونکي وي .

مثلا يو بحث دادي چه د روايت کولو لپاره د کوم عمر قيد هم شته که نه ؟ د اکثرو محدثينو مذهب دادي چه يو پنځه کلن هلك د حديث روايت کولي شي . يا که مثلا کوم صحابي د پنځو کلو په عمر کښ د رسول الله صلى الله عليه وسلم د کوم قول يا فعل څخه روايت وکړي ، نو دغه روايت به قابل الاعتبار وي . پر دغه د محدثينو استدلال دي چه (محمود بن الربيع الصحابي) د رسول الله ص د وفات په وقت کښ يو پنځه کلن وړ کي ؤ رسول الله ص يو ځلي د محبت د اظهار په ډول پري د خپلي مضمضي او به وغور ځولي ، ده د دغي واقعي بيان پخپل ځلميتوب کښ نورو خلقوته وکړ - چه ټولو دغه روايت تري قبول کړ . لدينه ثابته شوه چه د پنځو کلو د عمر روايت قبولېداي شي (۱)

پر خلاف د دي د ځينو محدثينو رأيه داده چه د وړو کي روايت د حجت قابل نه دي . . (فتح المغيث) په ۱٦٤ مخ کښ راغلي دي :

« و لكن قد منع قوم القبول هنا اي في مسئلة الصبي خاصة فلم يقبلوا من تحمل قبل البلوغ لان الصبي مظنة عدم الضبط وهو وجه للشافعية . . . . و كذلك كان ابن المبارك يتوقف في حديث الصبي »

ليکن يو جماعت دلته د روايت له قبو له منع کوي خصوصا د وړ کيو د روايت په مسئله کښ له بلوغه پخوا کوم روايت چه کوم وړ کي اوريدلي وي هغه دي نه قبلوي . د شوافعو همدغه رأيه ده . همداسي عبدالله بن مبارك هم د وړ کي د روايت په قبلولو کښ توقف کوي .

ليکن اثبات او نفي دواړه خوا وي د بحث وړ دي . بلاشبهه د پنځو کلو وړ کي که داسي کومه واقعه بيان کړي چه « فلاني سړي مي لېدلي ؤ - دده پر سر تور ويښتان وو - ياسپين ږيري ؤ يا ځه ئي پخپل غېږ کښ واخېستلم - يا پرمائي هغه شي وخورول » نو پداسي رواياتو کښ هېڅ د شك او شبهي ځاي نشته . ليکن فرض ئي کړي . که همدغه وړ کي داسي بيان وکوي چه هغه سړي د فقهي دغه دقيقه مسئله راته وښوده ، نو داسي يوه شبهه پيدا کېږي چه آيا دغه وړ کي د فقهي په هغه دقيقه مسئله باندي پوهېدلي هم وه که نه ؟ فقها ؤ همدغه نکته تر نظر لاندي نيولي ده . « فتح المغيث » له « شرح المهذب » څخه داسي نقل کوي [د لکهنو د مطبوعي ۱۲۲ مخ]

« قبول اخبار الصبي المميز فيما طريقه المشاهدة بخلاف ما طريقه النقل كالافتاء و رواية الاخبار و نحوه »

د با تميزه وړ کي روايت د هغو واقعاتو په متعلق مقبول دي چه په لېدلو پوري اړه لري ، ليکن هغه خبري چه په نقلياتو کښ داخلي دي لکه فتوي يا د حديثو روايت په هغو کښ د دوي روايت مقبول نه دي .

ليکن په عمومي ډول سره دغه اصول نه دي تسليم کړي شوي .

د « فتح المغيث » په [۱۲۱ مخ] کښ داسي مسطور دي :

ثم الضبط نوعان ظاهر وباطن . فالظاهر ضبط معناه من حيث اللغة . و الباطن

بيا ضبط (۲) په دوو قسمو دي . ظاهري او باطني . د ظاهري معني داده چه د لفظ د لغوي معني لحاظ وکړي شي . د باطني

---

(۱) : [په فتح المغيث کښ دي له ۱٦٦ مخ څخه تر ۱٦۸ مخ پوري دغه پوره بحث و لوست شي]

(۲) « ضبط » د محدثينو په اصطلاح هغه روايت ته وايه شي چه په الفاظو او مطالبو ئي راوي په ښه شاني پوهېږي او په ښه ډول ئي اداء کوي .

ضبط معناه من حیث تعلق الحکم الشرعی به وهو الفقه و مطلق الضبط الذی هو شرط فی الراوی هو الضبط ظاهراً عند الاکثر لانه یجوز نقل الخبر بالمعنی فیلحقه تهمة تبدیل المعنی فی روایته قبل الحفظ او قبل العلم حین سمع و لهذا المعنی قلت الروایة عن اکثر الصحابة لتعذر هذا المعنی قال وهذا الشرط وان کان علی ما بینا فان اصحاب الحدیث قل ما یعتبرونه فی حق الطفل دون العقل فانه متی صح عند هم سماع الطفل او حضوره اجازوا روایته

معنی داچه دهغه شرعی حکم چه ورسره متعلق دی لحاظ و کړی شی چه همغه ته فقه وائی. لیکن هغه چه مطلقا دراوی د ضبط لپاره مشروط دی د اکثرو په نزد هغه یوالحی ظاهری ضبط دی. لحکه دهغو خلقو په نزد بالمعنی روایت جائز دی - نو پر دغه بنا د آوریدلو په وقت کښی د حفظ د قلت یا د علم د قلت له سببه د روایت په اداء کښی پر راوی د مفهوم د بدلولو شبهه کیدای شی. او همدغه وجه ده چه اکثرو صحابه ؤ لنډ احادیث روایت کړی دی. لحکه چه بعینه د مفهوم قائم ساتل په روایت کښی مشکل دی. لیکن محدثین دوو ډکیو په حق کښی (د بیعقلو په حق کښی) دغی خبری ته اعتبار نه ور کوی. بلکه د دوی په نزد کله چه وړ کی د اوریدلو او د مجلس د شریکیدلو وړ اولائق وی، نو دهغه روایت هم جائز کښی.

یو خو دغه بحث دی هغه اصحاب رض چه فقهیان نه وو، که دهغوی روایت د شرعی قیاس په خلاف وی، نو هغه به واجب العمل وی ؟ که نه وی ؟

د دی په متعلق « بحر العلوم » د « امام فخر الاسلام » مذهب داسی نقلوی :

« ووجه قول الامام فخر الاسلام ان النقل بالمعنی شائع وقلما یوجد النقل باللفظ - فان حادثة واحدة قد رویت بعبارات مختلفة ثم ان تلك العبارات لیست مترادفة بل قد روی ذلك المعنی بعبارات مجازیة فاذا کان الراوی غیر فقیه احتمل الخطاء فی فهم المعنی المرادی الشرعی . . . ولا یلزم منه نسبة الکذب متعمداً الی الصحابی معاذ الله عن ذلك »(۱)

د (امام فخر الاسلام) د قول وجه داده چه روایت بالمعنی په عام ډول سره شایع دی. یوه واقعه په مختلفو الفاظو کښی اداء کړی شوی ده. او دغه الفاظ یوله بله سره مرادف هم نه دی. بلکه علی الاکثر په مجازیو عباراتو سره مطالب اداء کړی شوی دی. بنا په دی کله چه راوی فقیه نه وی، نو احتمال شته چه هغه به د شرعی مقصود د مطلب په پوهیدلو کښی غلطی کړی وی.

لدغه څخه معاذالله دغه خبره نه لازمیږی چه د صحابی په طرف د دروغو نسبت وکړی شی.

محدثین له دغه اصوله (چه واقعه په هره اندازه چه اهمه وی، بنائی چه شهادت ئی هم په همغه درجه اهم وی) بی خبره نه وو. (امام بیهقی) په (کتاب المدخل) کښی د (ابن مهدی) قول داسی نقلوی :

«واذا روینا عن النبی ص فی الحلال والحرام والاحکام شددنا فی الاسانید وانتقدنا فی الرجال واذا روینا فی الفضائل والثواب و العقاب سهلنا فی الاسانید و تسامحنا فی الرجال» (۲)

کله چه مونږ د رسول الله ص څخه د حلالو او حرامو د احکامو په متعلق حدیث روایت کوو، نو په سند کښی ډیر تشدد اود راویانو ښه پلټنه او تنقید کوو - لیکن څه مهال چه د فضائلو او ثوابو او عقابو احادیث راځی، نو مونږ په اسنادو کښی مساهله - اود راویانو په متعلق اغماض کوو.

(۱) شرح المسلم د لکهنو مطبوعه ۴۳۲ مخ

(۲) د فتح المغیث ۱۲۰ مخ

د (امام احمد حنبل) قول دی :

« ابن اسحاق رجل تکتب عنه هذه الاحادیث یعنی المغازی ونحوها واذا جاء الحلال والحرام اردنا قوما هکذا وقبض اصابع یدیه الاربع »
[د فتح المغیث ۱۲۰ مخ]

ابن اسحاق د دی درجی یو سړی دی چه د مغازیو او سیرو او د نورو احادیثو روایت ترې کیدای شی لیکن هر کله چه د حلالو او د حرامو د مسائلو وار راشی ، نو مونږ ته داسې سړی یکار دی پدغه وینا سره خپلې څلور واړه ګوتې ئې د موټې په شان وتړلې

لدینه ثابت شو چه محدثین دواقعی داهمیت په بناء دراوی د درجی لحاظ کوی ، نو ځکه د(ابن اسحاق) په نسبت (امام ابن حنبل) دغه تفریق وکړ - چه « په حلالو او حرامو کښې د ده شهادت ندی معتبر - لیکن په مغازیو کښې اعتبار لری . » دا همغه اصول دی چه په هره درجه چه واقعه وی ، ښائی چه شهادت هم په همغه درجه وی . او دغه چه د واقعی د بدلیدلو څخه دشهادت اهمیت هم بدلیږی . لیکن د واقعی اهمیت دفقهیه ؤ احکامو سره نه دی مخصوص حنیفیه ؤ فقهاؤ د واقعی د نوعیت داهمیت خیال ملحوظ کړیدی اوځمونږ دمذهب بناء هم په همدی ده هرهغه روایت چه خلاف القیاس وی ، دهغه په نسبت ښائی دغه ولیدلی شی چه راوی ئې فقیه او مجتهد هم دی ، که نه دی ؟ په منار کښې راغلی دی :

« و الراوی ان عرف بالفقه و التقدم فی الاجتهاد کالخلفاء الراشدین و العبادلة کان حدیثه حجة یترك به القیاس خلافا لمالك وان عرف بالعدالت والضبط دون الفقه کانس و ابی هریرة ان وافق حدیثه القیاس عمل به و ان خالفه لم یترك الا بالضرورة »
[د نورالانوار ۱۷٦ و ۱۷۷ مخ]

که راوی په تفقه او اجتهاد کښې مشهور وی لکه راشده خلفاء رض یا عبادله رض نو دده حدیث به حجت وی ، او دهغه په مقابله کښې قیاس پریښود کیږی (په خلاف د امام مالك) او که راوی ثقه او عادل وی خو فقیه نه وی لکه حضرت انس رض او حضرت ابی هریره رض نو که روایت ئې له قیاس سره سم وی پری عمل کیږی که نه قیاس بې له ضرورته نه ترك کیږی .

د حضرت ابو هریره رض مثال اګر که د بحث قابل دی ، لکه چه د اکثرو علماؤ په نزد حضرت ابو هریره رض فقیه اومجتهد ؤ - لیکن دغه جزوی بحث دی . او خبره په اصل مسئله کښې ده .

﴿ په روایاتو کښې « قیاس » څومره برخه لری ؟ ﴾

﴿ اوم ﴾ : له کردو څخه اهمه اودېر دبحث وړ دغه خبره ده چه راوی هغه واقعه چه بیانوی ، په هغې کښې څومره حصه اصلی واقعه ده ؟ او څومره ئې د راوی قیاس دی ؟ له تفحص او استقراء څخه په ځینو ځایو کښې دغه په نظر راځی چه هغه شی چه داوی ئې د واقعی په حیثیت بیانوی ، هغه دده قیاس وی . اوواقعه نه وی - د هغه ډېر مثالونه په (سیرت) کښې موجود دی دلته مونږ یوالمی په یوه یادوو واقعو اکتفاء کوو : څه مهال چه رسول الله ص له خپلو مطهراتو ازواجو څخه خپه ، او له دوی څخه بیل او ګوښې کیناست نو دغې خبرې شهرت وموند چه رسول الله ص خپلو مطهراتو ازواجوته طلاق ورکړی دی . کله چه حضرت (عمر فاروق رض) دغه اخبار واورېد ، نود نبوی مسجد ته راغی . دلته هم خلقو همداسې ویل چه رسول الله ص خپلو مطهراتو از واجو ته طلاق ورکړی دی [صحیح مسلم شریف] . حضرت (عمر رض)

پخپله د رسول الله ص په خدمت کښې حاضر اوپوښتنه ئې تری وکړه - نو رسول الله ص وفرمایل چه « نه ! دوی ته مې طلاق نه دی ورکړی »

دغه حدیث په (بخاری شریف) کښې هم څولحایه دالفاظو په اختلاف سره مذکور دی . د هغه حدیث په شرح کښې چه په (کتاب النکاح) کښې مذکوردی (حافظ ابن حجر) داسې لیکی :

« وان الاخبار التی تشاع و لوکثر نا قلو ها ان لم یکن مرجعها الی امر حسی من مشاهدة او سماع لا تستلزم الصدق فان جزم الا نصاری و کذا جزم الناس الذی زأهم عمر رض عندالمنبر بذلك محمول علی انه شاع بینهم ذلك من شخص بناء علی التوهم الذی توهمه من اعتزال النبی صلی الله علیه وسلم نساؤه فظن لکونه لم تجر عادته بذلك انه طلقهن فا شاع انه طلقهن فشاع ذلك فتحدث الناس به و اخلق بهذ الذی ابتداء باشاعة ذلك ان یکون من المنافقین کما تقدم » [د فتح الباری د صحیح بخاری شرح ٥ جلد ٩٢٥٧ مخ]

هغه اخبار چه شائع کیږی اګر که دهغه راویان ډېر هم وی ، لیکن که ددغو اخبارو اساس حسی امر یعنی مشاهده او استماع نه وی ، نو د هغه رښتینوالی ضروری نه دی لکه چه حضرت عمر رض هغه انصاری رض او هغه اصحاب رض چه منبرته نژدی لیدلی ؤ او د طلاق کوم یقین چه ور حاصل شوی ؤ ، هغه به داسې وی چه کوم سړی به رسول الله ص لیدلی وی چه د مطهراتو ازواجو څخه ئې بیلتون غوره کړی دی - او کله چه د رسول الله ص دا عادت نه ؤ ، نو ځکه هغه به داسې قیاس کړی وی چه ګواکې رسول الله ص هغوی ته طلاق ورکړیدی ، او هغه به دغې خبرته انتشار ورکړی وی اوخلقو به یوله بله دخولې دغه بیان کاوه . اوقیاس دادی هغه ډومبنی سړی چه دغه خبرئې منتشر کړی دی منافق وی. لکه چه دغه خبره پخوا لدینه تېره شوه

غور وکړی ، چه د نبوی په مسجد کښې ټول اصحاب الکرام رض سره ټول دی - او ګرد سره وائی چه رسول الله ص طلاق ورکړیدی . صحابه رض عموماً ثقه او عادل دی او د دوی اوی تعداد ددغې واقعې بیانو ونکی دی . خوسره له هغه څه مهال چه تحقیق کیږی ، نو څرګندیږی ، چه هغه واقعه نه - بلکه قیاس ؤ . (حافظ ابن حجر) ډېر جرئت کړی دی او داسې یو خیال ئې ظاهر کړیدی چه ډومبنی راوی به له منافقینو لحنی وی . د (حضرت صدیقې بی بی عائشې رض) په نسبت ډېری داسې واقعې په روایاتو کښې مذکوری دی - چه له هغو لحنی یوه ئې د « افك » واقعه ده . ددی په نسبت هم ښائی همغسې قیاس وکړشی چه (حافظ ابن حجر) دلته ظاهر کړ - یعنی دا چه منافقینو به ددی په لوری هغه منسوب کړیوی او بیا به په ټولو مسلمانانو کښې خپور شوی وی .

د تاریخ پر فن باندې د خارجی اسبابو اثر

اتم : د تاریخ او روایت پر فن کوم خارجی اسباب چه اثر کوی .

پدغو کښې له ګردو څخه ډېر لوی اثر د حکومت وی - لیکن مسلمانانو ته به تل تر تله ددغه فخرموقع حاصله وی چه د دوی «قلم» له «سیف» څخه ندی متأثرشوی . داحادیثو تدوین د (بنوامیه) په زمانه کښې شوی دی - چه هغوی پوره تر (٩٠) کلو پوری له (سنده) څخه نیولی تر وړوکی ایشیا او اندلس پوری په جامع مساجدو کښې د (آل الفاطمه رض) توهین کاوه - او په جمعو کښې ئې د جوامعو پرمنابرو پر حضرت (علی رض) لعن او طعن لولاوه - په سلګۍ احادیثئې د (امیرمعاویه)

او نورو په فضائلو کښې له خپله ځانه جوړول . د (عباسیانو) په زمانه کښې د یوه یوه خلیفه نومونه د پخوا ویلو په شان په احادیثو کښې داخل شول - لیکن د هغه نتیجه څه شوه ؟ عین په همغه زمانه کښې محدثینو په علانیه ډول سره اعلان و کړ چه دغه ټول د دروغو روایاتدی ، نن د احادیثو فن لهدغو خسو اوخځلو څخه پاك دی . او (بنوامیه) او (عباسیه) چه ظل الله او د رسول الله جانشینان ؤ په همغه ځای کښې ناست پاتې شول چه ښائی همغلته ناست وای ،

یو ځلی یوشاعر د (مامون الرشید) په دربار کښې قصیده ولوسته اوپکښې داسې یوه جمله ئی هم ولوسته : « ای امیر المومنین ! که ته د رسول الله ص د وفات په وقت کښې موجود وای ، نو د خلافت دغه جګړی به له سره نه پیدا کیدی ، او دواړو فریقو به ستا په لاس بیعت کاوه . » په همغه دربار کښې یو سړی ودرېد اودغه شاعر ته ئی وویل چه « ته دروغ وائی د امیر المومنین پلار (حضرت عباس رض چه د عباسیانو اعلی مورث دی) هلته موجود ؤ - خو هیچادهغه پوښتنه ونه کړه . » (مامون الرشید) هم پردغه ګستاخی چه درښتیا جواب پصورت ؤ د هغه قائل ته تحسین ووایه خوسره له هغه دغهعالم نیوونکی مؤثر بیخی بی اثره نشوای پاتې کیدای ، نو ځکه په (مغازیو) کښې د هغه نبی موندلی کیږی . د تاریخ لیکلو قدیمی طریقه دا وه چه د فتوحاتو او حربیه ؤ چارو خبری به ئی په نهایت تفصیل سره لیکلی - د ملکی نظماونسق او د تمدن او معاشرت واقعات خو ئی یا بیخی نه لیکل - یا به ئی داسې تیت پیت اوبی اثره لیکل چه پری له سره سړی لهیوشی څخه نه خبرېده - اوستر ګی ئی خپل لوری ته نه کشولی - کله چه په اسلام کښې د تالیف او تصنیف سلسله شروع شوه ، نو همدغه یوه نمونه د ګردو ترستر ګو لاندی وه - د هغه دومبی نتیجه همدغه شوه : همغسی چه د پاچاهانو تواریخ دجنګنامې او شاهنامې په نامه لیکلی کیږی . پر (سیرة) باندی هم د (مغازی) نوم کېښود شو ، لکه چه د (سیرة) ابتدائی کتابونه مثلاً (سیرة موسی بن عقبه) او (سیرةابن اسحاق) دهمدغې (مغازی) په نامه مشهور دی . او د دغو کتابو ترتیب همغسی دی لکه د سلاطینو تواریخ او د همدغو سلطانی تواریخو په شان عناوین لری او په همغه شانی د کلونو په قید حالاة بیانوی . او زیاتره دغه حالاة د جنګ او د جګړی پر خبرو مشتمل دی . او د همدغو غزواتو په عنوان په بیان او خپله و ینا شروع کوی .

دغه طریقه اګر که دسلطنت او حکومت د تاریخ لپاره هم صحیح نه وه - لیکن د نبوة دسوانح لیکلولپاره خو غیرموزون دی . رسول الله ص ته د مجبوریت اومامورییت له پلوه حربی واقعاة ور وړاندی کیده . او پدغه مخصوص حالت کښې دی ظاهراً دیوه فاتح او لښکری لوی مشر په ډول په نظر راته - مګر دغه وضعیت د نبی الله ص اصلی اوحقیقی صورت ندی . د رسول الله ص د ژوندون یو یو حرف هم د تقدس - نزاهت - حلم - کرم - عفو - عطاء سخاء ایثار او خوا خوږی او زړه سوی له ډېرو مطالبو او معانیوڅخه ډك دی . لکه په عین همغه وقت کښې چه پر (اسکندر اعظم) باندی پلمه او حیله کیده - ژور کتو نکی او مدققین ژر تر ژره دده له وضعیته پوهیده چه سکندر په همغه وقت کښې سکندر نه بلکه یوه پاکه پرښته وه .

همدغه وجه ده چه د (مغازی) سیاق د احادیثو په کتابو کښې د (سیرة) له تصنیفاتو څخه بیخی جلاده . ګرد د سیرة خاوندان لیکی چه رسول الله صلی علیه وسلم کله چه د (بنونضیر) د محاصری

حکم ور کړ، وی فرمایل چه د دغو [متعرضو او عهد ماتو و نکو جهو دانو] د خرما ونی دې پری کړی شی (په قرآن مجید کښې هم د هغه څه اجمالی ذکر شته) ارباب السیر هم لیکی چه جهودانو ددغه حکم په نسبت دغسی اعتراض وکړ چه : « دغه د انصاف او انسانیت څخه خلاف دی » لیکن مؤرخین دغه اعتراض نقلوی ، او د هغه جواب نه ورکوی او همداسی تری تېر ېږی .

قیاس او د رایت

نهم : نهایت مهتم بالشان بحث دغه دی چه کوم روایت د عقل - یا د مسلماة یادنورو صحیحه ؤ قرائنو پخلاف وی - نو آیا دغه به ځکه واجب التسلیم کیدای شی ؟ که یه ؟ چه راویان ئی ثقه وی - او د سندسلسله ئی متصله وی ؟

(لکه چه پاس موو لیکل) اګر که علامه ابن الجوزی لیکلی دی هرهغه حدیث چه خلاف العقل وی دهغه دراویانو جرح اوتعدیل ته هیڅ ضرورت نشته - لیکن پدغه سره داصلی بحث فیصله نه کېږی - ځکه چه دعقل لفظ یو غیر مشخص لفظ دی .

دراویانو حامیان لیکی : « که دغه لفظ ته وسعت ورکړ شی ، نو هرسړی له هغه روایت څخه چه زړه ئی وغواړی ، انکار کولی شی . او داسی به وائی چه دغه روایت ځما په نزد خلاف العقل دی . »

حقیقی خبره همداده ، چه د دغه بحث قطعی فیصله کول مشکل دی .

عمومی خیال دادی : د هر هغه روایت چه راویان ئی ثقه او مستند وی - او دروایت سلسله ئی نه وی منقطع ، نو دغه روایت سره له دې چه خلاف العقل هم وی ، قابل الانکار نه دی . له دغولا ندنیو مثالو څخه دغه اندازه کېدای شی :

(۱) : ځینی محدثینو د « تلك الغرانیق العلی » حدیث ضعیف او غیر قابل اعتبار ویلی وو چه پکښې داسی بیان شته چه شیطان د رسول الله صلی الله علیه و سلم له مبارکې ژبی څخه [استغفرالله] دغه الفاظ ایستلی دی چه پکښې د بتانو تعریف دی .

د دغه د بطلان یو عقلی دلیل دغه هم بیان شوی ؤ .

« لووقع لارتد کثیر ممن اسلم ولم ینقل ذلك ، که دغسی کېدای نو ډېرو مسلمانانو به له اسلامه مخ اړاوه »

حال دادی چه دغسی واقعه هیڅېری نه ده مذکوره .

حافظ ابن حجر رح په « فتح الباری » کښې د دغه قول د نقل کولو څخه و روسته داسی لیکی :

«وجمیع ذلك لایتمشی علی القواعد فان الطرق اذا کثرت وتباینت مخارجها دل ذالك علی ان لها اصلاً »(۱)

دغه ګرد اعتراضات د اصول سره موافق نه دی ځکه هر کله چه دروایت طریقی متعدد وی ، او د هغو مأخذونه هم مختلف وی ، نو دغه د دې خبری دلیل دی ، چه هغه روایت څه نه څه اصل لری .

(۱) : (فتح الباری ج ۸ صفحه ۳۳۳ مصری چاپ)

(۲) (قسطلانی ٥ ص ۲۸۰)

(۲) : په صحیح بخاری شریف کښې راغلی دی چه حضرت ابراهیم علیه السلام دری ځلی په درواغ ویلو مجبور شوی ؤ . ځمونږ امام فخرالدین رازی (رح) له دغه حدیث څخه ځکه انکار کړی دی ، چه « په هغه سره د حضرت ابراهیم (ع) درواغ ویل لازمیږی . نو آسان صورت ئی دغه دی . چه مونږ ددغه حدیث د کوم راوی درواغ ویل و منو . » علامه قسطلانی (رح) د امام رازی (رح) دغه قول نقلوی او و روسته داسی لیکی :

«فلیس بشیء اذ الحدیث ثابت ولیس فیه نسبة محض الکذب الی الخلیل وکیف السبیل الی تخطیة الراوی مع قوله «انی سقیم» و « بل فعله کبیرهم هذا » وعن سارة اختی اذ ظاهر هذه الثلاثة بلاریب غیر مراد»(۱)

د امام رازی دغه قول بیخی هیڅ دی ، ځکه چه دغه حدیث ثابت دی . او په دغه کښې دکذب محض نسبت د حضرت خلیل الله په لوري نه دی . او د راوی تخطیه به څرنګه کیدای شی چه د (حضرت ابراهیم ع) دغه قول موجود دی : « انی سقیم . » او « بل فعله کبیرهم هذا . » او « سارة اختی » ځکه چه په دغو درو واړو جملو کښې ظاهری الفاظ له سره نه دی مراد

دغه شانی دپرمثالونه موندلی کیږی، خومونږ داختصار په لحاظ تش پدغو دو مثالو باندی اکتفاء وکړه .

ددغو په مقابل کښې یوه بله فرقه هم شته چه دعقلی دلائلو اود حالی قرائنو په بنا . د ځینو احادیثو په تسلیمولو کښې تأمل کوی . او دغه طریقه د اصحاب الکرام (رض) پهمهد کښې شروع شوی وه - او د محدثینو تر آخري دوري پوري قائمه پاتی شوه . څرنګه چه دغه رأی د عمومی خیالاتو څخه مخالف دی ، نو ځکه مونږ دهغه متعدد مثالونه نقلوو :

الف : حضرت ابو هریره د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهم څخه حدیث بیان کړی دی چه رسول الله صلی الله علیه و سلم ارشاد فرمایلی دی : « هرشی چه اور ئی مسه کړی د هغه د خوړلو څخه وضوء ماتیږی » (حضرت ابن عباس (رض) و ویل چه پدغه بناء دغه لاز میږی چه دتو دو اوبوله استعمال له هم وضوء وکړو . » حضرت ابو هریره رض و ویل : « ای ځما وراره ! کله چه ته درسول الله صلی الله علیه وسلم کوم حدیث آوری ، نو کیسی مه وایه! » (۲)

ب : د « صحیح مسلم شریف په مقدمه کښې راغلی دی چه یو ځلی د حضرة ابن عباس رض پمخکښې د حضرت علی رض قضایا (یعنی د دعو و فیصلی) وړاندې کړې شوی ، حضرة ابن عباس رض دهغو نقلونه اخیستل - او دځینو ځینو فیصلو نقلونه به ئی پریښودل ، او داسی به ئی ورسره فرمایل « والله ماقضی بهذا علی رض والله که علی رض داسی فیصله کړی وی نو لیاره ئی ور که کړی ده الا ان یکون ضل » (خو څرنګه چه علی رض په سمه لیاره رهی ؤ نو دغه فیصله به ئی هم نه وی کړی.)

د دغه روایة څخه وروسته په صحیح مسلم شریف کښې دغه روایة هم راغلی دی چه حضرة ابن عباس رض ته خلقو یو کتاب راوړ چه په هغه کښې د حضرة علی رض فیصلی لیکلی شوی وی . حضرة عبدالله ابن عباس رض له هغه کتاب څخه د یوه کږ په اندازه پریښود - او نور

---

(۱) : (قسطلانی ج ٥ صفحه ۲۸۰)

(۲) : (ابن ماجه و ترمزی حدیث الوضوء مما مست النار)

کتاب ئی محو کړ (۱) لدینه ظاهرېږی چه حضرة ابن عباس رض یو اځی د هغو فیصلو د مضامینو څخه داسی قیاس کړی ؤ ، چه هغه نشی صحیح کېدای . او په دغې خبری پسی ئی خپل سر ونه ګرځاوه چه دهغه دراویانو تحقیق وکړی یائی سند پسی و ګرځی او وئی ګوری .

ج : د صحیح بخاری شریف (په باب صلوة النوافل) جماعة کښی راغلی دی چه محمود بن الربیع په یوه جلسه کښی دغه حدیث بیان کړ چه (محمد رسول الله ص) فرمایلی دی : « هر هغه سړی چه خالصاً لله تعالی « لااله الا الله » ووائی ، الله تعالی پرې اور حراموی » په دغه جلسه کښی (حضرة ابو ایوب انصاری رض) هم موجود ؤ - چه د دوی په کور کښی محمد رسول الله ص [د هجرة په اولو ورځو کښی] تر اوو میاشتو پوری اقامت فرمایلی وو ، نو (حضرة ابوایوب رض) ددغه حدیث له اورېدلو څخه وروسته داسی وویل :

«والله ما اظن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ماقلت قط » . والله چه زه له سره داسی ګمان نشم کولای دغسی لکه چه ته وائی رسول الله ص به فرمایلی وی

(محمود بن الربیع رض) داسی یو صحابی ؤ چه (حضرة ابو ایوب رض) دده په ثقه توب کښی له سره څه کلام نه درلود خو څرنګه چه دغه دده په نزد له قرائنو څخه خلاف ؤ ، نو ځکه (حضرة ابو ایوب رض) پری یقین و نشوای کړای ، او وېویل چه « (رسول الله ص) به داسی نه وی فرمایلی ، » اګر که په «صحیح بخاری شریف» کښی راغلی دی چه (محمود بن الربیع رض) مدینی منوری ته ولاړ ، اوددغه حدیث تصدیق ئی د خپل راوی (عتبان رض) له طرفه و کړ - خو له دغه تصدیق څخه پر اصلیه مسئله باندی کوم اثر نشی لوید لای : (حضرة ابو ایوب) ته د هغو اسبابو په بناء چه د (محمود بن الربیع رض) په روایة کښی شبهه پیدا شوی وه ، پر (عتبان رض) باندی هم همغه شبهه پیدا کېدای شی . (حضرة ابو ایوب رض) د (محمود رض) خبره خلاف الواقع نه وه ګڼلی ، بلکه داسی ئی ګڼلی وه چه (محمود رض) ته به دروایة د مفهوم په پوهېدلو کښی څه اشتباه پیدا شوی وی - او دغه احتمال عیناً د لمړنی راوی په نسبت هم کېدای شی - لکه (حضرة صدیقې بی بی عائشې رض) ځینو اصحاب الکرامو رض ته ویلی وه چه : « تاسی خو د رښتینو سړیو له لوری روایت کوی ، لیکن کله نا کله له سامعه څخه غلطی واقع کېږی . »

د : کله چه (حضرة عمار بن یاسر) د (حضرة عمر رض) پمخکښ د تیمم روایت بیان کړ - نو حضرة عمر رض پری یقین ونکړ ، بلکه څرنګه چه د صحیح مسلم شریف په باب التیمم کښی مذکوردی دغه الفاظ ئی و فرمایل : « اتق الله یاعمار یعنی ای عماره له الله تعالی څخه وویرېږه ! » لکه چه څه وقت حضرة ابو موسی رض (دحضرة عبدالله بن مسعود رض) پمخکښ پر دغه روایة باندی استدلال وکړ ، نو حضرة عبدالله رض وویل : هو ! لیکن دحضرت عمر رض تسکین دحضرة عمار رض په روایت نه دی شوی (۲)

---

(۱) : په « نووی » شرح صحیح مسلم شریف کښی لیکلی دی چه لدینه معلومېږی چه هغه کتاب به د ملاطفی په شکل لیکلی شوی ؤ (لکه چه په پخوانیو زمانو کښی به خطوط عموماً د کاغذونو په اوږد والی باندی ښکلی کېدل - او یو به په بل سره نښلول کېدل او د لولی په شان سره به پېچلی کېدل .)

(۲) : صحیح بخاری شریف باب التیمم .

و : څه وقت چه د حضرة بی بی عائشی صدیقی رض په مخکښې دغه حدیث بیان کړشو چه « دخپقو له نوحې او ژړا څخه پر مړی باندی عذاب نازلیږی » نو صدیقی رض له دغه څخه پدی بناء انکار وکړ چه دغه خود قرآن مجید ددی آیت په خلاف دی :

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ
اونه اخلی هیڅ اخیستونکی بار د گناهونو د بل چا
[یا نه اخلی هیڅ نفس گنهکار بار د گناه د بل
نفس بلکه نه به اخلی مگر بار د گناه خپلی]

په همدیشانې څه وقت چه ددی پمخکښی دغه حدیث بیان کړ شو چه محمد رسول الله ص دغزوة البدر د مقتولینو په نسبت داسی فرمایلی دی : «څه خبرې چه ځه کوم دوی ئی آوری . » نو حضرة بی بی عائشی صدیقی رض وویل چه ابن عمر رض غلط شوی دی (۱) اگر که ددی روایة راوی حضرة عبدالله بن عمر رض ؤ چه مشهور صحابی دی لیکن حضرة عائشی صدیقی رض پدغه بناء ددی روایة له صحته څخه انکار وکړ ، چه ددی په نزد هغه روایة له قرآن مجید څخه مخالف ؤ .

ډیرو محدثینو پدغو مباحثو کښی دغه خبره ثابته کړی ده : چه روایة صحیح دی . اود حضرة بی بی عائشی صدیقی اجتهاد چه دهغه په بناء دی ددغه روایة له صحته څخه ئی انکار کړی دی صحیح نه دی خو مونږ له هغه سره څه کار نلرو پدغه موقع کښی یوالحی دغه بحث دی چه د صحابه ؤ په اکابرو کښی داسی خلق هم موجود ووچه روایة ئی سره دراوی له ثقه توبه پدغه بناء نه تسلیما وه چه د عقلی یا نقلی دلائلو څخه مخالف دی .

ز : یوه مختلف فیه مسئله دغه ده : څه وقت چه میړه خپلی ښځی ته طلاق ور کړی ، نو آیا د عدة په مدة کښی ددی د خوراك او چښاك او کور او اور انتظام ددی د میړه پغاړه دی ؟ یا نه ؟ فاطمه بنت قیس رض یوه صحابیه وه چه میړه ئی ورته طلاق ور کړی ؤ - فاطمه رض وائی چه دا د محمد رسول الله ص په حضور مشرفه شوه - نو رسول اکرم ص امر ورنکړ چه میړه ئی دی ته نفقه او مسکن ور کړی . کله چه فاطمی رض دغه حدیث د حضرة عمر رض پمخکښی بیان کړ - حضرة عمر رض وفرمایل : « مونږ دالله تعالی کتاب اود محمد رسول الله ص سنت د یوې داسی ښځی په بیان سره نشو پریښو دای چه د هغی په نسبت مونږ ته دغه خبره نده را معلومه چه آیا هغه واقعه حقیقتاً ددی په یاد پاتی ده ؟ او که تری هیره شوی ده ؟ . » امام شعبی رح په یوه مجلس کښی د فاطمی رض دغه روایة بیان کړ - نو اسود بن یزید په ده باندی څو گټی ورغځاری کړی ، او ورته وېویل چه ته څرنگه دغسی یو حدیث بیانوی؟ وروسته له هغه ئی د حضرة عمر رض دغه پاس قول نقل کړ . (۲)

(۱) دصحیح مسلم شریف په کتاب الجنائز کښی دغه روایتونه په متعدد وطریقو سره مذکور دی .

(۲) صحیح مسلم شریف کتاب الطلاق .

روهی ګلونه

(٥)

ټولوونکی ښاغلی خادم :

۱۷ ـ او ښکې :

څه اثر به زما او ښې په تا کاندې
لا تازه شی او ر په او ښو د کباب
« عبدالر حمان مهمند »

هومره او ښې مې بهیږی په رخسار
چه غرقاب مې هم ګرېوان دی هم کنار
په ګرېوان مې تل داوښو باران وری
نه ور کېږی در حمان د زړه غبار
« عبدا ار حمن مهمند

خدای پیدا کړم لکه او ښکې په ماتم کښ
ځکه برخه مې ژړا شوه له السنه
« شمس الدین کاکړ »

پاکوم ستر ګی په او ښو دیار مخ ته
ناروا دی په قران وهل خپچن لاس
« مطیع الله پیرخیل »

په ناولی مخ دیدن دښکلو نشی
چه خولوند نشی د اوښو په باران مخ
« پیر محمد کاکړ »

له حسرته خپلو او ښکو پرسر یوړم
محبت په شان و شکل د حباب کړم
« عبدالله پوپیلزی »

دا ورك زړه غواړم په او ښو پسې لخغلم
زخمی ښکار په پښل دوینو پیدا کېږی
« ،رزا حنان »

۱۸ ـ غم :

غم دې هسې غلبه شو په ما باندې
چه مې ځای شی نه دننه نه د باندې
له زګړوی نه مې نور خلق په عذاب شوه
تل دوچو له کبله سوزی تاندې
زه دستا په غم کښ شمعې غوندې ژاړم
ته زما په غم کښ صبح غرندې خاندې
زړه مې ستا په اوری هسی او ښزان دی
لکه زلفې دې په مخ دی ا و ښزا ندې
مادې ستا داند ښنو په غم کښ سوې
د دنیا اند ښنی واړه لکه سپاندې
داد ستور دی چه لوی غم په سړی ورشی
نور غمونه ئی همه شی تر پهولا ندې
هرچه ما په نصیحت له تا جار باسی
بیا دې ستا په اوری درومی له ماوړاندې
سره لمبه ګوره چه څه کا په وچ ډ کی
مخ دیار په ر حمان هسې چارې کاندې
« عبدالر حمان مهمند »

هسې زه یمه دیار په غم تا زه
لکه وی هره ګیاه په نم تازه
ستر ګی وخورم که ئې وچې کړم له نمه
که مې شی په دا ژړا صنم تازه
زه به څه کړم دچا چارې بی دیاره
هر سړی دی پخپل سا په دم تازه
دیار نوی نوی غم زښزوی و صل
رغوی سوی پر هر مر هم تازه
که دې زړه له غمه وچوی دلګیر مه شه
کا تبان کړی په چول قلم تازه
ښایسته یاران ګلونه دی رحمانه !
بیلتا نه کړه اکثر مړا وی کم تازه
« عبدالرحمان مهمند »

لکه غم دبختورو له خاطره — قسمت هسې له ښا دلیو کناره کړم
« عبدالقادر خټك »

تل مطیع الله ځکه سرور په دودنغمې کا — دا مشهور متل دی فریاد غم پر ښا نوی
« مطیع الله پیر خیل »

غم دیار مې په خاطر کښې محکم بیاموند — په کعبه کښې مې صیاد دحرم بیا موند
« پیر محمد کاکړ »

جای نشین وغم ته تل په انتظار کښی — د کالا پا نې بندی یم د انگریز
« عبدالله پوپلزی »

لاله افسوس کاد زړه له داغه — پر چمن ندی خاطر فراغه
کفن ئې رنگ کړ دزړه په وینو — په ارمان ویست خزان له باغه
« شمس الدین کاکړ »

گوتې چه پر نبض زماز دی هغه پرې سوځی — ځکه مې حیران شوو علاج و ته طبیت
« پیر محمد کاکړ »

۱۹ ـ رقیب :

سپی رقیب ئې کښېنولی دی په مخکښ — هر څوك ږدی کؤدی په مخکښ دپالېږ
« شمس الدین کاکړ »

عشق له عقله څخه کا خلاف کارونه — گڼه زه څوك اشنائی د زور ورڅوك
بی هنره سپی رقیب هلته څه غوښت — که ویارته رسېدای شوی په هنرڅوك
« شمس الدین کاکړ »

د رقیب وسرته وږی تږی ناست یم — پرې برئې نږدم که ئې پلار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

ماقبول د رقیب ناز کړ ستا دپاره — سوداوزیان پداجهان کښې خوراوورور دی
« عبدالرحمان مهمند »

۲۰ ـ جفا :

ستا دعشق حرفونه تورنه دی گلگون دی — هم په داچه نوشته په جگرخون دی
تش به نه شی هغه خم دعشق له میو — چه ئې خاورې د فرها دو دمجنون دی
ددنیا چارې همه واړه فانی دی — داد ستا جورو جفاو لې افزون دی
مقتولان ستا د غمزو دی لا له ندی — چه په سره کفن له مځکې رابېرون دی
در حمان دزړه خوناب مگر قبول شو — چه مخونه د دلبرو پرې گلگون دی
« عبدالرحمان مهمند »

له خو بانو چه کوم دوفا طمعه — کټوری غواړم د زانو له قطاره
« قلندر »

نن مې بیاله تورو ستر گو سره جنگ دی — پر لبانو ئې دزړه دوینو رنگ دی
که پر ېکړی سر په لاس ورلره راشم — لا په دائی باور نشی زړه ئې سنگ دی
« تیمور شاه ابدالی »

ج : بدیعی تشبیه گانې

خوله دې گل غنچه ده تور گیسو دې سنبل پانی
پښی ددی دزر کې سپینه غاړه دې دزانی
شونډې دې ژوندون بښی به ستر گو کړی خو نونه
ژ به دې شکرې ده د ننه په زړه پانی
هیڅ پری نه پو هیږم دا دې زنه که مڼه ده
خال دې دی په رنه که دا نه ده د مما نی
« خو شحال خټك »

کنډ ولی د دوا ړو ستر گو ستا په طمعه
و هر لور ته می نیو لی کو ر په کو ر دی
چه می خیا ل د تر کوو لید و په ز ړه کښ
د وا ړه کسی می و ز ړه و ته نسکور دی
« عبد الر حما ن مهمند »

مایه خوا ست وزاری خوله له یا ره غو ښته
د ه په نا ز لکه غنچه سره و نغښته
څه خو حال ز ما تر غو ږه د یار ور و ړه
چه مد ام کا پرتا خواب د ناز با لښته
محبو با پر پا لنگ وا و ښته په خو ب کښ
که هو سئی ده د بهار پر گلو ر غښته
ثمر ه د بد فر ز ند ښکنځل د پلا ر دی
پیدا مشه نا خلف د چا له پښته
« شمس الدین کا کړ »

چه له څنگه د گلرخ مې ا غیار کښېنا ست
په چشمانو کښې می گل غوندې خار کښېناست
« پیر محمد کا کړ »

آ هو چشم پر سبز ه د چمن ر ا م شو
یا پر تخت د ز مرد شهر یار کښېنا ست
« پیر محمد کا کړ »

که عشاق جنگ وجدل کاباندې څه شوه
پر گلز ار وی د بلبلو شر و شو ر
« پیر محمد کا کړ »

کوم یو له دوه ؤښه دی سپین رخسار که چنبیل گل
کوم یو له دوه ؤښه دی تور گیسو که سنبل گل
« پیر محمد کا کړ »

پر سینه د گلبد ن گر ېوا ن پا ره شو
د غنچی له چا که ر نگ د گل ښکاره شو
« پیر محمد کا کړ »

دا تو ر خط را غی پر مخ د گلعذ ار
که غالب شوه په کشمیر باندې کفار
« شمس الد ین کا کړ »

چه مې ستا د مینې د اغ په خا طر یوړ
ز ر غو نه به مې لا له شی له تر بته
« میانعیم متی زی »

میانعیم ناست دی ستا دغاړی الېلونه شماری
پکښی پراته دی هزاران زړونه پلیلی صنم
« میانعیم متی زی »

گو تې تور ې کړې په بای کړ ې دا پورې
زه حیران یم ستا د سپینو گو تو تور ته
« خوا جه محمد بنگښ »

زه دریسې درسته شپه پټ ژا ړم لکه شمع
ته صباخندان لکه گل واز گر ېوان دچایی
« علیخان خټك »

یون ئې د تد رو ، در بد ه ئې دی د سرو پېر کوی په پلپو کښې حمله ئې دسپاره ده

« علیخان ختك »

تما شا چه زه د خپل دا غو نو تل کړ م هم گلشن هم لاله زاریه لاس را کښېوت

« مر زا حنان »

د گلرخ په هوا در سته شپه ر فتن کړم دشبنم په خپر پښې پیلې سر سر تور لحم

« شمس الد ین کا کړ »

او ښې در ، ر نگ گهر با ز ده لکه لعل جنس مې ډېر ولې رونق د بازارته نشته

« مرزا حنان »

د یار خیا ل ته مې خالی کړ د ز ده غو لی مېلما نه لره تیا ر شی سرای د ستور دی

« مر زا حنان »

چه دې خیال په خا طر را شی مضطرب شم لکه پښې چه د مفلس کره مهما ن شی

« مر زا حنان »

چه تا و و ینم تا ز ه غز ل ا نشا کړ م پرې بلبلې فریاد کاندی چه گلعذاروی

« خو شحال ختك »

پر خپل لحای با ندې ولاړ یم لکه شمع تر مزل پورې رفتار کړم لکه شمع

« شمس الدین کا کړ »

وخت دی راغی دفدا که فدا کېږی شمعه بله شوه تازه پتنگه خوځه !

« جمعه بار کزی »

آفرین دې په ول ول تورو سنبلو چه ئې لحای د پا سه وینو په گلو

« خوشحال ختك »

قبیح اوملیح

که یو لحله ئې په سرور باندې کښېنې رنځ د هجر به شی د فع دبیمار

په مدار مدار به ئې کازم چه خوږ نه شی دبانو په ستنې ستاد یو ندې خار

« شمس الدین کا کړ »

دویم باب ـ اخلاق او نصایح

الف : ښه خویونه

۱ ـ اخلاق

که درنګ خوبی ئې ستایې بودیې نشته
په جهان کښ که باقی دی خو اخلاق دی
« خوشحال خټک »

په خو یونو کښ ډېر فرق دی
که سړی پرې خبر دار شی
ځینې هسې خوی آغاز کا
چه خپل هم ځینې ویزار شی
ځینې هسې خوی آغاز کا
چه پر دی ئی خد متګار شی
که څوك خپل خصلت دښو کا
تر سرو زرو به رویدار شی
« خوشحال خټک »

ثنا د ګل شی له ښکلیه بویه
صفت د مرد شی له نیکه خویه
اهل به نه کا ستاینه هیچیرې
د ګل له رنګه د مرد له رویه
« عبدالقادر خټک »

چه ګل همت ئی خوراك لباس وی
په تحقیق هغه ار ذال الناس وی
شرف په خوی دی په دیانت دی
که څوك شریف وی یا څوك کناس وی
« عبدالقادر خټک »

په ښه خوی دسړی قدر قیمت کېږی
بد خصلت سړی یادیو دی یا پېری دی
چه ئې علم وهنر نه وی ځنې تښته !
بی هنر سړی که وګورې لاشی دی
« خوشحال خټک »

په ښه خوی باندې پردی عالم خپلېږی
په بد خوی باندې خپل واړه شی سوا
« قلندر اپریدی »

که دې رنګ، بو، لطافت واړه دځان کړل
نور د ګل په څیری پاس په دستار ګرځه
« فاضل »

دښه خوی ګټه ده ډېره
له ګڼلو تراند تېره
هغه څوك چه اخلاقی وی
د هغه نوم به باقی وی
که دچا اخلاق ښه نه وی
د هغه به ژوند ښه نه وی
د اسلام دین دی راغلی
پیغمبر دی پا څېدلی
چه پوره کی ښه اخلاق
او پر ځای کی دا میثاق
په خویو انسان انسان دی
که نه وی خوتش حیوان دی
مکارم انسانیت دی
ر ذائل حیوانیت دی
« عبدالکریم کاکړ »

هر طرف پرې سره ځمکه سره پنډه شي
رب دې مکړه د اخلاقو پله سپکه

په نسب که خان ، نواب قاضي قضات وي
بد اخلاق سړی نه ارزی په کنجله

« احمد گل لسلمی » .

لکه کښت لره باران اوباد په کار دی
د عالم تولی په خلق په احسان شي

« خوشحال خټک »

۲ - په ځان باور « او » همت :

چه فلک سره سر باسي
په همت کښې هغه زه یم

کړه ئې ندی بی حکمته
زه خوشحال دده په کړه یم

« خوشحال خټک »

په تېرو تورو ور درومي یکر نگان
په لمبو باندې ځان ولی پټنگان !

د کنجکو قدر یو ، د در ویل دی
ننگیا لو سره څه ژوی بی ننگان

ار تگی د زړه دلیل د جنتی ده
د دوزخ دا ور لایق دی دلتنگان

د باد شاه په سلطنت پورې خندا کا
په سپېرو ایرو لړ لی ملنگان !

نور ماهی ئې تار په تار درومی له مخې
ما توی لو لې بېړی نهنگان

دهاتی دپاسه سپور ورته پیکه وی
چه د میو پیالې آخلی سر هنگان

څه د ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پر هار ژ لی پلنگان

« خوشحال خټک »

چه په غوښو ئې روز گار هغه زمری یم
نه چه ولې ئې خوراک هغه مزک یم

که عالم راته کل تا وکاغم مې نشته
په رېښتیا ویل د ډېرو پو لیو لک یم

په دانش په شعور نده په همت ده
چه دا هسې سر گردان لکه پټک یم

هر پښتون چه د مغولو نوکری کا
که دی زر ، د هغو واړو بهترک یم

چه منصب مې د مغل خوړ یو ملک وم
چه منصب د مغل نشته اوس ملک یم

د فرمان د پروانې حکم ئې نشته
شکر داچه په خپل حکم په خپل وک یم

نه مې کار په خاص وعام نه په دیوان دی
نه په درو لاړ د هر یو ه مردک یم

نه تصدیق شته نیادداشت شته نه توجیه شته
نه په فکر د سند نه د دستک یم

هر گیدی به چه له ما سر کوزی غوښته
د هغه د سر یا توره یا کوتک یم

پښتانه لره شړی اندېر مې بس دی
نه په فکر د مسندنه د توشک یم

آزادی ده په ساده سپینه جامه کښې
خلاص دغمه د زر بفت اود میلک یم

د وښو جونگړې هسې راته ښې شوې
وایی ناست په محلونو د آهک یم

که او گره د بټو شته په شړو مبو سپینه
د مغولو پولاو پاتې ډېر پرې ډک یم

چه نیولی مې داهوډ دننگ ونام دی
که له خپلو هوډه وا وړم کنیزک یم

په بل غشی توپک هیڅ ویشتلی نه یم
که ویشتلی یم خو بیا په خپل توپک یم

چه شهپر مې بټی خپل وو کنډ کپرشول
پر وا دار په لنډو پرونو دبارک یم

د کریز بڼې مې توئې لکه باز کړې
گمان مه مکړه چه بی پرو ښا پېرک یم

تف په ژیره د همه وا ړو بار کو
لا زما په ژیره هم که زه بارک یم

که دواړو پښتنو را ته تسلیم دی
زه خو بیا دسباکیء انا خشتک یم

نن خو قام را سره ډېره جفا و کړه
کانده بیا د خدای وحکم و ته څک یم

که څه حق یا دنیکی یا دوروری شته
و پا داش وته په طمع د هر یک یم

مهمندی زما دګډی لاس او پښې دی
راضی من دافرید یو په کومک یم

ډېر چینی چه تراوش و کا دریاب شی
چه لیده شم اوس خود ایم یو بولک یم

کر لانی څړ بنی څو چه پښتانه دی
زه د ننګ په کار دواړو مشترک یم

که مې عمر په شماره تر شپیته تېر دی
لا په کار د سواریء لکه از بک یم

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی دزمانې خوشحال خټک یم

« خوشحال خټک »

❁ ❁ ❁

حواله مې په تیشه د فرهاد ښه ده
تر هغه چه نا هموار لکه خا را یم

تر هغه چه سرد جوشی د حنا وینم
خو ش په طور دسمک بې دست وپا یم

« کاظم خان شیدا »

بار دهر خس و خاشاک په خپل ګردن زده
حو صله دې په مثال د لوی دریا کړه

« کاظم خان شیدا »

راته یو دی بحرو بر
که څه سمه وی که غر

په همت به ئې تسخیر کړم
په شا ها نه شا ن وفر

« احمدشاه بابا »

ای مرزا په خپل اختیار له ځایه پاڅه
دون همت اندېښه مکړه بله بله

« مرزا خان انصاری »

که فلک ئې دزمری په خوله کښې ور کا
خدای دې نه کا چه عارف پکښې غارت شی

« خوشحال خټک »

ځه هغه شهباز څه چه دې ځای په سردرو وی
نه لکه د کلی کارغه ګرزه غم دښ کړه

« خوشحال خټک »

که ئې ته په منت مومې وائې مه خله
که دچا په باغ کښې بوټی د کیمیا دی

« خوشحال خټک »

سردې درومی مال دې درومی پت دنه ځی
د سړی د چارې کل خو بی په پت ده

چه یی خدای ور کاو چاشکرد کاندې ندې
په جها ن کښ لو یه بخره د همت ده

« خو شحال خټک »

علم تا بیائی په پورته جهل تا بیایی په ښکته
یا عیسی اره وردرو مه یا قا رون ته ځان سپاره

د نباتو حلوا مه خوره چه منت ورسره مل وی
خپل کشکاب د خپل محنت خوره په سر راوړه پشتاره

« خوشحال خټک »

❁ ❁ ❁

هغه زیست چه د عزت له مخه نه وی
چه یی کا په هغه زیست پورې هک پک یم

اوریی پوری په منصب په نوکری شه
چه تر فهم و تر نظر د مغل کک یم

په خپل نام ونګ چه را شم لېونی شم
خبر دار کله په سود او زیان دلګې یم
چه په طمع د او د و ز غلی و شست ته !
ګمان مکړه چه هغه نا پوه سمک یم
تر قضا پو ر ی د هیچا چا ر ه نشته !
او کنه تر زاړه ذنب لا ز یر ک یم
لکه باز په لوی اوی ښکار زما نظر دی
نه چه ګرځی ګونګټ نیسی بادخو ر کې یم
« خوشحال خټک »

• • •

که دجام لکه حباب وه نه نیو سیند ته
آفرین دې په همت شید ا خټکه
« کاظم خان شیدا »

• • •

په خو غره په غره دباز غوندی پرواز کا
بیا به وا ئی د خو شحال خټک پرنشته
« خوشحال خټک »

ساقی جام دمیو مه پر پنز ده له لا سه
خو دعقل خه زړه وی لا په مست کښ
په بلند همت کښ پورته پورته در ومی
ښکته ښکته ځی سړی په پست همت کښ
«خوشحال خټک »

چه همت د سړی خو قد ر ی هو مر ه
د تمیز په تله هر سړی تا له شی
د و لتمن سړ ی هغه بلمی بو یه
چه له سینده ئی جدا د چا واله شی
«خوشحال خټک»

نو ر ه پښتو نخو ا ه په ځا ی میشته د ه
خو یو زه دی زمانی په کښ منصور کړم
که یی درست دمتو زور راته ښکاره کړه
نه به بیا په قوم کښ کښېنم نه به هور کړم
عجب مار می جا ر وتلی تر دوه پښو دی
مګر لوی پاړو پیداشی چه په دور کړم
مست ها تیان خونی زمری په زنځیر کېږی
بو یه دا چه ځان فلك وته تر بور کړم
په خپل ا ه مې باور شته اثر به و کا !
ر قیبا ن به او ر لړ و نی دتنور کړم
یو دوه سړی مارمی پروت په دواړو پښو دی
په دیدن یی له نشا طه نه نفور کړم
«خوشحال خټک »

کار په خپله تر دستی لکه حباب کړ ه
چه محتاج دخیاط نه شی پیر هن ته
« کا ظم خا ن شید ا »

د با ښی دباز نصیب شوی تا ز ه غو ښی
دوچ در بو بیخ نصیب شود سپر کندي
« مطیع الله »

وزی تیزی پروت په خپل پوز کی ښه ئې
نه په تخت دپا سه نا ست دبل کړ ه
دمنت پو لا و د ې ز هر شه که ئې مومې
د محنت سو ی سکړك د ساګ سره
« عبد الحمید مهمند »

که د توان رسی په لوی دریاب کښ ګرزه
په بیله کښ د ې زو ا ل ویښم نهنګه
عاقبت به ککری ور با ندی کېږ دې
تر خرا غ چه کېږ و ښی ګرځی پتنګه
هغه یار که په پا لنګ را سره نشته
داهم شکر چه ئې بوی لحی له پا لنګه
دعمزې په تیغ ئې خوږ ښه ئې خوشحا له
مر نی په روغ صورت نه لحی له جنګه
« خوشحال خټک »

که هو ئې پسې وهي په لاس به در شي
چا وی دا چه په دریاب کښې گوهر نشته

که دچنگ په کار کښې دبر دی خکمتو نه
خو صا بر نشي ز لمبه ظفر نشته

خه هجبه بادشاهی لکه خور شید کرم
یکه تنها په جهان گرزم لشکر نشته

د منت دارو که مرم په کار مي ندی
که علاج لره مي راشی مسیحا هم

« خوشحال ختک »

راشه گوره نامردان بلا وهلی
د بری میدان پر یښو دی لاري تې زغلی

د آسمان د پاسه گښت نندار ه نکاه
کوز د لمکی د تلی په مینځ کښې ملی

مرهغه چه نه یې نوم نه یې نشان شته
تل تر تله په ژوندون پاتې شا غلی

خوك په خپل پټی کرل کا د اغزیو
چا په خپل پټی گدو نه دی کرلی

پسینه کرنه هو مره فائیده نکا
چه په وخت کرنه و کا بر آ خلی

چه محنت په لمان قبول کا راحت موی
رنج و گنج سره دا دواړه دی تر لی

« خوشحال ختک »

بنیاد د چاري په مصلحت دی
بیا د مرد انو په ښه همت دی

چه سره یو شی دا دواړه تو که
واړه دولت دی حرمت عزت دی

« خوشحال ختک »

مردان هغه دی چه همتناکه وی
دننگ په کار کښې چست و چالاك وی

کار چه آغاز کا انجام ئې فرض گڼی
په زړه هم پاك وی په خوله هم پاکوی

« خوشحال ختک »

چه په خپل دخپلو وینو سر خرو گرزم
خه منت به دد و نا نود دینار کرم

چه په وازه خوله مونده شی مه یی وینم
که صدف فوندي حاصل در شهوار کرم

« عبدالقادر »

که دمخکی فوندي کوز په تواضع یم
په همت تر واړه پاس لکه آسمان یم

« عبدالقادر »

چه همت دي دتیوس دی لمان بازمکړه
لمان په رسم د جانباز و جان باز مکړه

« عبدالقادر »

هر سړی په موافق دخپل همت نظر لرینه
په ورو چاروهیڅ کله کا نه نکاندی لوی چاری

« عبدالقادر »

مردان هغه دی چه همتناك وی
په هره چار کښې چست و چالاك وی

چه غم پسري راشی پروا دغم نه کا
خوازه له هر چا په زیست وژوا ك وی

« خوشحال ختک »

چه په شان د آفتاب ندی گرم رو په
ستا په سر کی په سایه دهما خو ښ یم

« کاظم خان شیدا »

چه همت مي نه کا ډېر په هسکو او
لکه موج نکړمه بیم له پر یو تلو

سوال مي خوی له در افشانه ابر ندی
صدف ورانه خپله خوله کړه په غوښتلو

د آفتاب په کمند نه خپژم آسمان ته
ه زدم بار لکه شبنم پر دوش د گلو

« کاظم خان شیدا »

٣ـ امید :

د شپې څښتن دې سحر ته ګوري
هیڅوك دی طمع امید پرې نه کا

له مقصوده نا امید مشه یکلخته

دادستور دی چه شپه و لوېږی په ځمکه

په ژوندون به لکه شمع دلسرد نه شم

هر ګره ګره کشالری نیکبخته

٤ عزم اوتوکل :

دهوشیارو نادان هومره تفاوت دی
که په ما باندې څرخ خوری پروایی نکړم

نه رسی تریاره هرچه ډېرې اندېښنې کا

هغه باغ چه تل ما واده دبلبلو
دزړه راز و چاته ووایم حیران یم
توکلت علی الله و ینا یوه ده

په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شی

٥ ـ جد وجهد :

په طلب کښ دې سستی وینم درویشه
نعمتونه رنګارنګ دی په هر لوری
څو طلب هومره موندل دی په دادور
د عسلو خوازه کله هغه مومی !

غشی چه ډېر ولی ښه تیر انداز شی
کار د محنت دی د مشقت دی

هر مرغه چه دبل غوښی خوری مردار دی
دذرې په څیر دلمر په طلب ګرځه
کار په تش لستونی نشی بې دلاسه
چه تقوی د یانت نلری رحمانه

ګوندې پرې و خېژی د صبا سوری
باران په تېز و کښتو نو اوری
« خوشحال خټك »

خدای په ځمکه کا مرغونه د هوا پېښ
« عبدالحمید مهمند »

په شتاب ور پسې صبحدم راځی
« عبدالحمید مهمند »

چه تر مرګ پورې زما جانګزاری ده
« کاظم خان شیدا »

نا امید له خدایه غوټه جبین مه شه
« عبدالرحمان مهمند »

څو دځمکې د آسمان په مینځ کښ وت دی
دهر هر کله دانا سره په نښت دی
«خوشحال خټك

نورې کیسې پرېږده دعشق په توکل هسې
«خوشحال خټك»

اوس په ده کښ د بلبلو آواز نشته
په هر لوری چه نظر کړم همراز نشته
د خوشحال دزمانې سره ساز نشته
«خوشحال خټك»

جمعیت مومی خاطر له توکله
«عبدالقادر خټك»

چه و تلی یی ددې خونې له ویشه
په غښتونی با ندې نده جفا پېښه
بلکه لا تر طلب بخره مومی بېشه
چه حذر کا د مچی له بده نیشه
« خوشحال خټك»

چه مشق دخط کړی وخط ته سازشی
ورو، ورو، په هر هر هنر ممتاز شی
«خوشحال خټك»

ځان حلال کړه لکه زانه شاهین مشه
لکه تیږه هسی پروت. په زمین مشه
لاس په توره کړه بې لاسه آستین مشه
د دې هسې همنشینو نشین مشه
«عبدالرحمان مهمند»

چه زمری خپلی منګولی نه کا کښلی
هومره نه وی څربې غوښې ورته تلې

مرجونړا درو مرجان هله ولجه کا
چه قبول کاندی د بحر خونی چلی

عاشقان چه ترسر تېرشی هله ښکل کا
د دلبرو پستې خولې لکه نجلې

بازچه والوزی له جالې هله ګوری
د کبکانو ښایسته سترګی کجلې

چه داور بڅری یاد سره رفیق شی
بیا هاله کا په ملکو نو لمبې بلې

چه سیلاب دغره دسره نه روان شی
بیا هاله بیایی په مخ ډېرې خځلې

«خوشحال خټک»

❀ ● ❀

په تحصیل پسی یی ځکه کوښښ بویه
خپل منر له لاسه مه پرېږده خوشحاله

«خوشحال خټک»

چه ترده ترخه قبول لکه دریاب کا
هم هغه د قیمتی د رو ماب شه

چه لمبه یی د آتش کره په ځان تېره
له غه پسه د ګلا بو ګل ګلاب شه

د کمال کسب پا یه دسعادت ده
هغه ښه چه د کمال په اکتساب شه

ته هم زړه مراد وغواړه له عمله
چه په علم یی عمل وکړ کامیاب شه

«خوشحال خټک»

ښادی غم غوندې آسانه موندنه شی
سور په خپلو وینو لعل د بدخشان دی

«عبدالرحمان مهمند»

ژرنده هله څه حاصل کاندې چه ګرزی
یو زمان قراری مکړه له طلبه

«عبدالقادر خټک»

له آزاره چا بازار موندلی ندی
له انګاره چا ګلزار موندلی ندی

تلوار مکړه په خپل وار به برخه درشی
بی له واره چا خپل وار موندلی ندی

په قصور مطلب موند نه شی پسی پاسه
له ګفتاره چا کردار موندلی ندی

«مطیع الله پیرخیل»

کار کوه کار، په کار هم کار دی
تاوان په ځان باندې خالی ګفتار دی

عقل څه بل دی خبرې نور څه دی
ګو تره ګونګه طوطا طرار دی

«عبدالقادر خټک»

لکه عامل شوه د خا ورو لاندې
عمل هم ورک شو په مځکه باندې

اوس په خبره پرول و ډل دی
دا بیت بازی دی عالم یی کاندی

«عبدالقادر خټک»

کله به لا درومی له ما اې دسحر خوبه!
خوب بیغمه نه کا چه په مځکښ بی منزل دی

«عبدالقادر خټک»

چه منت په ځان قبول کا نو راحت شی
چه عارف د مصیبت شی عافیت شی

«خوشحال خټک»

٦ـ صبر او استقلال :

غشی چه ډېر ولی ښه تیر انداز شی
چه مشق د خط کړی و خط ته ساز شی

کار د محنت دی د مشقت دی
ورو ورو په هر هر هنر ممتاز شی

«خوشحال خټک»

مرتبې د هر چا ندی سره سمې
ته چه لا فی د مردانو د میدان کړی
که همه خلق یی سر شه په غندنه

د مرد چه صبر چه استقلال نه دی
مردی یی هیڅ ده و زما په پوهه

اضطراب به دې خلاص نه کاله قضا نه

په تاکه راشی خادثه لو یه
ته به یی دفع په صبرو کړی

صبرو نیسه په خکښ که مراد غواړی

ای حنانه صبر و کړه مراد به مومی

خلاص به نه شی سرکشان له گوشمالی

دا نا یی مه گڼه چه صبر نه لری
سړی د صبر په کار کښ و زمیه !

صبر ناکو سره جور فلك نه کا

ژوندی که گرځی ځان یی ژړلی دی
چه صبر نه لری ظفر به نه مومی

شورش مکړه د گردون له کش مکشه

دخره بار د فیل په شا باندې مثقال دی
په میدان دی کوم راوړی استقلال دی
بیچاره خوشحال په خپل هنر خوشحال دی
« خوشحال خټك »

چه غم پرې راشی پکښ خوشحال نه دی
که یی په جاه ودولت څوك سیال نه وی
« خوشحال خټك »

مستقل و ر ته په صبر و تحمل شه
« عبدالقادر خټك »

تېښته تسلیم صبر ته بو یه
نه په لښکر و په زر او زو یه
« خوشحالی خټك »

هیچا کړی دغه کار په شتاب ندی
« عبدالرحمن مهمند »

د فلك ژر نده په وا رده پس ز پیش
« مرزا حنان »

چه فلك په جهان شته دی تلوار مکړه
« کاظم خان شیدا »

چه صبر نه لری حکمت به څه لری
چه صبر ناك وی هر څه به ښه لری
« خوشحال خټك »

د فلك جور د چا چه سبکسار و
« خوشحال خټك »

تو ر زن د سر په وینو لړ لی دی
ظفر له صبره سره تړ لی دی
« خوشحال خټك »

لومه کلکه کا مرغی له اضطرا به
« اشرف خان هجری »

۷ـ دوخت اهمیت :

دو باره دې را تله نشته په د نیا
هره چار چه تروخت تېره شی عنقاشی
تر ورځ تېری او به بېرته نه جار وزی
تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی
هره نښه چه صحیح گڼه په زړه کښ
په عمل د نیکو بدو فهم و کړه ...

نن دې وار دی که دروغ کړی که رښتیا
عنقانه نښلی په دام کښ د هیچا
نه جار وزی تېر ساعت به بېرته بیا
مړی چاری ژو ندی کړی په ژړا
په غرور به هغه نښه کړی خطا
چه په دا کښ دې بهبو د دی که په دا
« عبدالرحمان مهمند »

چه بی‌وخته ارمان کا په وخت ویده وی
د هغه عالمو ز ېرې د و ښکو دی
« عبدالرحمان مهمند »

که ډېره سعیبه کوښښ کړی څه شی
په وخت چه نکړی بی وخته څه شی
که هر څو مټ په بېړی ملاح کا
په ټانګ چه کښېوزی پورې هاله شی
« عبد القادر خټك »

آبشاره ! ولی دا هسې ژاړی !
له چا فریاد کړې څوك بسی غواړی
که تل فریاد کړی په کانی سروهې !
بیا به را نشی او به چه لاړې
« عبدا لقادر خټك »

کړل دی ویل دی دواړه اوان لری
چه وخت یی تېرشی افسوس ارمان لری
چه کار دنن ورځې پرېږدی صباته
هو ښیار به نه وی دا خوی نادان لری
« خوشحال خټك »

۸ - زړه

ښه سړی پردی په دلاسا په نیکی خپل کا
کومه ښاغلتیاده چه څوك بد کا زړه دیار خپل
« خوشحال خټك »

یو زړه دخوشحال ندی چه جهان یکښ لیده شی
دهر چا زړه مر آت دی صفائی ورا ره بویه
«خوشحال خټك»

دواړه کو نه لکه تن دی
کار د تن جوړ وی زړه
زړه یی چون او بیچگو دی
څوك دا غو ښه گڼی زړه
«خوشحال خټك»

څودې زړه خاندی خوله دې خندا کا
چه زړه دې ژاړی ستر گی ژړا کا
مدار دهرې چارې په زړه دی
زړه دې مفتی دی هره فتوې کا
« خوشحال خټك »

دناز کدلو اطوار مشکل دی
په دا به یوه شی هر چه عاقل دی
مر هم یی نشته گنډل یی هم لا
که زخمی شوی د مینا دل دی
« کاظم خان شیدا »

منبرو سوځه په اور کښې شراب وڅښه
در ته وا یم خود زړونو آزار مکړه
« عبدالرحیم هوتك »

که هزار ځله تقوی پرهیز گاری کړی
ښه دې نشته چه مدام دل آزاری کړی
«عبدالرحیم هوتك»

قلب د دمومن گوره ملقب په عرش الله دی
زار دازار جویو چه دزړه په بازار بلوسی
« دالیوری حافظ »

چه دزړ ونو دنما نځلو ب پروا وی
ترو که زړه دسړی یوسی څه پکار
« عبدالرحمن مهمند »

و گړی واړه کارونه خپل کا
مردان هغه دی چه کار دبل کا
څوك چه آرام گټی دنیکو نام گټی
د خو زو زړو نو دارو به تل کا
«خوشحال خټك»

نه سره سم دی واړه مړو نه !
نه سره سم دی دهر چا زړو نه

زړه هم هغه گڼه چه لکه غرشی
که باندې راشی هزار غمو نه

«خوشحال خټک»

مرهم په زړه زده په پر هارونه
دا نا به گل کړی نادان خارونه»

په هره سوړه لاسونه مه منډه
پکښ به خوب کا خونی مارونه

«خوشحال خټک»

زړه دی دهر چا سره صفاوی
په چا گرم مه شه که دې رضاوی

که خوک ناحقه لتا پرخاش کا
اندوه ئې مکړه ظفر به ستاوی

«خوشحال خټک»

په بدن کښی دزړه اهمیت

زړه په مثل د پادشاه دی
هر اندام د ده سپا دی

ټول د ده فرمان بردار دی
دی بادار دوی خدمتگار دی

کل اعضا یی مسخر دی
د ده حکم ته مضطر دی

په فرمان یی خوله ویل کړی
لاس نیول ، سترگی کتل کړی

په بدن کښې گوشت پاره ده
چه کو چنو تې یی جثه ده

چه وی راست شی راست بدن شی
چه فاسد شی فاسد تن شی

پس چه شو صلاح فساد
تمامی په زړه بنیاد

ته مدام اصلاح درړه کړه
په هیڅ وخت غفلت مکړه

زړه په مثل گنجینه ده
د گوهر و خزینه ده

ډېر پکښې دی جواهر
قیمتی نفیس نادر

اول عقل ښه گوهر دی
د جمله نعمتو سر دی

بل گوهر یی معرفت دی
زیات تر نورو په قیمت دی

نور علمو نه حکمتو نه
واړه دی لوی نعمتو نه

چه زړه هسې خزانه ده
د گوهر و گنجینه ده

پس لازم یی ده ساتنه
له جمله ؤ غلو رهزنه

چه دښمن یی تالانه کا
جواهر یی یغمانه کا

«حبیب الله کاکړ»

چه غرقاب شی نور مژگان په نم دزړه
نور خراب شی خانمان په دزړه

عبث وای غم دزړه وبو الهوس ته
څه پوهېږی هلکان په غم دزړه

په بل مخ باندې سوا د یار له مخه
ما تړلی دی چشمان محکم دزړه

چه یی عرش او کرسی لاندې تر قدم دی
بالا تر دی هسې شان قدم دزړه

دخلیل له کعبې ۱۰ کعبه ده لویه
که آباد کا څوک ویران حرم دزړه

که نور خلق قدمونه ږدی په مځکه
مادی ایښی په آسمان قدم دزړه

دامکان چه د آسمان مځکی ترمیان دی
یو خلوت دی دامکان سلم دزړه

زه مرهم دزړه له چا غواړم بی یاره
چه کړی نشی طبیبان مرهم دزړه

صورتی همدان ډېر دی په دنیا کښ
ولې نه مومی رحمان همدم دزړه

«عبدالرحمن مهمند»

همیشه یه خدای د شکر شکایت کړي!
منکر ښځی یه عطا د سبحان و لي!
در بښلی خدای دهري چه ري توان دی
یه دیر توان کښ خپل ځان بولي ناتوان ولي!
زده دنفس یه پیروی در خخه لاړو
د خبیث یه لاس دي ور کړو قرآن ولي!
« رحمان »

بنګه شراب سرود کوه عبدالقادره!
خو یو مګره آ زرده د مسلمان زده
«عبدالقادر»

مرده دل دي له تنره زده بیرون کا
یو ساعت یه کور کښ نه پر ښځدی خوک مړی
جمعیت چه لدنیا یه د نیا غوا ړی
هغه غړی یه معنا د شګو پړی
«عبدالقادر»

هر خوک چه یو کاز زده خوله خپل دواړه
دو یم یه نیت شی ثابت له واره
که کمی ورغی یه دین د نیا کښ
تاوان یی واړه وزما یه غاړه
«عبدالقادر»

هغه چه ستادی چه یی سائل نکړي
ویره مي کښځی چه یی دبل نکړي
که دادي خوی دی دادي خصلت دی
خپل یه پردی کړي پردی یه خپل نکړي
«عبدالقادر»

چه زده له تا نه دچا ښه کښځی
ښه کړه د عا کښه د عا قبلیږی
ازار د هیچا د اخستو نه دی
ښهری د خو ږ و زدو نو لګیږی
«خوشحال ختك»

لتو مه کنج دزده یه ویرانه کښ
پر و انلر م د شهر یه عس
«شمس الدین کاکړ»

زده ولاړ شو اوښی یو وار یسی ولاړ ښی
لکه چیر ته لښکر دروی د سلطان درست
« مرزا حنان »

زدو نه مه ماتوه لعل د بد خشان دی
یا مشکل دی ر غول د شکسته ؤ
« خواجه محمد بنګښ »

چه بهتر تر در ګوهر دی هغه زده دی
چه پراخ تر هر کشو ر دی هغه زده دی
مکرم یه مخلو قاتو کښ انسان دی
یه انسان کښ چه بهتر دی هغه زده دی
کم یی مه بو له بیحده مشرف دی
چه د خدای باندي نظر دی هغه زده دی
دمکی حج خو موقوف یه یوه و خت دی
چه مدام حج اکبر دی هغه زده دی
که هر خو یی صفت و کړم خه به و کړم
چه تر حد صفت بد ر دی هغه زده دی
د زده شان خو یو بیحده عالی شان دی
چه تر دیر خوبو خوبتر دی هغه زده دی
سرچشمه د معرفت د لوی در یاب دی
چه محل د در ګو هر دی هغه زده دی
خه سیالی به نیشکر ور سره کاندي
چه شیر ین تر نیشکر دی هغه زده دی

دا د خولې په ویل حکم دقاضی دی
چه مقبول دخدای په در دی هغه زړه دی

چه ظاهر وباطن دواړه پرې رو ښان دی
چه دا هسې بلند لمر دی هغه زړه دی

هیڅ اشیا یی لد فتره بیرون نه دی
چه د درست جهان دفتر دی هغه زړه دی

زه نبی به یی نن کم هنر بیان کړم
چه منبع د هر هنر دی هغه زړه دی

« عبدالنبی »

دلجو ئی به دې تمام وګړی و کړی
که ته هم د د لجو ئی په جستجو ی شی

« قلندر »

داپند له مانه په زړه کښې یاد کړه
خو دې لاس رسی مروت داد کړه

زړو نه د هر چا په احسان ښاد کړه
آزاد بنده کړه بنده آزاد کړه

« عبدالقادر خټك »

۹ ـ ژبه

فولا دی تو ره وی که لو یه تبه !
تر دا لابده ده بد گو یه ژ به !

ډېر یی بلا به د ر څخه وا وړ ی
ژبه که بده کړې د پند طا لبه !

« خوشحال خټك »

په واك چه نه لری په کام کښ ژبه
که گنگ شی ښه دی په لو یه تبه

په بده ژبه ځا ن ځی جها ن ځی
ایما ن لا هم ځی وما وره طا لبه !

« خوشحال خټك »

خوږه مړی ده که خو ږه ژ به !
چه څولا پرې خپل کړی زما صاحبه

هنر هم دادی که دا هنر لرې
چار به دې تل وی تر سیا ل غالبه

« خوشحال خټك »

که هر څو تېر یې تر صحبتو نه
علم اد ب لر ې فصا حتو نه

لا به په ژ به ډېر فهم و کړ ی
د ژ بې د ېر د ی قبا حتو نه

« خوشحال خټك »

ژبه عا دت کړه په ښه و یلو
چه دې عا د ت شی هغه تر تلو

که یی عادت کړې په بد گو ئی
مخ به دې تور کا تر پر دو خپلو

« خوشحال خټك »

په مر هم دخوشامند سره روغ مشه
هغه زړه چه پکښی تیغ دزبان کښېنی

« پیر محمد کا کړ »

په مجلس کښې دمهرو یو ځکه ژاړی
شمعې هم ښکا ره کو له بله ژ به

« عبدالله پوپلزی »

هر سړی چه شی گویا لکه قلم
سر به یی شی له تن جدا لکه قلم

« عبدالله پوپلزی »

درست عالم په داخبره خبردار دی
چه بلبله خپلې ژ بې په قفس کړه

« خوشحال خټك »

د نولسمی پېړی نښې

رجب‌خان ویل چه‌خلك وایی شلم‌قرن یاشلمه پېړۍ ده خوزموږ په‌هواد کی لا د نولسمی پېړۍ‌نښې دومره ډېری‌دی چه‌هډو ثوك نشی کولای چه دلته به شلمی پېړۍ مخ را شکاره کړی‌وی. رجب‌خان دنولسمی‌پېړۍ نښی‌داسی شمېر لې :

۱: دلورغوښی خوړل ـ یعنی‌دنولسمی پېړۍ په‌سر کی چه کم ناقص‌دستور اورواج اینبود شوی‌دی چه‌پلار به‌دلور ولور پخپله کېده کی اچوی، تراوسه لاروا ج لری .

۲: دمامورینو مأکولات ـ داهم دنولسمی پېړۍ دمیرزا کهو دوخت یوه نښه ده، چه هیڅ تغیرئی نه‌دی‌موندلی، هغه پنځه څلوینښت پوله دی چه اوس نیمه وچه ډوډۍ هم نه پکېږی کوره چه لا به تر کله وی ؟

۳: لوې‌پرتوگونه: داهم دنولسمی پېړۍ خورا څرگنده اوبرجسته نښه ده، تعاونی دیپو دسړی برسر شپږمتره توکر ورکری، مگر ځینی زلمیان ددوو تنو دکوپون له برخی څخه یوپرتوگ جوړوی، چه داهم په شلم‌قرن کی هیڅ‌مناسبت نلری .

٤: دښارو توری تیاري کوڅې :زموږ دهوا دپرهرښار کی عجیبی غریبی تاریکی اوتنگی کوڅی سته چه د نولسمی پېړۍ عمرا نات ښه ځینی څرگند پېژی او شلم قرن په هغو کوڅو کی لار نشی موندلای او ورکېږی .

۵: دخولې نسوار کول : داهم زموږ دهواد دنولسمی پېړۍ یوه لویه او مهمه ممیزه ده حه‌په‌شلم قرن کی دتېر قرن نمایندگی کوی .

٦ : ددیوالونو بیخ‌ته مېژل: داهم خورا لویه نښه ده چه‌زموږ و گړو له لاسه نه‌ده ایستلې اودهرښار په‌تنگو کوڅو کی ددیوالونو بیخ مېژل اومرداری کول دتېری پېړۍ میراث دی خدای‌دی دبلدیی ریاستونه هم‌لری چه دخلکو دحاجت درفع دپاره هېڅ ځایونه نه جوړوی .

بالاخر نولسمه پېړۍ لاڅه، که دبیټ نیکه دوختو یو سړی له قبره را و پاڅی او زموږ کارونه او رواجونه وگوری چه به پوه نشی چه زمانې بل رنگ موندلی‌دی، بلکه خیال به‌وکړی چه همهغه دبیټ نیکه زمانه ده . (الیزی)

اوه ! اوه ! تکس ! خېستل نه دی ، تیار « سر شکونی » دی ؟ !

دکانلری عمومی مطبعی کسی چاپ شو